هرگاه صغیر مرتکب قباحت گردد محکمه می تواند در عوض جزاهای مندرج این قانون صغیر را در مجلس قضاء توبیخ نموده یا تسلیمی اورا بیکی از والدین یا شخصیکه بر نفس او حق ولایت دارد ویا شخص امینی که حسن تربیه اورا در آینده متعهد شود حکم نماید ویا اینکه به حجز او در دارالتأدیب یا مؤسسات خیریه و یا مدارس اصلاحیی که از طرف دولت به این منظور تأسیس می گردد حکم نماید.

پنځه اویایمه ماده:

کـه صـغیر د جنحـی ارتکـاب کوونکی وګرځی محکمه کولی شی چه د هغه په باره کښې د راتلونکی تدبیرونو څخه د یوه څخه استفاده وکی:

۱- ددې قـانون د (۷۴) مـادی منـدرجو اشخاصـو تـه د هغـه تسلیمول په دې شرط چه ذکر شوی مـوده ددری کلـو څخـه زیاتـه او دشپږو میاشتو څخه کمه نه وی او تسلیمیدونکی شخص به په لیکلی توګه تعهد کوی چه په راتلونکي وخت کښې به د صغیر ښه تربیه کوی.

۲- پـه دار التأدیـب یـا پـه یـوه اصـلاحي مدرسـه کـښې دشـپږو میاشتو څخه تر دری کلو پوری د هغه حجز.

شپږ اویایمه ماده:

۱- کـه صـغیر دداسـی جنایـت ارتکاب کوونکی شی چه جزأ ئی اعـدام یـا دوام لرونکـی حبس وی محکمه کولی شي چه د هغه دحجز په دارالتأدیب یا خیریه مؤسسو او یا په اصلاحي مدرسو کښې حکم

مادۀ هفتاد و پنجم:

هـرګـاه صغیـر مـرتکـب جنحـه گـردد مـحـکمـه مـی‌تـوانـد یکـی از تدابـیر آتـی را در مـورد او اتخـاذ نمـاید:

۱- تـسلیـمی او بـه یکـی از اشخاص مـندرج مادۀ (۷۴) این قـانـون مشـروط بـر اینکـه مـدت مـذکور از سـه سـال بیـشتر و از شـش مـاه کـمتر نبـاشـد و شخـص تـسلیم شـونده حـسن تربیۀ صغیـر را در آینـده کتبـاً متعهـد گـردد.

۲- حـجز او در دارالتـأدیـب یا یکـی از مـدارس اصلاحـی از شـش مـاه الـی سـه سال.

مادۀ هفتاد و ششم:

۱- هـرګـاه صـغیر مرتکـب جنـایتی گـردد کـه جـزای آن اعـدام یـا حبس دوام بـاشـد محکـمه می تـواند به حـجز او در دارالتأدیـب یـا مؤسـسات خیریـه و یـا مـدارس اصـلاحی

وکی په دې شرط چه د هغه د حجز موده دپنځو کلونو څخه زیاته نه وی.
۲- که د جنایت تاکل شوی جزأ اوږد حبس وی نو حجز دیوه کال څخه کم او د څلورو کلونو څخه زیاتیدلی نه شی.

اووه اویایمه ماده:
که صغیر متعهد ته د تسلیمیدو وروسته دتعهد دمودی په اوږدوکښې د جنحی یا جنایت ارتکاب کوونکی شی، محکمه کولی شی چه متعهد په لاندی ترتیب په نقدی جزأ محکوم کی:
۱- دجنحی د ارتکاب په حالت کښې دیو زر افغانیو څخه تر دوه زرو افغانیو پوری.
۲- د جنایت د ارتکاب په حالت کښې د دوه زره افغانیو څخه تر پنځه زرو افغانیو پوری.

اته اویایمه ماده:
که صغیر دخپلوانو څخه په غیر بل چاته تسلیم کړی شوی وی د محکمی له خوا خپلوانو ته د هغه اعاده کول پخپله د هغه یا د هغه د حکم نماید مشروط بر این‌که مدت حجز او از پنج سال بیشتر نباشد.
۲- اگر جزای پیش بینی شده جنایت حبس طویل باشد مدت حجز از یکسال کمتر و از چهار سال بیشتر بوده نمی تواند.

مادۀ هفتاد و هفتم:
هرگاه صغیر بعد از تسلیمی او به متعهد در اثنای مدت تعهد مرتکب جنحه یا جنایت گردد محکمه می تواند متعهد را به ترتیب آتی به جزای نقدی محکوم نماید:
۱- در حالت ارتکاب جنحه از یك هزار الی دو هزار افغانی.
۲- در حالت ارتکاب جنایت از دو هزار الی پنج هزار افغانی.

مادۀ هفتاد و هشتم:
هرگاه صغیر به غیر اقارب تسلیم داده شده باشد اعادۀ او به اقارب از طرف محکمه باساس مطالبۀ خود وی

یوه خپلوان د غوښتنې په اساس صورت مومی، په دی شرط چه د تسلیمیدو دحکم د تنفیذ له وخته کم ترکمه یو کال تیر شوی وی. داعادی بیا غوښتنه د هغی دردولو دنېټی څخه تر شپږ میاشتو پوری جواز نه لری. که محکمه حکم وکی چه صغیر دی دهغه خپلوانو ته اعاده شی دا حکم د صغیر د تسلیمیدو په معنی دی.

ویا یکی از اقارب مذکور صورت می گیرد، مشروط بر اینکه از تنفیذ حکم تسلیمی اقلاً یکسال سپری شده باشد. تجدید مطالبهٔ اعاده الی مدت شش ماه از تاریخ رد آن جواز ندارد. اگر محکمه به اعادهٔ صغیر به اقارب او حکم نماید این حکم بمنزلهٔ حکم به تسلیمی صغیر شناخته می شود.

نهه اویایمه ماده:

هغه صغیر چه په دار التأدیب یا خیریه مؤسسو او یا په اصلاحي مدرسو کښې دحجز لاندې نیول کیږي، دمؤسسې د آمر په پیشنهاد دمربوطه څارنوا ل په موافقه او دلوی څارنوال په منظوري دمؤسسې څخه ویستل کېدی شي. نومورې صغیر په هیڅ صورت په پورتنیو مؤسسو کښې دپنځو کلونو څخه زیات یا داتلس کلنی عمر دپوره کیدو څخه وروسته نه شی پاتی کیدی.

مادهٔ هفتاد و نهم:

صغیری‌که در دارالتأدیب یا مؤسسات خیریه ویا مدارس اصلاحی تحت حجز قرار می گیرد به پیشنهاد آمر مؤسسه مربوط، موافقه څارنوال ومنظوری لوی څارنوال از مؤسسه خارج شده می تواند. صغیر مذکور به هیچ وجه در مؤسسات فوق بیش از پنج سال یا بعد از تکمیل سن هجده سالگی بوده نمی تواند.

اتیایمه ماده:
که یو شخص د صغیر د تسلیمیدو د حکم څخه وروسته هغه پټ اویایی فراریدوته مجبور کی یا په نورو وسیلو د هغه په فراریدوکې مرسته وکړی، دحبس په جزأ تر شپږ میاشتو یا په نقدی جزأ تر شپږ زرو افغانیو پوري محکومیږي.

یو اتیایمه ماده:
متعهد ته د تسلیمیدو حکم داتلس کلنۍ دعمر په پوره کیدو ساقطیږي.

دوه اتیایمه ماده:
که مراهق د قباحت ارتکاب کوونکی وگرځی، محکمه کولی شی چه هغه ددې قانون په ټاکلی جزأ محکوم کی اویا دوالدینو څخه یوه ته د هغه د تسلیمیدو یا هغه چاته چه دهغه په نفس دولایت حق لری یا یو امین شخص ته چه په راتلونکی وخت کښې دهغه د ښه رویی تعهد وکی حکم وکی.

مادۀ هشتادم:
هرگاه شخصی صغیر را بعد از صدور حکم به تسلیم، پنهان یا او را به فرار وادارد و یا به وسایل دیگر به فرار او معاونت کند به جزای حبس الی شش ماه یا جزای نقدی الی شش هزار افغانی محکوم می‌گردد.

مادۀ هشتاد و یکم:
حکم تسلیمی به متعهد با تکمیل سن هجده سالگی ساقط می‌گردد.

مادۀ هشتاد و دوم:
هرگاه مراهق مرتکب قباحت گردد محکمه می تواند او را به جزای پیش بینی شده این قانون محکوم نماید و یا به تسلیمی او به یکی از والدین یا شخصیکه بر نفس او حق ولایت دارد و یا شخص امینی که حسن رویه او را در آینده تعهد کند حکم نماید.

دري اتيايمه ماده:
کـــه مراهـــق دجنحـــی ارتکـــاب کوونکی وګرځی محکمه کولی شی چه ددې قانون د ټاکلو جزاګانو په عـوض ددې قـانون د (۷۶) مـادی درج شوی تدبیرونه اتخاذ کی.

ځلور اتيايمه ماده:
۱- کـه مراهـق دداسـی جنایـت ارتکـاب کـوونکی وګرځی چه جزأ یی اعدام یا دوام لرونکی حبس وی محکمـه کـولی شـی چـه پـه دارالتأدیب کې د هغه په حجز چه د دوه کلـونو څخـه کـم او د پـنځلس کلونو څخه زیات نه وی حکم وکی.
۲- کـه د جنایـت ټاکلی جـزأ اوږد حبس وي په دار التأدیب کې دحجز دمودی کمه اندازه دیوه کال څخه کمـه او د هغـي زیاتـه انـدازه داوږد حبس دنیمـایي زیـاتی مـودی څخه چـه د هغـی جنایـت د پـاره ټاکـل شوی، نه شی زیاتیدی.
۳- کـه دجنایـت زیاتـه انـدازه جـزأ دلسو کلونو څخه کمه وی محکمه کـــولی شـی چـه پـه دار التأدیـب کښې دیـوه کال څخه په کمه موده د هغه د حـجز یـا د نیمـایي زیـاتي

مادۀ هشتاد و سوم:
هرګاه مراهق مرتکب جنحه ګردد محکمه می تواند عـوض جزاهای پیش بینی شده جرم مذکور یکی از تـدابیر منـدرج مـاده (۷۶) ایـن قانون را در مورد او اتخاذ نماید.

مادۀ هشتاد و چهارم:
۱- هـــرګـــاه مـــراهق مرتکب جنایتی گـــردد که جزای آن اعـدام یـا حبـس دوام بـاشد محکـمه مـی تـوانـد بـه حـجـز او در دار التأدیـب که از دوســال کمتر واز پـانـزده سـال بیشتر نباشد حکم نماید.
۲- اگـر جـزای پـیش بینـی شـده جنـایت حبـس طـویل بـاشـد حـداقـل مـدت حـجـز او در دارالـتأدیب از یـك سـال کمتـر و حداکثـــر آن از نـــصف حداکثر حبس طویل بیـشتر بوده نمی تواند.
۳- اگـر حـداکثـر جزای جنایـت کمتر از ده سـال باشـد محکمـه مـی تـواند بـه حجـز او در دارالتـأدیـب بـه کمتـر از یکسال و بیشتر از نصف حداکثر

مـــودي چه د هغـــی جنایت دپاره ټاکل شـــوی حکـم وکی.

جـزای پـیش بیـــنی شـــده همـان جنایـت حکم نماید.

پنځه اتیایمه ماده:

۱- دصغیر او مراهق عمر د جرم دارتکاب په وخت کښې د مسؤلیت د ټاکلو اساس پیژندل کیږي.

۲- کـه صـغیر د جـرم ارتکـاب کـــوونکی وګرځـــی او دحکـــم د صادریدو په وخت کې د مراهقی عمر تـه ورسیږي دصغیر په څیر ورسره معامله کیږي.

ماده هشتادو پنجم:

۱- سـن صـغیر و مراهـق در وقـت ارتـکـــاب جـــرم اســاس تعیـین مسؤلیت شناخته میشود.

۲- اگـــر صغـــیر مـرتکـــب جرم گـــردد و هنـگـــام صـدور حکـم بـه ســـن مراهـق برســـد مـــانند صـــغیر بـــا او مـــعامله می‌شود.

شپږ اتیایمه ماده:

۱- کـه مراهـق د جـرم ارتکـاب کـــوونکی وګرځـــی او د حکـــم د صـادریدو پـه وخـت کـښې داتلس کلنی عمر پوره کی دمراهق په څیر ورسره معامله کیږي.

۲- کـه هغـه جـرم چـه مراهـق یـې ارتکـــاب کـــوونکی ګرځیـــدلی، جنایت یـا جنحـه وي چـه پـه قـانون کـې د هغـی جـزأ اوږد حـبس یـا مـتوسط حبـس ټـاکل شوی وی، محکمـــه کـــولی شـــی چـــه پـــه دارالتأدیب کې د حجـــز د مـودي پـه عـوض پـه جنـــایت کـــښې پـــه

مادۀ هشتادوششم:

۱- هرگـاه مراهـق مرتکـب جـرم شـود و هنـــگام صـدور حکـم سـن هجـده سالگـــی را تکـــمیل نمایـد مانند مراهق با او معاملـه می شود.

۲- اگـر جرمـی‌کـه مراهـق مـذکور مرتکـــب گردیـــده جنایـــت یـــا جنحـــه ای باشـــدکه جـــزای آن در قـــانون حـــبس طـــویل یـــا حـــبس متـــوسط پـــیش بینـــی شـده باشـد، محکمـه میتوانـد عوض مدت حجز در دار التأدیب در جنایـت بـه حـبس متوسـط و

متوسط حبس او په جنحه کښې په لنډ حبس حکم وکی.

۳- په پورتنی فقره کښې په درج شوو مواردو کښې د محکومیت موده په هیڅ صورت سره د هغه مودی څخه چه په دار التأدیب کښې دحجز د پاره د ارتکاب شوی جنایت یا جنحی په مقابل کښې ټاکل شوی نه شی زیاتیدی.

۴- په دې قانون کښې داوړده حبس او متوسط حبس دټاکلو شوو جزاګانو په غیر نوری جزاګانی په نقدی جزا چه دپنځه زره افغانیو څخه زیاتی نه شی، تعویضیدلی شی.

۵- که مراهق په دار التأدیب کښې دحجز په موده کښې داتلس کلنی عمر پوره کې د محکوم بها حجز دنوری پاتی مودی دپوره کیدو دپاره مربوط محبس ته انتقالیږي.

در جنحه به حبس قصیر حکم نماید.

۳- مدت محکومیت در موارد مندرج فقره فوق به هیچ صورت از مدتی‌که برای حجز در دار التأدیب در برابر جنایت یا جنحه ارتکاب شده درین قانون پیش بینی گردیده است تجاوز نمی نماید.

۴- جزاهای غیر از حبس طویل و حبس متوسط پیش بینی شده در این قانون به جزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند تعویض می‌گردد.

۵- اگر مراهق در ظرف مدت حجز در دار التأدیب سن هجده سالگی را تکمیل نماید جهت گذشتاندن مدت باقیمانده حجز محکوم بها به محبس مربوط انتقال داده می‌شود.

اووه اتیایمه ماده:

که صغیر یا مراهق دیوه څخه په زیات د جرم په ارتکاب تورن شي د هغه محاکمه دیوي دعوي په ضمن کښې دټولو جرمونو له

مادۀ هشتادو هفتم:

هرگاه صغیر یا مراهق متهم به ارتکاب بیش از یك جرم گردد محاکمۀ او از ناحیه همه جرایم ضمن دعوی واحد جواز دارد

پلوه جواز لری په دی شرط چه محکمه یواځي دهغه جرم په اساس حکم وکړی چه جزأیی په قانون کښې زیاته شدیده ټاکل شوي.

مشروط بر اینکه محکمه تنها به اساس جرمی حکم نماید که جزای آن در قانون شدید تر پیش بینی شده باشد.

اته اتیایمه ماده:
دصغیر او مراهق د جرم تکرار په دي قانون کې د مجازات دتکرار او ټاکل شوي تدبیرونو داتخاذ مانع نه ګرځي.

مادۀ هشتاد و هشتم:
تکرار جرم صغیر ومراهق مانع تکرار مجازات واتخاذ تدابیر پیش بینی شده در این قانون نمی‌گردد.

نهه اتیایمه ماده:
که صغیر یا مراهق په کراتو په حجز محکوم شی په اصلاحي مدرسه کښی دمحکوم بها حجز ټوله موده دپنځو کلو څخه او په دار التأدیب کښی دپنځلس کلونو څخه نه شی زیاتیدي.

مادۀ هشتادو نهم:
هرگاه صغیر یا مراهق به دفعات محکوم به حجز گردد مجموع مدت حجز محکوم بها در مدرسه اصلاحی از پنج سال ودر دار التأدیب از پانزده سال تجاوز نمی کند.

نوي یمه ماده:
۱- هغه مراهق چه داتلس کلنی عمریی نه دی پوره کړی که دوه ثلثه محکوم بها جزأ په دار التأدیب کښې تیره کې محکمه کولی شی چه دمراهق یا دوالدینو څخه دیوه یا دهغه شخص په غوښتنه چه د هغه په نفس دولایت

مادۀ نودم:
۱- هرگاه مراهقی‌که سن هجده سالگی را تکمیل نکرده باشد دو ثلث جزای محکوم بها را در دارالتأدیب سپری نماید محکمه می تواند بنابر مطالبه مراهق یا یکی از والدین و یا شخصیی‌که بر نفس او حق ولایت داشته

حق ولري د هغه د خوشي کولو حکم صادر کی په دې شرط چې دارالتأدیب د ذکر شوی مراهق ښه سلوک دیو راپور په ضمن کښی تصدیق کی او څارنوال یی تأیید کی په دې صورت کښې مراهق ددې قانون د (۷۴) مادی ددرج شوو اشخاصو څخه یوه ته تسلیم ورکول کیږي.

۲- که مراهق داتلس کلنی عمر پوره کړی وی او په دار التأدیب کښې یي دوه ثلثه محکوم بها جزأ تیره کړی وی، هغه وخت خوشی کیدی شی چه په راتلونکی زمانه کښی دخپل ښه سلوک تعهد په لیکلی توګه ورکی.

باشد حکم به رهائی وی صادر نماید مشروط بر اینکه دار التأدیب حسن رویه مراهق مذکور را طی راپوری تصدیق و څارنوال آنرا تائید نماید. در این صورت مراهق بیکی از اشخاص مندرج ماده (۷۴) این قانون تسلیم داده می‌شود.

۲- اگر مراهق سن هجده سالگی را تکمیل و دو ثلث جزای محکوم بها را در دار التأدیب سپری نموده باشد رهائی او وقتی صورت می‌گیرد که حسن رویه آینده خود را کتباً تعهد بنماید.

یو نوی یمه ماده:

هغه حکمونه چه په جرم کې د تکرار پوری او تبعی، تکمیلی او امنیتی تدبیرونو پوری مربوط دی په صغیر او مراهق د تطبیق وړ نه دی، مصادره، د ځای بندول او د هغه ځایونو څخه منع کول چه داخلاقو دانحراف باعث ګرځی له دې حکم څخه مستثنی دی.

ماده نود ویکم:

احکام متعلق به تکرار در جرم و جزاهای تبعی و تکمیلی وتدابیر امنیتی بر صغیر و مراهق قابل تطبیق نمی باشد. مصادره، مسدود ساختن محل و منع از رفتن به جا های که باعث انحراف اخلاق گردد ازین حکم مستثنی است.

دوه نوی یمه ماده:
په حبس باندی دنقدی جزأ تعویض دصغیر او مراهق په باره کښی جواز نه لری.

مادۀ نود و دوم:
تعویض جزای نقدی به حبس در مورد صغیر و مراهق جواز ندارد.

دری نوی یمه ماده:
هغه شخص چې دجرم دارتکاب په وخت کښې يې داتلس کلنی عمر پوره کړی او د شل کلنی عمر یی نه وی پوره کړی په اعدام نه شی محکومیدلی.
په دی حالت کې دوام لرونکی حبس داعدام قایم مقام ګرځی.*

مادۀ نود و سوم:
شخصی‌که هنگام ارتکاب جرم سن هجده سالگی را تکمیل و سن بیست سالگی را تکمیل نکرده باشد محکوم به اعدام شده نمی‌تواند.
درین حالت حبس دوام قایم مقام اعدام می گردد.*

دوه یم- دارادی نشتوالی
۱- اکراه

دوم - فقدان اراده
۱- اکراه

څلور نوی یمه ماده:
که شخص د مادی یا معنوی قوی دتاثیر لاندی چه دفع کول يې په بل ډول ممکن نه وی، دجرم په ارتکاب مجبور وګرځی، مسئول نه ګڼل کیږي.

مادۀ نودوچهارم:
شخصی‌که تحت تاثیر قوۀ مادی یا معنویی‌که دفع آن طور دیگری ممکن نباشد مجبور به ارتکاب جرم گردد، مسئول شناخته نمی شود.

* ماده ۹۳ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

۲- اضطرار

پنځه نوی یمه ماده:
که یو شخص د خپل ځان یا خپل مال یا دبل چا د ځان یا مال د خلاصون په منظور د داسی لوی او سملاسی خطر سره مخامخ شی چه بی د جرمی عمل دارتکاب څخه د هغی په دفع کولو قادر نه وی مسؤل نه ګڼل کیږی، په دی شرط چه عمداً دذکر شوی خطر د پیدا کیدو سبب شوی نه وی او د کوم ضرر څخه چه ځان ژغوری د هغه ضرر څخه زیات شدید وي چه له جرم څخه پیدا کیږي.

دوه یم فصل
دحکمی اشخاصو مسئولیت

شپږ نوی یمه ماده:
۱- حکمی اشخاص د دولتی مؤسسو، دوایرواو تصدي ګانو په استثنی د هغه جرمونو څخه چه د هغوی ممثلین، رئیسان او وکیلان یي دوظیفی داجراء کولو په وخت کښې دحکمی اشخاصو په نامه او حساب ارتکاب کوونکی ګرځی

۲- اضطرار

مادۀ نود و پنجم:
شخصی‌که به منظور نجات نفس یا مال خود و یا نفس یا مال غیر به خطر بزرگ وآنی مواجه گردد به نحوی‌که بدون ارتکاب عمل جرمی قادر به دفع آن نباشد مسؤل شناخته نمی‌شود. مشروط بر این‌که شخص عمداً سبب ایجاد خطر مذکور نگردیده وضرر مورد اجتناب شدیدتر از ضرری باشد که از جرم نشأت می کند.

فصل دوم
مسئولیت اشخاص حکمی

ماده نود و ششم:
۱- اشخاص حکمی به استثنای مؤسسات، دوایر و تصدیهای دولت از جرایمی که ممثلین، رؤسا و وکلای آن در اثنای اجرای وظیفه بنام و حساب اشخاص حکمی مرتکب می گردند مسئول

مسئول ګڼل کیږي.
۲- محکمه نه شی کولی چه حکمی شخص په ارتکاب شوی جرم کې بې له نقدی جزأ، مصادری او امنیتی تدبیرونو چه په دی قانون کې ټاکل شوی محکوم کی.
۳- په هغه صورت کښې چه قانون په ارتکاب شوی جرم کې اصلي جزأ دنقدي جزا څخه په غیر بله جزا ټاکلی وی، دا جزأګانی په نقدی جزأ تعویضیږي.
۴- په پورتنی ترتیب دحکمی شخص محکومیت د حقیقی شخص چه د جرم ارتکاب کوونکی دی د هغه جزأګانو دتطبیق مانع نه ګرځی چه په دې قانون کښې ورته ټاکل شوی.

شناخته می‌شوند.
۲- محکمه نمی تواند شخص حکمی را بغیر از جزای نقدی مصادره وتدابیر امنیتی پیش بینی شده درین قانون محکوم نماید.
۳- در صورتی‌که قانون جزای اصلی را غیر از جزای نقدی برای جرمی‌که ارتکاب گردیده است پیش بینی نموده باشد این جزاها به جزای نقدی تعویض می‌گردد.
۴- محکومیت شخص حکمی به ترتیب فوق مانع تطبیق جزاهای پیش بینی شده این قانون در مورد شخص حقیقی مرتکب جرم نمی‌گردد.

څلورم باب
جزأ
لومړی فصل
اصلی جزأګانی

اووه نوی یمه ماده:
اصلي جزأګاني عبارت دی له:
۱- اعدام.
۲- دوام لرونکی حبس.
۳-اوږد حبس.
۴- متوسط حبس.
۵- لنډ حبس.
۶- نقدي جزأ.

اته نوی یمه ماده:
اعدام عبارت دی د محکوم علیه د دار د زوړندولو څخه د مرګ تر وخته پوری.*

نهه نوی یمه ماده:
۱- دوام لوونکی حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښی چې ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.
۲- د دوام لرونکی حبس موده د شپاړسو څخه تر شلو کلونو پوری ده.

باب چهارم
جزا
فصل اول
جزاهای اصلی

مادۀ نود و هفتم:
جزاهای اصلی عبارت است از:
۱- اعدام.
۲- حبس دوام.
۳- حبس طویل.
۴- حبس متوسط.
۵- حبس قصیر.
۶- جزای نقدی.

مادۀ نود و هشتم:
اعدام عبارت است از آویختن محکوم علیه به دار تا وقت مرگ.*

مادۀ نود و نهم:
۱- حبس دوام عبارت است از زندانی ساختن محکوم علیه در یکی از محابسی که از طرف دولت به این منظور تخصیص یافته است.
۲- مدت حبس دوام از شانزده تا بیست سال می‌باشد.

* تعدیل ماده ۹۸ و قانون تحدید حکم اعدام در بخش تعدیلات این قانون آمده.

سلمه ماده:

۱- اوږد حبس عبارت دی دمحکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښی چه ددولت له خوادې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

۲- د اوږده حبس موده دپنځو کلونو څخه کمه او پنځلس کلونو څخه زیاته نه وی.

۳- په دوام لرونکی او اوږده حبس کښی محکوم علیه مکلف دی چه هغه اصلاحی کارونه تر سره کې چه د محبسونو پوری په مربوط قانون کښې ټاکل شوی.

۴- هغه محبوس چه دشپیته کلنی عمر یی پوره کړی وی په کار کولو کـه څه هم اصلاحی وی مکلف نه دی.

یوسل او یوه ماده:

۱- متوسط حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښې چه ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

۲- دمتوسط حبس موده دیوه

مادۀ صدم:

۱- حبس طویل عبارت از زندانی ساختن محکوم علیه در یکی از محابسی که از طرف دولت باین منظور تخصیص یافته است.

۲- مدت حبس طویل از پنج سال کمتر و از پانزده سال بیشتر نمی باشد.

۳- در حبس دوام وحبس طویل محکوم علیه مکلف است کار های اصلاحی را انجام دهد که در قانون مربوط به محابس پیش بینی شده است.

۴- محبوسی‌که سن شصت سالگی را تکمیل کرده باشد به انجام کار، گرچه اصلاحی هم باشد مکلف نمی باشد.

مادۀ یکصدویکم:

۱- حبس متوسط عبارت است از زندانی ساختن محکوم علیه در یکی از محابسی که از طرف دولت باین منظور تخصیص یافته است.

۲- مدت حبس متوسط از

کاله څخه کمه او د پنځو کلونو څخه زیاته نه وی.

۳- په متوسط حبس محکوم علیه د هغه اصلاحی کارونو په کولو مکلف دی چه دمحبسونو پوری په مربوط قانون کښی ټاکل شوی.

یکسال کمتر و از پنج سال بیشتر نمی باشد.

۳- محکوم علیه به حبس متوسط مکلف به انجام کارهای اصلاحی می‌باشد که در قانون مربوط به محابس پیش بینی شده است.

یوسل او دوهمه ماده:

۱- لنډ حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښې چه ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

۲- دلنډ حبس موده د (۲۴) ساعتونو څخه کمه او دیوه کال څخه زیاته نه وی.

۳- په لنډ حبس محکوم علیه په هیڅ نوع کار کولو مکلف نه دی.

مادۀ یکصد و دوم:

۱- حبس قصیر عبارت است از زندانی ساختن محکوم علیه در یکی از محابسی که از طرف دولت باین منظور تخصیص یافته است.

۲- مدت حبس قصیر از بیست وچهار ساعت کمتر واز یك سال بیشتر نمی باشد.

۳- محکوم علیه به حبس قصیر مکلف به انجام هیچ نوع کار نمی‌باشد.

یوسل او درېیمه ماده:

۱- دحبس د جزأ محاسبه د هغی ورځی څخه پیل کیږی چه په هغی کښې محکوم علیه په محبس کې بندي شوی دی.

۲- دتوقیف موده د محکوم بها د

مادۀ یکصدو سوم:

۱- محاسبه جزای حبس از روزی آغاز می یابد که محکوم علیه در آن به محبس زندانی شده است.

۲- مدت توقیف از مدت حبس

حبس له مودې څخه کمیږي.

محکوم بها کاسته می شود.

یوسل او څلورمه ماده:
نقدی جزأ عبارت ده د محکوم علیه دمکلف کولو څخه د محکوم بها پیسو په ورکولو سره د دولت خزانې ته.

مادۀ یکصدوچهارم:
جزای نقدی عبارت است از مکلف ساختن محکوم علیه به پرداخت مبلغ محکوم بها به خزانه دولت.

یوسل اوپنځمه ماده:
نقدي جزأ په افغاني پیسو تاکل کیږي.

مادۀ یکصدو پنجم:
جزای نقدی به پول افغانی تعیین می‌شود.

یوسل اوشپږمه ماده:
دنقدی جزأ کمه اندازه دپنځوس افغانیو څخه نه شی کمېدلی.

مادۀ یکصدوششم:
حد اقل جزای نقدی از پنجاه افغانی کمتر بوده نمی تواند.

یوسل او اوومه ماده:
د نقدي جزأ کمه اندازه او زیاته اندازه د قانون په حکم تاکل کیږي. مګر داچه په قانون کښې بل ډول تصریح شوی وی.

مادۀ یکصدو هفتم:
حداقل و حداکثر جزای نقدی به حکم قانون تعیین می گردد. مگر اینکه در قانون طور دیگری تصریح یافته باشد.

یوسلو اتمه ماده:
محکمه به د نقدی جزأ په تاکلو کښې دکمی او زیاتی تاکل شوی جزأ ترمنځ د راتلونکو شرطونو او حالونو مراعات کوی:

مادۀ یکصدوهشتم:
محکمه در تعیین جزای نقدی بین حداقل و حداکثر پیش بینی شده شرایط واحوال آتی را رعایت می نماید:

۱- د جزائي هدف تأمين.
۲- دارتکاب کوونکی شخص، اجتماعي او اقتصادی حالونه.
۳- دهغی ګټی اندازه چه دجرم دارتکاب څخه حاصله شوی یایی د حاصلولو هیله کیږي.
۴- دهغه حق ښیګڼی نوعیت چه پری تپری شوی دی.

۱- تأمین هدف جزائی.
۲- احوال شخصی، اجتماعی و اقتصادی مرتکب.
۳- اندازه مفادی که از ارتکاب جرم حاصل گردیده یا توقع استحصال آن برده می‌شد.
۴- نوعیت حق یا مصلحتی که مورد تجاوز قرار گرفته است.

یوسل او نهمه ماده:
محکمه کولی شی دخپل تشخیص یا دځارنوا ل دغوښتنی په اساس ددې قانون د (۱۰۸) مادې درج شوو شرطونو او حالونو په نظر کښې نیولو سره دنقدي جزأ زیاته ټاکل شوی جزأ تر دوه چنده پوري پورته بوځی په دی شرط چه دنقدي جزأ دزیاتی اندازی پورته ورډل دمحکوم علیه د ټولی شتمنی دمنځه ورلو ته منجر نه شی.

مادۀ یکصدو نهم:
محکمه می‌تواند باساس تشخیص خود یا مطالبه څارنوال حد اکثر پیش بینی شده جزای نقدی را با رعایت شرایط واحوال مندرج ماده (۱۰۸) این قانون تا دو چند آن بالابرد، مشروط بر اینکه بالابردن حداکثر جزای نقدی به ازبین بردن کلی دارائی محکوم علیه منجر نشود.

یوسل او لسمه ماده:
په جنایتونو کښې دنقدي جزأ ټاکل جواز نه لری مګر هله چه قانون پری په صراحت حکم کړی وی.

مادۀ یکصدو دهم:
تعیین جزای نقدی در جنایات جواز ندارد مگر اینکه قانون صراحتاً به آن حکم نموده باشد.

یوسل او یوولسمه ماده:
دنقدي جزأ ورکول دجزأیی

مادۀ یکصدو یازدهم:
پرداخت جزای نقدی مطابق به

اجـراآتو د قـانون د حکمونـو سره سم صورت مومی.

احکـام قـانون اجـراآت جزائـی صورت می‌گیـرد.

دوهم فصل
تبعی جزأګانی

فصل دوم
جزاهای تبعی

یوسل او دوولسمه ماده:
تبعی جزأګانی د هغه مجازات څخه عبارت دی چه په محکوم علیه د قـانون پـه حکـم بـی لـه دی چـه د محکمی په حکم کې تصریح شی تطبیقیږی.

مادۀ یکصدو دوازدهم:
جزاهای تبعی عبارت از مجازاتی است کـه بـالای محکـوم علیـه بـه حکم قانون بدون این‌که در حکم محکمـه تـصریح گـردد تطبیـق می‌شود.

یوسل او دیارلسمه ماده:
۱- هغه شخص چه په دوام لرونکی حبس یا په اوږده حبـس چه دلسو کلونو څخه زیات وی محکوم شی د راتلونکـو حقـوقو او امـتیازونو څخه هم محرومیږي:
۱- د دولت ماموریت.
۲- په اردو کښې خدمت.
۳- دپارلمـان، ښاروالیو، دولایتـی او محلی جرګو دغړیتوب.
۴- پـــه انتخابـــاتو کـــې درای ورکوونکی‌په حیث دبرخی‌اخستل.
۵- د دولتـی عنوانونـو داستعمـال او دنښانونو دزوړنـدولو څخه اعـم

مادۀ یکصدو سیزدهم:
۱- شخصی‌که بـــه حبـــس دوام یـا حبـــس طـویـل بیـــش از ده ســـال محـکـــوم گـــردد از حقـــوق وامتـــیازات آتـــی نـــیز محروم می‌شـود:
۱- ماموریت دولت.
۲- خدمت در اردو.
۳- عضویت پارلمان، شاروالیها، جرگه های ولایتی و محلی.
۴- سهمـگیری در انتـخابات به حـیث رأی دهـنده.
۵- استعـمـــال عـــناویـــن و تعـــلیق نشانـهای دولتی اعم از

له دی چه کورنی وی اوکه دباندنی.
۶- دشرکتونو او بانکونو په مدیره هیئت کښې غړیتوب.
۷- وصایت او قیمومیت او په معاملو او دعوو کښې وکالت.
۸- دمحکومیت په موده کې په قرار دادونو او معاملو کښې شهادت.
۹- د دولتی دوایرو سره دقرار داد کول، یا ددولت له خوا امتیاز تر لاسه کول.
۱۰- دمجلو او ورځپاڼو د امتیاز خاوند، مسئول مدیر او دتحریر دهیئت رئیس.
۱۱- د محکومیت په موده کښې د مالونو او املاکو اداره کول، وقف او وصیت استثنی دی.
۲- که محکوم علیه د حکم دصادریدلو په وخت کې دیوه پورتنی حقوقو او امتیازونو څخه مستفید وی، د حکم دصادریدو سره یوځای ورڅخه محرومیږي.

داخلی و خارجی.
۶- عضویت در هیأت مدیره شرکتها وبانکها.
۷- وصایت، قیمومیت ووکالت در معاملات ودعاوی.
۸- شهادت در عقود و معاملات در مدت محکومیت.
۹- عقد قرار داد با دوایر دولتی ویا کسب امتیاز از طرف دولت.
۱۰- صاحب امتیاز، مدیر مسئول، ریاست هیأت تحریر مجلات و روزنامه ها.
۱۱- ادارهٔ اموال واملاك در مدت محکومیت با استثنای وقف ووصیت.
۲- هرگاه محکوم علیه وقت صدور حکم از یکی از حقوق و امتیازات فوق مستفید باشد بمجرد صدور حکم از آن محروم می گردد.

یوسل او څوارلسمه ماده:
۱- په مالونو کښې د اداری او د تصرف محرومیت د ضرورت په حالت کښې په مؤقتی توګه د

مادهٔ یکصدو چهاردهم:
۱- محرومیت از اداره و تصرف در اموال در حالت ضرورت به اجازه محکمه

محکمی په اجازه مرفوع کیدای شی.
۲- کـه محکوم علیـه هر نوع تعهد بی د محکمی د اجازی وکی د هغـی صحت او عـدم صحت د ذکر شـوی محکمې د اجازی پوری موقوف دی.

یوسل او پنځلسمه ماده:
۱- محکمـه کـولی شـی ددوام لرونکی یـا دلـسو کلونـو څخـه پـه زیـات اوږده حبس محکـوم علیـه د غوښتنی په اساس څارنوال یا بـل د علاقـی خاونـد د هغـه د مـالونو د اداری او سرپرسـتی د پـاره قـیم وټاکی.
۲- محکمه به قیم د مال د ضمانت په ورکولو مکلـفوی او هغـه تـه بـه ددې وظیفـی پـه مقـابل کـښې مـناسبه اجـوره ټـاکی.
۳- دقیم تـصرفونه د هغـی مـالونو په باره کښې چه د اداری لاندی یی دی دهغـی محکمـی دنظـارت تـابع دی چه قیم یی ټـاکلی.
۴- دقیمومیـت لاتـدی مـالونه د مجـازات د تطبیـق څخـه یـا دهغـی دتیریـدو وروسـته چـه پـه هـر سـبب مـؤقـتـاً مـرفـوع شـده مـی‌تـواند.
۲- هر نوع تعهدی را که محکوم علیـه بـدون اجـازۀ محکمـه بعمـل آورد صـحت وعـدم صـحت آن موقـوف بـه اجـازه محکمـه مذکور شناخته می‌شود.

مادۀ یکصدو پانزدهم:
۱-محکمـه مـی توانـد باسـاس مطالبه محکوم علیه به حبس دوام یـا حبس طویـل بیـش از ده سـال یـا څـارنوال ویـا شخـص ذیـعـلاقـه بـرای اداره و سـر پرسـتـی امـوال وی قیـم تعیین نماید.
۲- محکمـه قـیم را بـه دادن ضـمانت بالـمال مکلـف نمـوده و اجـراآت مناسـب را در برابـر ایـن وظیفه برای وی تعیین می‌نماید.
۳- تصـرفات قیم در مورد امـوال تحـت اداره وی تابـع نظـارت محکمـه مـی باشـد کـه قیـم را تعییـن نموده است.
۴- امـوال تـحت قیـمومیت بعـد از تطبیـق مجـازات ویـا انقـضای آن بنـابر هـر سـببی کـه

بناوی ذکر شوی محکوم ته بیرته ورکول کیږی او قیم به دخپلی اداری لاندی دمربوطو مالونو دحساب صورت هغه ته ښکاره کوی.

باشد به محکوم مذکور مسترد می‌شود و قیم صورت حساب مربوط به اموال تحت ادارهٔ خود را به وی ارائه می‌نماید.

یوسل اوشپاړسمه ماده:

۱- هغه شخص چه داعدام په جزأ محکومیږی د حکم د تنفیذیدو تر وخته ددې قانون د (۱۱۳) مادی د (۱- ۱۱) فقرو دمندرجو حقوقو او امتیازونو څخه محروم پیژندل کیږي.

۲- هغه شخص چه په اعدام محکوم شوی وی حقوقی تصرفونه یی باطل دی، محکمه کولی شی دځارنوا ل یا دنورو علاقی لرونکو اشخاصو دغوښتنی په اساس د هغه د مالونو د سرپرستی او اداری دپاره قیم وټاکی.

مادهٔ یکصدو شانزدهم:

۱- شخصی‌که به جزای اعدام محکوم می گردد تا زمان تنفیذ حکم از حقوق وامتیازات مندرج فقرات (۱-۱۱) مادهٔ (۱۱۳) این قانون محروم شناخته می شود.

۲- تصرفات حقوقی شخص محکوم به اعدام باطل شمرده شده محکمه می تواند باساس مطالبه څارنوال یا سایر اشخاص ذیعلاقه برای سرپرستی و اداره اموا ل وی قیم تعیین نماید.

درېیم فصل
تکمیلی جزأګانی

فصل سوم
جزاهای تکمیلی

یوسل او اووه لسمه ماده:

تکمیلی جزأګانی عبارت له:

۱- دځینو حقوقو او امتیازونو

مادهٔ یکصدو هفدهم:

جزاهای تکمیلی عبارت است از:

۱- محرومیت از بعضی

څخه محرومیت.
۲- مصادره.
۳- دحکم خپرول.

حقوق و امتیازات.
۲- مصادره.
۳- نشر حکم.

یوسل او اتلسمه ماده:
۱- محکمه کولی شی کوم وخت چه په اوږده حبس تر لس کلو پوری یا په متوسط حبس حکم کوی د جرم په اصلی جزأ علاوه شخص ددې قانون د (۱۱۳) مادی د (۱ - ۱۱) درج شوو فقرو د ځینو حقوقو او امتیازونو څخه محروم کې په دې شرط چه د محرومیت موده دیوه کال څخه کمه او ددری کلونو څخه زیاته نه وی.
۲- تکمیلی جزأ د اصلی جزأ دتطبیق څخه یا د هغی د تیریدو وروسته په هر سبب چه وی تنفیذ یږي.

مادۀ یکصدو هجدهم:
۱- محکمه می تواند هنگام حکم به حبس طویل الی ده سال یا حکم به حبس متوسط علاوه بر جزای اصلی جرم شخص را از بعضی حقوق وامتیازات مندرج فقرات (۱-۱۱) مندرج مادۀ (۱۱۳) این قانون محروم سازد مشروط بر اینکه مدت محرومیت از یکسال کمتر واز سه سال بیشتر نباشد.
۲- جزای تکمیلی بعد از تطبیق جزای اصلی و یا انقضای آن به هر سببی که باشد تنفیذ می گردد.

یوسل اونولسمه ماده:
۱- محکمه کولی شی په هغه مواردو کښې چه قانون مصادره د جزأ په حیث نه وی تاکلی د هغه شیانو په مصادره چه د جرم دارتکاب څخه لاس ته راغلی وی یا دهغی په ارتکاب کښې استعمال

مادۀ یکصدو نزدهم:
۱- محکمه می تواند در مواردی- که قانون مصادره را به حیث جزا پیش بینی نکرده باشد به مصادره اشیائی که از ارتکاب جرم به دست آمده یا در ارتکاب آن استعمال گردیده ویا

شـــوی وی یـا دجـرم پـه ارتکـاب کښې داستعمال په قصد تیار شوی وی حکم وکی.
۲- پـه مـصادری حکـم پـه هـیڅ صورت د بل چا حقـوق چه دښـه نیت لرونکی وی نه اخلالوی.

به قـصد استـعمال در ارتکاب جرم تهـیه شـده بـاشد حکـم نـماید.
۲- حکم به مصادره به هیچ وجه حقـوق غیـر را کـه صـاحب حسن نیت باشد اخلال نمی نماید.

یوسل او شلمه ماده:
۱- محکمـه کـولی شـی چـه پخپلـه خوښه یـا د ځارنـوال د غـوښتـنی په اساس د حکم خپـرول پـه فیصله کښې تصریح کې.
۲- دحکـم خپـرول دهغـی دقطعـی کیدو تر مخه جواز نه لری.
۳- دقـذف، سپکاوی او ښـکنځلو پـه جرمونـو کـښې دمجـنی علیـه موافقـه د حکـم پـه افـشاء کولـو او خپرولو کښی حتمی ده.
۴- کـــه دقـــذف، ســـپکاوی او ښـــکنځلو جرمونـــه دمطبوعـــاتی وسـیلو دلاری صـورت مونـدلی وی محکمه به د هغی دخپریدو په بـاره کـــښې ددې مـــادی د (۳) فقـــری دحکم پـه نظر کـښې نیولـو سره د عین وسیلی په واسطی حکم کوی. پـه هغـه صـورت کې چې د معقـول عـذر څخـه پرتـه د حکـم د خپریـدو

مادۀ یکصدو بیستم:
۱- محکمـه مـی توانـد بـه اسـاس صـواب دیـد خـود ویـا مطـالبه څارنوال نـــشر حکم را در فیصله تصریح نماید.
۲- نـشر حـکم قـبل از قطـعی شدن آن جواز ندارد.
۳- در جـــرایم قـــذف، تـــوهین و دشـــنام مـــوافقـت مجـــنی علـــیه در افـــشاء ونـشر حکـم حتمی می باشد.
۴- هـــرگـــاه جـــرم قـــذف، تـــوهین و دشـــنام از طـــریـــق وســـایـــل مطبـــوعاتـــی صـــورت گـرفته باشد محکـــمه بـــه نـشـر آن بـا رعایت حکم فقـره (۳) ایـــن مـــاده توسـط عـین وسیلـه حکم مـی‌نمـایـد. در صـورت امتـــناع یـا تعـــلل بـــدون عـذر معـــقول از نـشـر

څخه امتناع یا تعلل وشی مسئول مدیر په نقدی جزأ چه د (پنځه زرو) افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی.

حکم مدیر مسئول به جزای نقدیی ایکه بیش از (پنج هزار) افغانی نباشد محکوم می‌گردد.

څلورم فصل
امنیتي تدبیرونه
لومړی قسمت
عمومی حکمونه

فصل چهارم
تدابیر امنیتی
قسمت اول
احکام عمومی

یوسل اویوویشتمه ماده:

۱- محکمه هغه وخت ددې قانون په ټاکل شوو امنیتی تدبیرونو حکم کوی چه ثابته شی چه محکوم علیه د داسې عمل ارتکاب کوونکی ګرځیدلی دی چه د قانون په حکم جرم شمیرل شوی او د مجرم حالت دعمومی امنیت په ضد خطر وګڼل شی.

۲- د مجرم حالت هغه وخت د عمومی امنیت په ضد خطر ګڼل کیږی چه د هغه درویی څخه په حال او تیره زمانه کښې اویا د جرم د ارتکاب دحالونو او علتونو څخه داسی جدی احتمال وشی چه مجرم به د بل جرم ارتکاب ته اقدام وکی.

۳- امنیتي تدبیرونه یواځی ددې

مادۀ یکصدو بیست ویکم:

۱- محکمه وقتی به تدابیر امنیتی پیش بینی شده این قانون حکم می نماید که ثابت گردد شخص محکوم علیه مرتکب عملی گردیده است که به حکم قانون جرم شمرده شده وحالت مجرم علیه امنیت عامه خطر پنداشته شود.

۲- حالت مجرم وقتی علیه امنیت عامه خطر پنداشته می‌شود که از رویه او در حال وگذشته و یا از حالات وعلل ارتکاب جرم احتمال جدی آن برود که مجرم به ارتکاب جرم دیگری اقدام می نماید.

۳- تدابیر امنیتی تنها در حالات

قانون تاکل شوو حالونو او شرطونو کښې د محکمی د حکم مورد کیدی شی.

یوسل او دوه ویشتمه ماده:
امنیتی تدبیرونه عبارت دي له:
۱- د آزادي سلب کوونکی تدبیرونه.
۲- د آزادی تحدیدوونکی تدبیرونه.
۳- د حقوقو سلب کوونکی تدبیرونه.
۴- مالی تدبیرونه.

دوه یم قسمت
د آزادی سلب کوونکی او تحدیدوونکی تدبیرونه
۱- په مربوطو روغتونو کښې حجز

یوسل او درویشتمه ماده:
۱- محکمه کولی شی چه دمحکوم علیه دحجز د عقلی او عصبی مرضونو په یوه روغتون یا په بل کوم صحی مرکز کې چه د دولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی د هغه د صحی وضعی دپاملرنی دپاره وشروط پیش بینی شدهٔ این قانون مورد حکم محکمه قرار گرفته می تواند.

مادهٔ یکصدو بیست ودوم:
تدابیر امنیتی عبارت است از:
۱- تدابیر سلب کنندهٔ آزادی.
۲- تدابیر تجدید کنندهٔ آزادی.
۳- تدابیر سلب کنندهٔ حقوق.
۴- تدابیر مالی.

قسمت دوم
تدابیر امنیتی سلب کننده و تحدید کنندهٔ آزادی
۱- حجز در روغتون های مربوط

مادهٔ یکصدو بیست و سوم:
۱- محکمه می‌تواند محکوم علیه را به حجز در یکی از روغتون‌های امراض عقلی و عصبی و یا مراکز صحی دیگری که از طرف دولت به این منظور تخصیص یافته است جهت اهتمام بوضع صحی وی حکم

حکم وکی.
۲- په دې صورت کې به د حجز موده دشپږو میاشتو کمه نه وی.
۳- د روغتون اداره او نور صحی مرکزونه مکلف دی چه دحجز د محکوم به دصحي وضعی راپور د معالجو ډاکترانو دنظریی د اخستلو وروسته په هرو شپږو میاشتو کښی محکمی ته ښکاره کی. محکمه کولی شی د ښکاره شوی راپور په اساس د هغه په خارجیدلو حکم وکی.
۴- محکمه کولی شی د ځارنوال یا دعلاقی لرونکی شخص دغوښتنی په اساس دمعالجو ډاکټرانو په موافقه په روغتون کښې یا په مربوط صحی مرکز کې د محکوم علیه په حجز بیا حکم وکی.

۲- په ځینی ځایونو کښی د ګرځیدلو او استوګنی منع یوسلو او څلیر ویشتمه ماده:

۱- محکمه هغه وخت د شخص دګرځیدلو په منع کیدو د هغه ځایو څخه چه د اخلاقی انحرافونو موجب ګرځی او د شخص موجودیت په هغی ځای کښې نماید.
۲- مدت حجز درینصورت از شش ماه کمتر بوده نمی تواند.
۳- اداره روغتون وسایر مراکز صحی مکلف است راپور وضع صحی محکوم به حجز را بعد از گرفتن نظر دوکتوران معالج در هر شش ماه به محکمه ارائه نماید. محکمه می تواند به اساس راپور ارائه شده به اخراج او حکم نماید.
۴- محکمه می تواند باساس مطالبه څارنوال یا شخص ذیعلاقه و موافقه دوکتوران معالج به حجز محکوم علیه در روغتون و یا مرکز صحی مربوط مجدداً حکم نماید.

۲- منع گشت وگذار وبود و باش در بعضی محلات

مادۀ یکصدو بیست وچهارم:

۱- محکمه وقتی به منع شخص از گشت وگذار در محلاتی‌که موجب انحراف اخلاقی گردد حکم می نماید که بودن وی در آن جا

په قوي احتمال د جرم د ارتکاب د تکرار سبب ګرځی حکم کوي.

۲- که شخص له یوځل څخه زیات دمخدره یا نیشه یي موادو د جرم د استعمال په ارتکاب مجازات شی محکمه کولی شی چه هغه په اصلی جزأ علاوه دیوه یا څو ځایونو څخه منع کی. د دې ممانعت موده ددری کلونو څخه زیاتیدلی نه شی.

یوسل او پنځه ویشتمه ماده:

محکمه کولی شی په اصلی جزأ علاوه شخص په معینو ځایونو کښې دجزأ د تطبیق یا د هغی د تیریدلو وروسته داوسیدلو څخه منع کی. ددې ممانعت موده دیوه کال څخه کمه او دپنځو کلو څخه زیاتیدی نه شی. په دی حالت کښې به محکمه د محکوم علیه صحی، نفسي، روحي او اجتماعي وضعه په نظر کښې نیسي.

یوسل او شپږ ویشتمه ماده:

محکمه کولی شی د حیثیت سره منافی د جنایت یا جنحی محکوم به احتمال قوی سبب تکرار ارتکاب جرم گردد.

۲- اگر شخص بیش از یکمرتبه به ارتکاب جرم استعمال مواد مخدره یا مسکره مجازات گردد محکمه می تواند وی را علاوه بر جزای اصلی از گشت وگذار در یك یا چند محل منع نماید. مدت این ممانعت از سه سال بیشتر بوده نمی تواند.

مادۀ یکصدو بیست وپنجم:

محکمه می تواند علاوه بر جزای اصلی شخص را از بود وباش در محلات معین بعد از تطبیق جزایا انقضای آن منع نماید. مدت این ممانعت از یکسال کمتر واز پنج سال بیشتر بوده نمی تواند. درین حالت محکمه وضع صحی، نفسی، روانی واجتماعی محکوم علیه را در نظر می گیرد.

مادۀ یکصدوبیست وششم:

محکمه می تواند محکوم علیه به جنایت یا جنحه منافی حیثیت را

علیه په اصلي جزأ علاوه په خاصو ځایونو کښې داوسیدلو څخه منع کی. د اوسیدلو دمنع کیدلو حکم دځارنوال یا دمحکوم علیه دغوښتنې په اساس تعدیل یا لغو کیدی شی.

علاوه بر جزای اصلی از بود وبه اش در محلات خاص منع نماید. حکم منع بود وباش باساس مطالبه څارنوال یا محکوم علیه تعدیل یا لغو شده می تواند.

درېیم قسمت
د حقوقو سلب کوونکی امنیتي تدبیرونه
۱- دولایت، وصایت او قیمومیت ساقطیدل

قسمت سوم
تدابیر امنیتی سلب کنندۀ حقوق
۱- سقوط ولایت، وصایت و قیمومیت

یوسل او اووه ویشتمه ماده:
دولایت، وصایت او قیمومیت ساقطیدل د محکوم علیه محرومیدل دی، ددې نوع سلطی څخه اعم له دې چه دنفس یا مال پوری مربوط وی.

مادۀ یکصدو بیست وهفتم:
سقوط ولایت، و صایت و قیمومیت محروم ساختن محکوم علیه است از اعمال این نوع سلطه‌ها بر دیگران اعم از این‌که مربوط به نفس یا مال باشد.

یوسل او اته ویشتمه ماده:
محکمه کولی شی په لاندنیو حالونو کښې د شخص دولایت، وصایت یا قیمومیت په ساقطیدو حکم وکی:
۱- که ولی، وصی یا قیم دداسی جنحی مرتکب شی چه د ذکر شوو

مادۀ یکصدو بیست وهشتم:
محکمه می تواند در حالات آتی به اسقاط ولایت، وصایت یا قیمومیت شخص حکم نماید:
۱- اگر ولی، وصی یا قیم مرتکب جنحه، ناشی از اخلال مکلفیت

وظیفـو پـوری مربـوط قـانونی مکلفیتونه اخلال کی.
۲- که ولی، وصی یا قیم ددا سی جـرم مرتکـب شـی چـه دولایـت، وصـایت یـا قیمومیت دوظیفـو پـه اجرأ کولـو کـښې یې بی کفـایتی ثابته کی.

۲- دکـسب او کـار د مـشغولیت څخه محرومیدل.

یوسل اونهه ویشتمه ماده:
د کسب او کـار د مـشغولیت څخـه محرومیـدل د شـخص دهـر نـوع کسب، کار او صنعتی ، تجارتی او فنی فعـالیتونو څخه منع کیـدو تـه شـامل دی چـه پـه هغـی مـشغولتیا قانونـاً دیـوی رسـمی صـلاحیت لرونکـی مرجـع د اجـازی پـوری مربوط وی.

یوسل او دیرشمه ماده:
۱- کـه شـخص ددا سی جنایـت یـا جنحـی د ارتکـاب پـه سـبب چـه د مربوط کسب او کـار د مکلفیتونو د اخـلا ل څخـه پیـدا شـوی وی د حبس پـه جـزأ چـه دشـپږو میاشـتو هـای قـانونی مربـوط بـه وظـایف متذکره گردد.
۲- اگر ولی، وصی یا قیم مرتکب جرمـی گـردد کـه عـدم کفایـت او را در اجـــرای وظیفـــه ولایت وصایت یـا قیمومیت ثابت سازد.

۲- محرومـیت از اشـتغال بـه پیـشه وحرفه.

مادۀ یکصدوبیست ونهم:
محـرومیـت ازاشـتغال بـه پیـشه و حرفـه شـامل منـع شـخص از انجـام هـر نـوع پیـشه وحـرفه وفـعالیت هـای صـنعتی، تجارتی و فنی ای می باشـد کـه اشتـغال بـه آن قانونـاً متـعلق بـه اجازۀ یك مرجع با صلاحیت رسمی باشد.

مادۀ یکصدوسی ام:
۱- هرگاه شخص به سبب ارتکاب جنایـت یـا جنحـه ناشـی از اخـلال مکلفیـت هـای مربـوط بـه پیـشه یـا حرفه به جزای حبس که از شش ماه کمتر نباشد محکوم گردد محکمه

کمه نه وی محکوم شی، محکمه کولی شی چه هغه په اصلی جزأ علاوه د مربوط کسب او کار څخه محروم کی، ددې محرومیت موده دیوه کال څخه زیاتیدی نه شي.

۲- کـه نومـوړی محکـوم علیـه د مربوط کـار او کسب دمشغولیت څخه د محرومیت دمودی دپای ته رسیدو، وروسته د آخرنی حکم د نښې دصادریدو څخه تر پنځو کلو پـوری عـین جـرم یـا دلمړنـی جـرم مماثـل بیـا مرتکـب شـی، محکمـه کولی شی چه په اصلی جزأ عـلاوه د مربوط کسب او کـار د مـشغولیت څخـه د هغـه پـه محرومیـت حکـم وکـی، ددی محرومیت مـوده ددری کلونو څخه زیاتیدای نه شی.

یوسل او یو دیرشمه ماده:

کـه شـخص د ترافیکـی جـرم د ارتکـاب پـه سـبب پـه جـزأ محکـوم شی محکمه کولی شی چه په اصلی جزأ علاوه هغه د موټروانی د کسب د مشغولیت او د موټروانی د جواز د نوی کولو څخه محروم کی، ددې محرومیـت مـوده ددری میاشـتو څخـه کمـه او ددری کلونـو څخـه زیاته کیدی نه شی.

مـی توانـد اورا عـلاوه بـر جـزای اصلی از اشتغال به پیشۀ یـا حرفۀ مربوط محروم نمایـد، مـدت ایـن محرومیت از یکسال بیشتر بوده نمی تواند.

۲- اگـر محکـوم علـیه مذکور بعـد از انتهـای مـدت محرومـیت از اشتغال به پیـشه وحـرفه مربوط در خـلال پنج سال از تـاریخ صدور حکـم نهـایی عین جـرم یـا مماثل جرم اولی را تکـراراً مرتکـب گـردد محکمـه می تواند علاوه بر جزای اصلی بـه محرومیت وی از اشـتغال بـه پیشه یا حرفه مربوط حکم نماید، مـدت ایـن محرومیت از سه سال بیشتر بـوده نمی‌تواند.

مادۀ یکصدو سی ویکم:

هـرگـاه شـخص به سبب ارتکاب جرم ترافیکی محکوم به جزا گردد محکمه می تـواند اورا عـلاوه بـر جـزای اصـلی از اشـتغال بـه پیشه رانندگی وتجدید جـواز رانندگی محـروم نمایـد، مـدت ایـن محرومیـت از سـه مـاه کمـتر واز سـه سـال بیـشتر بـوده نمـی تواند.

څلورم قسمت
مالي امنیتی تدبیرونه
۱- مصادره

یوسل او دوه دیرشمه ماده:
که ضبط شوی شیان ددا سی شیانو د جملی څخه وی چه جوړول، استعمال، ساتل، عرضه کول او خرڅول یی پخپل ذات کښې جرم وی محکمه به په هر حال د هغی په مصادره حکم کوی که څه هم ذکر شوی شیان د محکوم علیه ملکیت نه وی اویا تورن د محکمی څخه برائت حاصل کی.

۲- د محل بندول

یوسل او دری دیرشمه ماده:
د هغه جرمونو په باره کښې چه قانون د هغی په جزأګانو کې د جرم دارتکاب د محل بندیدل تاکلی وی، محکمه کولی شی تورن د اصلی جزأ څخه علاوه د هغه ځای په بندولو محکوم کې چه د جرم د ارتکاب په مقصد ورڅخه کار اخیستل شوی.
د بندیدلو موده د یوی میاشتی

قسمت چهارم
تدابیر امنیتی مالی
۱- مصادره

مادۀ یکصدو سی و دوم:
هرگاه اشیای ضبط شده از جمله اشیای باشد که ساختن، استعمال، نگهداشت، عرضه وفروش آن به ذات خود جرم شمرده شود محکمه به همه حال به مصادره آن حکم می‌نماید، گرچه اشیای مذکور ملکیت محکوم علیه نباشد ویا متهم از محکمه برائت حاصل نماید.

۲- مسدود ساختن محل

مادۀ یکصدو سی وسوم:
جرایمی‌که قانون در جزا های آن مسدود ساختن محل ارتکاب جرم را پیشبینی نموده باشد محکمه میتواند متهم را علاوه بر جزا های پیش بینی شده به مسدود ساختن محلی‌که به مقصد ارتکاب جرم از آن کار گرفته شده محکوم نماید.
مدت مسدودیت از یکماه

څخه کمه او د یوه کال څخه زیاتیدی نه شی.

کمتر و از یکسال بیشتر بوده نمی تواند.

یوسل او څلور دیرشمه ماده:

۱- د جرم د ارتکاب د محل د بندیدلو حکم د شخص تجارتی، صنعتی یا د محل پوری د مربوط کسب او کار فعالیت محرومیت ته شامل دی.

۲- په پورتنی حالت کښې د شخص محرومیت د محکوم علیه خپلوانو او نورو هغه اشخاصو ته شامل دی چه محکوم علیه د جرم د ارتکاب محل د جرم دارتکاب څخه وروسته هغوی ته پریږدی او یا یی په اجاره ورکوی.

۳- د محل مالک یا بل شخص چه د جرم د ارتکاب په محل کښې عینی حق ولری که د جرمی عمل پوری ارتباط ونه لری د پورتنی محرومیت لاندی نه واقع کیږی.

مادۀ یکصدو سی وچهارم:

۱- حکم به مسدود ساختن محل ارتکاب جرم شامل محرومیت شخص از اشتغال به فعالیت های تجارتی، صنعتی ویا پیشه یا حرفه مربوط به آن محل شناخته می شود.

۲- محرومیت شخص در حالت فوق شامل اقارب محکوم علیه وسایر اشخاص می باشد که محکوم علیه محل ارتکاب جرم را بعد از وقوع جرم به آنها واگذار شده ویا به اجاره داده باشد.

۳- مالك محل ویا هر شخص دیگریکه در محل ارتکاب جرم حق عینی داشته باشداگر به عمل جرمی ارتباط نداشته باشد تحت محرومیت فوق قرار نمی گیرد.

۳- د حکمی شخص د فعالیت متوقف کول او د هغی انحلال

یوسل او پنځه دیرشمه ماده:
کـه د حکمـی شـخص یـو رئـیس ، مـدیر، ممثـل یـا قـانونی وکیـل د حکمی شخصیت په نوم او حساب د جنایـت یـا جنحـی ارتکـاب کوونکی وګرځی او د هغی په سبب د حبس په جزأ چه د شپږو میاشتو څخه زیاته وی محکوم شوی وی، محکمـه کـولی شـی چـه د حکمـی شـخص فعالیـت متوقـف کـی، دتوقـف مـوده ددری میاشـتو څخـه کمه او ددری کلونـو څخـه زیاتیـدی نه شی، د جنایت او جنحی دتکرار په صورت کښې محکمه به دهغی په انحلال حکم کوی.

یوسل او شپږ دیرشمه ماده:
۱- د حکمـی شـخص د فعالیـت متوقف کول په محکوم بها مـوده کښی د حکمی شخصیت مربوطه اعمـالو د مـشغولیـت مـنع کیدو تـه شـامل دی، کـه څـه هـم د ځـانګـړی عنـوان یـا د ځـانګړی عامـل هیئـت د اداری لاښـدی

۳- متوقف ساختن فعالیت شخص حکمی وانحلال آن

مادۀ یکصدو سی وپنجم:
هـرګـاه یـك رئیـس، مـدیر ، ممثـل یـا وکیـل قـانونی شخـص حکمی به نـام و حساب خصـیت حکمـی مرتکـب جنـایت یـا جنـحه گـردد وبـه سبب آن بـه جزای حبس بیـش از شـشماه محکوم شـده بـاشـد ، محکمه مـی‌تـواند فعالیـت شخـص حکمی را متوقف سـازد. مـدت تـوقف از سـه مـاه کمتر واز سه سال بیـشتر بـوده نـمی توانـد در صـورت تکرار جنایت یـا جنحه محکـمه بـه انحـلال آن حکم مـی نماید.

مادۀ یکصدوسی وششم:
۱- مـتوقف ساخـتن فـعالیـت شـخص حکمـی شـامل منـع از اشـتغال بـه اعمـال مربـوط بـه شخـصیت حکـمی در مـدت محکوم بـها مـی‌باشد ، گـر چـه به عنوان و یا تحت اداره هیـئت عـامل جداګانه صورت

صورت ونیسي.
۲- په حکمی شخصیت دانحلال حکم د هغه د شتمنی تصفیی او د ټولو حقوقی تصرفونو او اداری تشکیلونو لغو کیدوته شامل دی.

پنځم قسمت
د امنیتی تدبیرونو پوری مربوط متفرقه حکمونه

یوسل او اووه دیرشمه ماده:
ددې قانون د هغه مواردو څخه استثنی چه په (۱۲۳، ۱۲۷، ۱۳۲) مادو کښې ټاکل شوی، کوم اشخاص چه د محکوم بها امنیتی تدبیرونو څخه مخالفت وکی د حبس په جزأ چه دیوه کال څخه اوږده نه وی یا په نقدی جزأ چه د (دولس زرو) افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږی.

یوسل او اته دیرشمه ماده:
د محکمی حکم چه د مجازات د تنفیذ په تعلیق شوی وی د امنیتی تدبیرونو تنفیذ ته نه شاملیږی، مګر په هغه حالونو کښی چه بګیرد.
۲- حکم به انحلال شخص حکمی شامل تصفیه دارائی و الغاء سایر تصرفات حقوقی و تشکیلات اداری شخصیت حکمی می‌باشد.

قسمت پنجم
احکام متفرقه مربوط به تدابیر امنیتی

مادۀ یکصدو سی و هفتم:
به استثنای موارد پیش بینی شده مواد (۱۲۳-۱۲۷ و۱۳۲) این قانون اشخاصی‌که از احکام تدابیر امنیتی محکوم بها تخلف ورزند به جزای حبس که از یک سال تجاوز نکند ویا به جزای نقدیی ای‌که از (دوازده هزار) افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردند.

مادۀ یکصدو سی وهشتم:
حکم محکمه مبنی بر تعلیق تنفیذ مجازات شامل تنفیذ تدابیر امنیتی نمی‌گردد، مگر در حالاتی‌که قانون و یا

قانون یا محکمی د هغی په خلاف حکم کړی وی.

محکمه بخلاف آن حکم نموده باشد.

یوسل او نهه دیرشمه ماده:
که د مجازات د تنفیذ د تعلیق موده پای ته ورسیږی یا په دی موده کې د هغی په لغو کیدو حکم نه وی صادر شوی، امنیتی تدبیرونه اعم له دی چه نافذ یا متوقف شوی وی د هغی پوری مربوط حکم داسی ګڼل کیږی چه بیخی صادر شوی نه وی.

مادۀ یکصدو سی ونهم:
هرگاه مدت تعلیق تنفیذ مجازات خاتمه یابد و یا در خلال این مدت حکمی به الغای آن صدور نیافته باشد، تدابیر امنیتی اعم از این‌که نافذ و یا متوقف ساخته شده باشد حکم مربوط به آن چنان پنداشته می‌شود که اصلاً صادر نگردیده باشد.

یوسل او څلویښتمه ماده:
۱- د حکمی شخص د مصادری او انحلال استثنی، محکمه کولی شی د نورو امنیتی تدبیرونو په باره کښې دحکم د صادریدو څخه وروسته د محکوم علیه یا د نورو علاقه لرونکو اشخاصو دغوښتنی په اساس ددې قانون د ټاکل شوو امنیتی تدبیرونو په تعلیق یا تعدیل حکم صادر کی.
۲- که د امنیتی تدبیرونو د تعلیق یا تعدیل غوښتنه د محکمی له خوا قبوله نه شی نو دیو کال د تیریدو تر مخه

مادۀ یکصدو چهلم:
۱- به استثنای مصادره وانحلال شخص حکمی محکمه می تواند در مورد سایر تدابیر امنیتی بعد از صدور حکم باساس مطالبه محکوم علیه یا اشخاص ذیعلاقه به تعلیق یا تعدیل تدابیر امنیتی پیش بینی شده این قانون صدور حکم نماید.
۲- اگر مطالبه مبنی بر تعلیق یا تعدیل تدابیر امنیتی از طرف محکمه مورد قبول قرار نگیرد تجدید مطالبه قبل از مرور یك

بیا غوښتنه نه شی کیدی.
۳- محکمه د څارنوال د غوښتنی په اساس یا پخپله خوښه کولی شی چه بی دنښی دقیدولو څخه د امنیتی تدبیرونو په تعلیق حکم وکی.

سال صورت گرفته نمی تواند.
۳- محکمه باساس مطالبهٔ څارنوال یا صوابدید خود می تواند بدون قید زمان به تعلیق تدابیر امنیتی حکم نماید.

پنځم فصل
قانونی عذرونه او قضائي مخففه حالونه

فصل پنجم
معاذیر قانونی واحوال مخففهٔ قضائی

یوسل او یو څلویښتمه ماده:
۱- عذرونه به یا د جزأ څخه برائت ورکوونکی او یا به تخفیف ورکوونکی وی، دجزأ څخه برائت ور کوونکی یا تخفیف ورکوونکی عذرونه په قانون کې تصریح کیږی، د هغی په غیر قضایي مخففه حالونه د هغه حالونو څخه عبارت دی چه د جرم ارتکاب دیوی شریفي انګیزی په اساس صورت مونډلی وی او یا مجرم دمجنی علیه دناحقه تحریک په اثر دجرم ارتکاب ته اقدام کړی وی او یا یی محکمه دجرم او مجرم پوری د مربوطو حالونو او اوضاعو څخه استنتاج کی.

مادهٔ یکصدو چهل ویکم:
۱- معاذیر یا تبرئه کننده از جزا میباشد و یا تخفیف دهندهٔ آن، معاذیر تبرئه کننده و تخفیف دهندهٔ جزا در قانون تصریح می‌گردد در غیر آن احوال مخففهٔ قضائی عبارت از حالاتیست که ارتکاب جرم باساس انگیزه شریفانه صورت گرفته باشد و یا مجرم از اثر تحریك غیر حق مجنی علیه بارتکاب جرم اقدام نموده باشد و یا محکمه آن را از احوال و اوضاع مربوط به جرم و مجرم استنتاج نماید.

۲- محکمه باید پخپل حکم کښې د جزأ څخه برائت ورکوونکی عذرونه تصریح کی.

۲- محکمه باید در حکم خود معاذیر تبرئه کننده از جزا را تصریح نماید.

یوسل او دوه څلویښتمه ماده:
د جزأ څخه برائت ورکوونکی عذرونه د جزائی مسؤلیت د منع کیدو اساس تشکیلوي او په اصلي، تبعی او تکمیلی جزاګانو د حکم د صادریدلو مانع ګرځي.

مادۀ یکصدو چهل ودوم:
معاذیر تبرئه کننده از جزا اساس منع مسؤلیت جزائی را تشکیل داده و مانع صدور حکم بر جزا های اصلی، تبعی و تکمیلی می گردد.

یوسل او دری څلویښتمه ماده:
۱- که په داسی جنایت کښې مخففه عذرونه پیدا شی چه جزأیی اعدام وی محکمه کولی شی چه اعدام په دوام لرونکی حبس تبدیل کی.
۲- که د جنایت جزأ دوام لرونکی حبس یا اوږد حبس وی محکمه کولی شی چه ددوام لرونکی حبس جزأ اوږده حبس ته او د اوږده حبس جزأ متوسط حبس ته تنزیل کی.

مادۀ یکصدو چهل وسوم:
۱- هرگاه معاذیر مخففه در جنایتی موجود گردد که جزای آن اعدام باشد محکمه می تواند اعدام را به حبس دوام تنزیل دهد.
۲- اگر جزای جنایت حبس دوام یا حبس طویل باشد محکمه می‌تواند جزای حبس دوام را به حبس طویل و جزای حبس طویل را به جزای حبس متوسط تنزیل دهد.

یوسل او څلور څلویښتمه ماده:
که په جنحه کښې مخففه عذرونه پیدا شی جزأئی په لاندی توګه تخفیف پیداکوی:

مادۀ یکصدو چهل و چهارم:
هرگاه معاذیر مخففه در جنحه موجود گردد جزای آن به نحو آتی تخفیف می یابد:

۱- کـه ټاکـل شـوی جـزأ کمـه انـدازه ولـری محکمـه د جـزأ پـه ټاکلو کښی په هغی مقید کیدلی نه شی.
۲- کـه ټاکـل شـوی جـزأ حـبس او نقدی دواړو جزأګانو ته شامله وی محکمـه کـولی شـی چـه د هغـوی څخه په یوه حکم وکی.
۳- کـه پـه قـانون کښی د جزأ کمه انـدازه نـه وی ټاکـل شـوی محکمـه کـولی شی چه پـه نقدی جزأ حکم وکی.

۱- اگـر جـزای پـیش بینـی شـده حـداقل داشـته باشـد محکمـه در تعیـین جـزا بـه آن مقیـد شـده نمی‌تواند.
۲- اگـر جـزای پـیش بینـی شـده شـامل حـبس وجـزای نقـدی هـردو باشـد محـکمه مـی تـواند بـه یکی از آن حکم نماید.
۳- اگـر حـد اقـل جزا در قـانون تعیـین نـشده بـاشـد محـکمه مـی‌توانـد بـه جـزای نقـدی حکـم نماید.

یوسل او پنځه څلویښتمه ماده:
که محکمه ددعـوی دغـور پـه وخت کښې درک کی چه په ارتکاب شوی جنایـت کـښې د جـرم او مجـرم اوضـاع او حـالونه د زړه سـوی ایجـاب کـوی، کـولی شـی چـه د جنایت ټاکـل شـوو جزأګانو تـه پـه لاندی توګه تغییر ورکی:
۱- د اعدام جـزأ پـه دوام لرونکی یـا اوږده حبـس چـه دلـسو کلونـو څخه کمه نه وی.
۲- د اوږده حبس جزأ پـه متوسط یا لنډ حبس چه د شـپږو میـاشـتو څخه کمه نه وی.

مادۀ یکصدوچهل و پنجم:
هرگاه محکمـه در خـلال رسیدگی بـه دعـوی دریابـد کـه اوضـاع واحوال جرم و مجـرم در جـنایت ارتـکاب شده ایجاب رأفـت می نمایـد، مـی توانـد جزاهـای پـیش بینی شده جـنایت را به نحـو آتی تغییر دهد:
۱- جزای اعـدام بـه حبـس دوام یا حبـس طـویل کـه از ده سـال کمـتر نباشد.
۲- جـزای حـبس طویـل بـه حـبس متوسط یا قصیری‌که از شش ماه کمتر نباشد.

یوسل او شپږ څلویښتمه ماده:
کـه محکمـه پـه دعـوی د غـور پـه وخت کښې درک کی چه په ارتکاب شوی جنحی کښی د جرم او مجرم اوضـاع او حـالونه د زړه سـوی ایجاب کوی، کولی شی چه ددې قـانون د (۱۴۴) مـادی درج شـوی حکمونه تطبیق کی.

یوسل او اووه څلویښتمه ماده:
په ټولو حـالونو کښې چه محکمه ددې قـانون د (۱۴۳، ۱۴۴، ۱۴۵، ۱۴۶) مادو د حکمونو سره سم په تخفیف حکم کوی مکلفه ده چه ټول هغه عذرونه او احوالونه چه د هغی په موجب جزأ تخفیف مومی د خپـل حکـم پـه سـببونو کـښې تصریح کی.

شپږم فصل
عمومی مشددۀ حالونه

یوسل او اته څلویښتمه ماده:
بی له دی چه په دی قانون کښی د جزأ د تـشدید پـوری تاکلی خـاص حالونه اخلا ل شی عمومی مشدده حالونه عبارت دی له:
۱- په هغه صورت کښې چه دجرم

مادۀ یکصدو چهل و ششم:
هـرگـاه محـکمه در خـلا ل رسیدگی بـه دعـوی دریـابد که اوضـاع و احـوال جرم ومجـرم در جنحۀ ارتکاب شده ایجاب رأفت می‌نماید، می‌تواند احکام مندرج مـادۀ (۱۴۴) ایـن قـانون را تطبیـق نماید.

مادۀ یکصدو چهل و هفتم:
در تمـام حـالاتـی‌که محکمـه بـه تخفیـف جزا مطابق احکام مواد (۱۴۳-۱۴۴-۱۴۵-۱۴۶) ایـن قـانون حکـم مـی‌نمایـد، مکلـف اسـت معـاذیر و احـوالی را کـه بـه موجـب آن جـزا تخـفیف مـی‌یابـد در اسـباب حکـم خـود تصریح نماید.

فصل ششم
احوال مشددۀ عمومی

مادۀ یکصد و چهل و هشتم:
بدون اخلال نمودن احوال خاصی- کـه در مـورد تـشدید جـزا در ایـن قـانون پـیش بینـی شـده، احوالـل مشددۀ عمومی عبارت است از:
۱- در صورتی‌که انگیزه ارتکاب

دارتکاب انگیزه ټیټه او سپکه وی.
۲- په هغه صورت کښې چه د جرم ارتکاب د مجنی علیه د ادراک د ضعف ددرک اویا ددفاع څخه د ناتوانی په وخت کښی شوی وی.
۳- په هغه صورت کښې چه جرم په وحشي توګه ارتکاب شوی وی یا مجنی علیه مثله شوی وی.
۴- په هغه صورت کښې چه د عمومی خدمتونو مؤظف د رسمی حیثیت او نفوذ څخه په استفادی سره د جرم مرتکب شي.
۵- په هغه صورت کښې چه د اقتصادی اضطرار د حالت څخه په استفادی سره د جرم ارتکاب وشی.*

جرم دنی ومنحط باشد.
۲- در صورتی‌که ارتکاب جرم هنگام درك ضعف ادراك مجنی علیه و یا عجز او از دفاع به عمل آید.
۳- در صورتی‌که جرم طور وحشیانه ارتکاب یافته یا مجنی علیه مثله گردد.
۴- در صورتی‌که مؤظف خدمات عامه با استفاده از حیثیت ونفوذ رسمی خود مرتکب جرم گردد.
۵- در صورتی‌که ارتکاب جرم با استفاده از حالت اضطرار اقتصادی به عمل آمده باشد.*

یوسل اونهه څلویښتمه ماده:
که په جرم کښې مشدده حالونه موجود وی محکمه کولی شی په راتلونکی ترتیب حکم وکی:
۱- په هغه صورت کښې چه ټاکلی جزأ دوام لرونکی حبس وی په اعدام.
۲- په هغه صورت کښې چه ټاکلی جزأ اوږد، متوسط یا لنډ حبس وی دذکر شوی جزأ د اکثری اندازی څخه زیات، په دی شرط چه

مادهٔ یکصدو چهل ونهم:
هرگاه در جرم احوال مشدده موجود باشد محکمه می تواند به ترتیب آتی حکم نماید:
۱- در صورتی‌که جزای پیش بینی شده حبس دوام باشد به اعدام.
۲- در صورتی‌که جزای پیش بینی شده حبس طویل، حبس متوسط یا حبس قصیر باشد، به بیش از حداکثر جزای مذکور مشروط

* ایزاد ماده ۱۴۸ در بخش تعدیلات این قانون آمده.

داصلی جزأ د اکثری انـدازی ددوه چـنده تجاوز ونه کی. په هـر حال د شـدیـد اوږد حبس موده د شلو کلونو څـخه زیـاتیدی نـه شـی.

یوسل او پنځوسمه ماده:

۱- کـه مـشدده حـالونه د مخففـه عذرونو یـا قضائي مخففه حـالونو سره چـه د زړه سوی مـستوجب وی په یوه جرم کښی جمع شی محکمه بـه اول مـشدده حـالونه بیـا مخففـه عذرونـه او پـه آخـر کـښې بـه د قـضائی مخففـه حـالونو چـه د زړه سوی مستوجب وی مراعات کوی.

۲- کـه مـشدده حـالونه د مخففـه عـذرونو معـادل او قـضائی مخففـه حـالونه د زړه سـوی مـستوجب وی محکمـه کـولی شـی بـی لـه دی چـه ټول دا حالونه په نظر کښې ونیسی د جرم پـه اصـلی ټـاکلی جـزأ حکـم وکی. که مشدده حالونه او قضائی مخففـــه عذرونـــه او احـــوالونه متعـارض، پخپلـو تـاثیرونو کـښې متفاوت وی محکمه کولی شی چه د عـدالت د تـأمین پـه منظـور ډیـر قوی ته ترجیح ورکی.

بر اینکـه از دو چند حداکثر جزای اصـلی تجـاوز نکنـد. بـه همـه حـال تشدید جزای حبس طویـل از (۲۰) سال بیشتر بوده نمی تواند.

مادۀ یکصدو پنجاهم:

۱- هـــرگـــاه احـوال مـشدده بـا مـعاذیـــر مخفـــفه ویـــا احـوال مخفـفـۀ قضائی کـه مســـتوجب رأفت بـــاشد در یـك جـــرم جمع شـود محکمـه اولاًاحـوال مـشدده، بعداً معاذیر مخففه و اخیراً احوال مخففه قضائی مستوجب رأفت را رعایت می‌نماید.

۲- اگـر احـوال مـشدده معـادل معـاذیر مخففـه و احـوال مخـففۀ قـضائی مـستوجب رأفـت باشـد محـــکمه میتوانـد بـدون در نظـر گـرفتن تمـام ایـن احـوال بـه جـزای اصلی پیش بینی شده جـرم حکم نمایـد. اگـر احـوال مـشدده و معـاذیر و احـوال مخففۀ قـضائی متعـارض در اثرات خـود متفـاوت باشد محکمه می تواند به منظور تأمیـــن عـــدالت قـــویترین آن را تـرجیح بـدهد.

یوسل او یو پنځوسمه ماده:

۱- کـه د جـرم ارتکـاب دغیـر مشروع کسب دحاصلیدلو په قصد شوی وی او په قانون کښې یی جزأ غیـر د خـساری د جبـران څخـه وی محکمه کولی شی چه په ټاکلی جزأ علاوه د خساری په جبران هم حکم وکی په دی شرط چه د خساری د جبران انـدازه د هغـه شـی د قیمت څخه چه مجرم لاس ته راوړی یائی د هغی د لاس ته راوړلو قصد لرلو زیاته نه شی.

۲- دا حکم هغه وخت تطبقیږی چه قانون د هـغی پـه خـلاف تصریح نه وی کړی.

مادۀ یکصدو پنجاه ویکم:

(۱) این ماده به اثر اکراه محافظین صورت گیرد، مرتکب به حبس طویل محکوم می‌گردد.

۵- سارق، تلف کننده یا پنهان کنندهٔ اسناد دارای ارزش ملی به حداکثر جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۶- اگر سرقت یا اتلاف اسناد مندرج فقرهٔ (۵) این ماده به اثر اهمال مؤظف خدمات عامه صورت گرفته باشد، مرتکب به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

دوه سوه اویو اتیایمه ماده:

که د پست او تلګراف مؤظف تسلیم شوي مکتوب یا تلګراف پټ، افشاء یا خلاص کی یا ددې منظور د پاره د نورو د پاره آسانتیا برابره کی، د مسلک څخه په طرد یا د وظیفي څخه په انفصال علاوه په لنډ حبس چه د دري میاشتو کم نه وي یا نقدي جزأ چه ددري زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

مادهٔ دوصدو هشتادویکم:

هرگاه مؤظف پست و تلگراف مکتوب یا تلگراف تسلیم شده را پنهان، افشاء یا باز نماید و یا به منظور این امر برای دیگران سهولت فراهم سازد، علاوه بر طرد از مسلك یا انفصال از وظیفه به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

اووم فصل
د قانوني صلاحيت دحدودو څخه د عمومي خدمتونو د مؤظفينو تېرى

دوه سوه او دوه اتيايمه ماده:
كـه د عمـومى خـدمتونو مؤظـف دعوى د دواړو خواوو څخه يوه ته د ګټې يـا ضـرر رسـولو پـه مقـصد د قاضـى يـا محكمـى پـه نـزد د امـر، التمـاس غوښـتنى يـا سـفارش پـه صيغه واسطه شي، په لنډ حبس چه ددرى ميـاشـتو څخـه كـم نـه وى يـا نقـدى جـزأ چـه ددرى زرو افغـانيو څخـه كمـه او د دولـس زرو افغـانيو څخه زياته نه وى محكوميږي.

دوه سوه او دري اتيايمه ماده:
كه قاضي بى دقانونى جواز څخه د فيـصلي او حكـم د صـادريدو څخـه منع راوړى او يا ثابته شى چه ددې قـانون د (۲۸۲) مـادې ددرج شـوو سـببونو څخـه د يـوه پـه بنـا ناحقـه فيصله يي صـادره كړي، د حـالونو سره سم په متوسط حبس او دمسلک څخه په طرديدو محكوميږي.

فصل هفتم
تجاوز مؤظفين خدمات عامه از حدود صلاحيت قانونى

مادۀ دوصدو هشتادو دوم:
هرگـاه مؤظـف خـدمات عامـه بـه مقصد رسانيدن نفع يا ضرر بيكى از طـرفين دعـوى نـزد قاضـى يـا محكمه به صيغه امر يا التماس يا خواهش و يا سفارش واسطه شود، بـــه حبس قـصيرى‌كـه از سـه مـاه كمتر نباشد يـا جزاى نقدى كه از سه هزار افغـانى كـمتر و از دوازده هزار افغانى بيشتر نباشد محكوم مى‌گردد.

مادۀ دوصدو هشتادو سوم:
هـــرگـــاه قاضـــى بـــدون مجـــوز قـانونى از اصـدار فيـصله وحكـم امتناع ورزد و يـا اثـبات گردد كـه بنـا بـه يكـى از اســباب منـدرج مـادۀ (۲۸۲) ايـن قـانون فيـصـله ناحـق صـادر نمـوده است، حسب احوال بـه حبـس متوسط وطرد از مســلك محكوم مى‌گردد.

دوه سوه او څلور اتیایمه ماده:
که قاضي د قانوني غوښتنې څخه وروسته، د حکم صادریدل رد یا متوقف کې، د حکم څخه منع کیدونکی شمارل کیږي. که څه هم په قانون کښې د حکم یا د هغې د صراحت په نیشتوالی استدلال وکې، مګر داچه قانون بل ډول حکم کړی وی.

مادۀ دو صدو هشتادو چهارم:
هرگاه قاضی بعد از مطالبه قانونی، اصدار حکم را رد ویا متوقف سازد، ممتنع از حکم شمرده می‌شود. گرچه بر عدم موجودیت حکم در قانون یا صراحت آن استدلال نماید مگر اینکه قانون طور دیگری حکم نموده باشد.

دوه سوه او پنځه اتیایمه ماده:
۱- که د عمومي خدمتونو مؤظف د خپل وظیفوي صلاحیت څخه په استفادې سره عمداً د قوانینو حکمونه مقررات، حکم، د محکمې قرار اوامر، یا د حکومت د صلاحیت لرونکی مراجعو امرونه او یا د مالونو او مالیو تحصیل چه د قانون په حکم تاکل شوی، بې د قانوني جواز څخه متوقف کې، دحالونو سره سم په لنډ حبس چه ددرې میاشتو څخه کم نه وي یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو څخه کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی توقف په اثر دولت دپلانونو په اجراء

مادۀ دوصدو هشتادو پنجم:
۱- هرگاه مؤظف خدمات عامه با استفاده از صلاحیت وظیفوی خود عمداً احکام قوانین، مقررات، حکم، قرار وامر محکمه یا اوامر صادره مراجع با صلاحیت حکومت و یا تحصیل اموال و مالیاتی را که بحکم قانون تعیین گردیده، بدون مجوز قانونی متوقف سازد، حسب احوال به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی ایکه از سه هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.
۲- اگر باثر توقف مندرج فقرۀ فوق در اجرای پلانهای دولت

کولو کښی تأخیر یا معطلي واقع شی او یا عمومی شتمنی ته صدمه ورسیږی، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اوږده یا متوسط حبس محکومیږي.

تأخیر یا معطلی رونما گردد ویا به دارائی عامه صدمه برسد، مرتکب حسب احوال به حبس طویل یا متوسط محکوم می گردد.

دوه سوه اوشپږ اتیایمه ماده:

۱- که کمه اندازه دری نفره د عمومی خدمتونو مؤظفین د غیر قانوني شریک مرام ته درسیدو په مقصد خپله وظیفه که څه هم د استعفی په صورت وی ترک کی اویا عمداً د وظیفی د اداًکولو څخه استنکاف وکی، هریو په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم او دشپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا نقدي جزأ چه دري زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

۲- که د وظیفی د ترک یا استنکاف په نتیجه کښې ژوند، صحت او عمومی امنیت د خطر سره مواجه شی یا د خلکو په منځ کښې فتنه او نا آرامی پیدا شی یا عمومی ګټو ته ضرر ورسیږی، ارتکاب کوونکی دپورتنی فقری د اکثری اندازی په دوه چنده جزأ

مادۀ دوصدو هشتادو ششم:

۱- هرگاه حداقل سه نفر از مؤظفین خدمات عامه به مقصد نیل به مرام مشترك غیر قانونی وظیفه خود را ولو به صورت استعفی باشد ترك کنند و یا عمداً از ادای وظیفه استنکاف نمایند. هر یك به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر و از شش ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

۲- اگر در نتیجۀ ترك یا استنکاف از وظیفه حیات، صحت و امنیت عامه به خطر مواجه گردد یا اضطراب و فتنه در بین مردم ایجاد شود و یا به منافع عمومی ضرری وارد گردد. مرتکبین به دو چند حداکثر جزای مندرج فقره فوق محکوم

محکومیږي.

دوه سوه او اووه اتیایمه ماده:
۱- که دعمومی خدمتونو مؤظف د کار په جریان کښې دخلل اچولو یا معطلولو په قصد خپله وظیفه ترک کی یا ددې منظور د پاره د وظیفي د اداکولو څخه استنکاف وکی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم نه وی او ددولس زرو افغانیو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ذکر شوی مؤظف په باره کښې ددې قانون د (۲۸۶) مادی د (۲) فقری حکم صدق پیداکی، ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جزأ د اکثری اندازی په دوه چنده محکومیږي.

دوه سوه او اته اتیایمه ماده:
۱- که شخص د تحریك له لاری د دی قانون د (۲۸۶ ، ۲۸۷) مادو د درج شوو جرمونو د جملی څخه په یوه کی ګډون وکی، د حالونو سره سم د ذکر شوو مادو د تاکل

می گردند.

مادۀ دوصدو هشتادو هفتم:
۱- هرګاه مؤظف خدمات عامه به قصد اخلال یا تعطیل در جریان کار وظیفه خود را ترك کند یا به این منظور از ادای وظیفه استنکاف ورزد، به حبس قصیری که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.
۲- اگر در مورد مؤظف مذکور فقرۀ فوق حکم فقرۀ (۲) ماده (۲۸۶) این قانون صدق پیدا کند مرتکب به دو چند حداکثر جزای مندرج فقرۀ (۱) این ماده محکوم می گردد.

مادۀ دوصدو هشتادو هشتم:
۱- هرگاه شخصی به سبیل تحریك در ارتکاب یکی از جرایم مندرج مواد (۲۸۶- ۲۸۷) این قانون اشتراك نماید، حسب احوال به دو چند جزاهای پیش

شـــوو جزأګـــانو پـــه دوه چنـــده محکومیږی .

۲- کـه د پـورتنی فقـری ذکـر شـوی شخص د عمومی خدمتونو مؤظف وی پـه ټاکـل شـوی جـزأ عـلاوه د مسلك څخه پـه طـرد یـا د وظیفی څخه په انفصال هم محکومیږی.

بینـی شـده مـواد متـذکره محکـوم می‌گردد.

۲- اگـر شـخص مـذکور فقـرهٔ فـوق مـؤظـــف خـدمات عامـه باشـد ، علاوه بر جزای پیش بینی شده به طرد از مسلك یا انفصال از وظیفه نیز محکوم می گردد.

دوه سوه او نهه اتیایمه ماده:

۱- که شخص د عمومي خدمتونو مؤظـف یـا مـؤظفین پـه یـو قـسم داقـسامو د کـار پـه تـرک کولـو او یـــا د یـــوه وظیفـــوي مکلفیـــت د اداکولو څخه په استنکاف تحریک یا تشجیع کي او د هغه په تحریک یـا تـشجیع کومـه نتیجـه مرتبـه نـه شي، په حبس تر دري میاشتو یـا نقـدي جـزأ تـر دری زرو افغـانیو محکومیږي.

۲- که محرک د عمومی خدمتونو مؤظـــف وی د پـــورتنی فقـــری د درج شـــوی جـــزأ پـــه دوه چنـــده محکومیږي.

مادهٔ دوصدو هشتادو نهم:

۱- هـــرگاه شخـصی مؤظـف یـا مؤظفین خدمات عامه را به نحوی از آنجا به ترك كار ویا استنکاف از ادای یکـی از مکلفیـت هـای وظیفـوی تحریـك یـا تـشـجیع نمایـد و بـه تحریـك و تـشجیع او کـــدام نتیجـــه مرتـــب نگـــردد ، بـه حبس الـی سـه مـاه یـا جـزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم می‌گردد.

۲- اگـر محـرك مؤظـف خـدمات عامـه باشـد بـه دو چنـد جـزای منـدرج فقـرهٔ فـوق محکـوم می‌گردد.

اتم فصل
د عمومی خدمتونو په مؤظفینو تېری

دوه سوه او نوي یمه ماده:
کـه شـخص د عمـومی خـدمتونو پـه مؤظـف د قـوې پـه استعمـال، شـدت، ویرولـو یـا تهدیـد تېـری وکـي یـا پـه تېـري شـروع وکـی پـه لنډ حـبس چـه د شـپږ میاشـتو کـم نـه وی یـا نقـدي جـزأ چـه د شـپږ زرو افغـانیو کمـه او د دولـس زرو افغـانیو زیاتـه نـه وي اویاپه دواړو جزاګانومحکومیږي.

دوه سوه او یو نوی یمه ماده:
۱- که شخص د عمومی خدمتونو مؤظف پـه دوام لرونکی تعقیب د کـور یـا د وظیفـی د محـل پـه خـوا کښی توقـف، پـه هغـه تهدیـد یـا دوظیفی د اجراء څخه پـه منع کولو په یو قسم داقسامو د تېري لاندې واقـع شـي، ددې قـانون د (۲۹۰) مـادی پـه عـین ټاکـل شـوی جـزأ محکومیږي.
۲- که ارتکاب کوونکی د عمومی خـدمتونو مؤظـف وی د پـورتنی

فصل هشتم
تجاوز علیه مؤظفین خدمات عامه

مادۀ دوصدو نودم:
هرگـاه شخـصی علیـه مؤظـف خدمات عامـه بـا اسـتعمال قـوه، شـدت، تخویـف یـا تهدیـد تجـاوز کند ویا به تجاوز شروع نماید، بـه حبس قصیری‌که از شش مـاه کمتـر نباشد یـا جزای نقدی کـه از شـش هـزار افغـانی کمتـر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد و یـا بـه هر دو جزا محکوم می‌گردد.

مادۀ دوصدو نود یکم:
۱- هرگـــاه شخـــص مؤظـــف خـدمات عامـه را بـا تعقیـب دوامدار، توقف در جوار مـنزل یـا محل وظیفـه او بـه قصد تهـدید ویـا منـع او از اجـرای وظیـفه بـه نحـوی از انحا مورد تجـاوز قـرار دهـد، بـه عـین جزای پیش بیـنی شـدۀ مـادۀ (۲۹۰) ایـن قـانون محکوم می‌گردد.
۲- اگـــر مرتکـب مـؤظـف خدمات عامـه بـاشـد عـلاوه بـر

فقری په درج شوی جزأ علاوه د مسلک څخه په طرد یا دوظیفی څخه په انفصال هم محکومیږی.

جزای مندرج فقرهٔ فوق به طرد از مسلك یا انفصال از وظیفه نیز محکوم می‌گردد.

دوه سوه او دوه نوی یمه ماده:
که د عمومی خدمتونو په مؤظف د شخص د تیری یا مقاومت په اثر وهل یا زخم صورت ومومي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادهٔ دوصدو نود ودوم:
هرگاه به اثر مقاومت یا تجاوز شخص علیه مؤظف خدمات عامه ضرب یا جرح صورت گیرد مرتکب حسب احوال به حبس متوسط یا جزای نقدی که از شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دوه سوه او دري نوي یمه ماده:
۱- که ددې قانون د (۲۹۲) مادی د درج شوی وهلو یا زخم په اثر مجنی علیه په مؤقتي توګه معیوب شی یا دشلو ورځو څخه زیات د کار کولو څخه عاجز پاتی شي، ارتکاب کوونکی د خساری په جبیری علاوه په متوسط حبس چه د دوو کلونو څخه کم نه وی هم محکومیږي.
۲- که وهل یا زخم په دایمي معلولیت منجر شي یا دمخکنی تر صد او اصرار سره یوځای وي یا دوسلي سره یا ددوه نفرو څخه د

مادهٔ دوصدو نودوسوم:
۱- هرگاه به اثر ضرب یا جرح مندرج مادهٔ (۲۹۲) این قانون مجنی علیه مؤقتاً معیوب گردد و یا متجاوز از بیست روز از انجام کار عاجز ماند، مرتکب علاوه بر جبران خساره به حبس متوسط که از دو سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- اگر ضرب یا جرح به معلولیت دایمی منجر گردد یا توأم با سبق ترصد و اصرار باشد یا با حمل سلاح و یا از جانب بیش از دو نفر

زیاتو له خوایي صورت نیولي وی، ارتکاب کوونکی ددی قانون د (۴۰۸ تر ۴۱۳) مادو په ټاکل شوو جزاګانو محکومیږي.

صورت گرفته باشد، مرتکب به جزای پیش بینی شدهٔ مواد (۴۰۸) الی (۴۱۳) این قانون محکوم می‌گردد.

دوه سوه او څلور نوی یمه ماده:
که شخص په اشاره یا قول یا تهدید د عمومی خدمتونو مؤظف دوظیفي د اجراء کولو په وخت کې یا دهغی په سبب سپک کی، په لنډ حبس چه دری میاشتو څخه کم او د شپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

مادهٔ دوصدو نودو چهارم:
هرگاه شخص به اشاره یا قول یا تهدید مؤظف خدمات عامه را در اثنای اجرای وظیفه و یا به سبب ادای آن توهین نماید، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر و از شش ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از شش هزارافغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

دوه سوه او پنځه نوی یمه ماده:
که سپکاوي د تلګراف یا تیلفون یا لیک یا رسم په وسیله شخص ته متوجه شی ارتکاب کوونکی ددې قانون د (۲۹۴) مادی د (۱) فقری په جزأ محکومیږي.

مادهٔ دوصدو نودوپنجم:
هرگاه اهانت توسط تلگراف یا تیلفون یا نوشته و یا رسم متوجه شخص گردد، مرتکب به جزای فقرهٔ (۱) مادهٔ (۲۹۴) این قانون محکوم می‌گردد.

دوه سوه او شپږو نوی یمه ماده:
که شخص د عمومی خدمتونو سلطی یا د عمومی خدمتونو مؤظفین په دروغجنو اطلاع ګانو

مادهٔ دوصدو نودوششم:
هرگاه شخص سلطات یا مؤظفین خدمات عامه را باطلاع دروغ یا عرایض خلاف حقیقت یا

یا د حقیقت څخه خلاف عریضو یا په بل قسم د حادثو او مصیبتونو د واقع کیدو څخه چه بیخي واقعیت ونه لري سره ددې چه د هغی د عدم واقعیت څخه علم لری، په اضطراب کښې واچوي دلته حبس دجزأ څخه علاوه چه ددې میاشتو څخه کم نه وي یا نقدي جزأ چه دري زرو افغانیو څخه کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي د خساري په جبران چه د دې پلوه وارد شوي هم محکومیږي.

به نحو دیگری از وقوع حوادث ومصائبی که اصلاً واقعیت نداشته باشد با وجود علم به عدم واقعیت آن به اضطراب اندازد، علاوه به جزای حبس قصیری که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد به جبران خساره ای که ازین ناحیه وارد گردیده نیز محکوم می گردد.

نهم فصل
د وظیفو او لقبونو انتحال

فصل نهم
انتحال وظایف والقاب

دوه سوه او اوه نوی یمه ماده:
که څوک بی له دی چه د ماموریت صفت یا ددولت رسمی اجازه ولری د عمومی وظیفو څخه په یوی کښی مداخله وکی او یا ددې وظیفو پوری مربوط یو مکلفیت تر سره کی د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو کمه او دشپیتو زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

مادۀ دوصدو نودو هفتم:
هرگاه شخص بدون داشتن صفت ماموریت یا اجازه رسمی دولت در یکی از وظایف عامه مداخله نماید و یا یکی از مکلفیت های مربوط به این وظایف را انجام دهد، حسب احوال به حبس متوسط یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر واز شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.

دوه سوه او اته نوي يمه ماده:
که شخص بی له دې چه رتبه یا استحقاق ولری عسکری یونیفورم په علنی ډول استعمال کی یا بی له دی چه قانون جواز ورکړی وی د وظیفی ممیزه علامه حمل کی، د حالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

مادۀ دوصدو نودوهشتم:
هرگاه شخصی بدون داشتن رتبه واستحقاق یونیفورم عسکری را طور علنی استعمال نماید یا بدون مجوز قانونی علامه ممیزه وظیفه را حمل کند، حسب احوال به حبسی که از دوسال بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از بیست و چهار هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

دوه سوه او نهه نوی يمه ماده:
که څوک بی له دې چه قانوني جواز ولري خپل ځان په افتخاري لقب یا رتبه یا وظیفه ملقب کی او یا دقضائي ضبط مامور په حیث معرفي کی او یا په علني صورت داسي نښان زوړند کی چه ورته ورکول شوی نه دی، په نقدي جزأ د یوزر څخه تر پنځو زرو افغانیو محکومیږي.

مادۀ دوصدو نودونهم:
هرگاه شخصی بدون مجوز قانونی خود را به لقب افتخاری، یا رتبوی یا وظیفوی ملقب سازد ویا به صفت مامور ضبط قضائی معرفی نماید ویا به صورت علنی نشانی را تعلیق کند که برایش اعطا نگردیده، به جزای نقدی از یك الی پنج هزار افغانی محکوم می گردد.

دری سومه ماده:
که څوک بی د قانونی جواز څخه خپل ځان په خارجی افتخاري یا رتبوی لقب ملقب کی او یا په علنی صورت بی د قانونی جواز څخه یا

مادۀ سه صدم:
هرگاه شخص بدون مجوز قانونی خود را به لقب افتخاری یا رتبوی خارجی ملقب سازد و یا به صورت علنی بدون مجوز قانونی و یا

د دولت د رئیس داجازی څخه خارجی نښان زورند کی، ددې قانون د (۲۹۹) مادی په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

اجازهٔ رئیس دولت نشان خارجی را تعلیق کند، به عین جزای پیش بینی شدهٔ مادهٔ (۲۹۹) این قانون محکوم می‌گردد.

دری سوه او یوومه ماده:
ددې قانون د (۲۹۹، ۳۰۰) مادو په درج شوو حالونو کښې محکمه کولی شی د فیصلی د حکم لنډیز په ورځنی جریده کښی چه د محکمی له خوا ټاکل کیږي د محکوم علیه په مصرف خپور کی.

مادهٔ سه صدویکم:
در حالات مندرج مواد (۲۹۹و۳۰۰) این قانون محکمه می‌تواند خلاصه حکم فیصله را در جریدهٔ یومی که از طرف محکمه تعیین می‌گردد به صرف محکوم علیه نشر نماید.

لسم فصل
د مروجو پیسو جعل

فصل دهم
جعل پول مروجه

دري سوه او دوه یمه ماده:
۱- کـه څوک په هر کیفیت چه وي هغه پیسې چه په قانوني توګه په افغانستان کښې مروجی دی جعل کی په اوږده حبس محکومیږي.
۲- د مروجه پیسو تقلید، د مسکو کاتو د اصلی مقدار تنقیص یا د هغی ملمع کول په داسی قسم چه د نورو مروجو پیسو سره چه ارزش یې زیات دی شبیه وګرځي، جعل

مادهٔ سه صدو دوم:
۱- هرگاه شخصی به هر کیفیتی که باشد پولی را که قانوناً در افغانستان مروج است جعل نماید، به حبس طویل محکوم می‌گردد.
۲- تقلید پول مروجه، تنقیص مقدار اصلی مسکوکات یا ملمع کردن آن به قسمی‌که با پول مروجه دیگری که ارزش آن بیشتر باشد شبیه گردد، جعل

شمارل کیږي.

دری سوه او درپیمه ماده:
راتلونکی اشخاص په اوږده حبس محکومیږي:
۱- څوک چه سره دعلمه جعلی پیسی رواج یا پری معامله وکی یا د رواجولو یا معاملی په قصد هغه پخپل حیازت کې راوړي.
۲- که څوک سره دعلمه پخپله یا د بل چا په وسیله جعلی پیسی افغانستان ته داخلی کی او یا یی ور څخه وباسی.
۳- که څوک آلات، سامان یا وسیلی دپیسو دجعل دپاره سازکی یا یی په کار واچوی یا یی خرڅ کی یا یی د خرڅ د پاره عرضه کی یا یی په اجاره ورکی یا یی بې دقانونی جواز څخه پخپل حیازت کښې راوړی.

شمرده می شود.

مادۀ سه صدو سوم:
اشخاص آتی به حبس طویل محکوم می گردند:
۱- شخصی که با وجود علم پول جعلی را ترویج یا به آن معامله کند ویا به قصد ترویج یا معامله آنرا در حیازت خود در آورد.
۲- شخصیکه با وجود علم خود او یا توسط شخص دیگری پول جعلی را به افغانستان داخل و یا از آن خارج نماید.
۳- شخصی که آلات، ادوات یا وسایل را به منظور جعل پول بسازد یا بکار برد یا بفروشد یا بفروش عرضه نماید یا به اجاره دهد و یا بدون عذر قانونی آن را در حیازت خود در آورد.

دری سوه او څلورمه ماده:
که ددې قانون د (۳۰۲او ۳۰۳) مادو د جرمونو د ارتکاب په اثر د افغانستان د پیسو ارزش یا دولتی سندونه تېټ شی یا دننیو یا د باندنیو بازارونو اعتماد د هغی په

مادۀ سه صدو چهارم:
هرگاه به اثر ارتکاب جرایم مندرج مواد (۳۰۲ و۳۰۳) این قانون ارزش پول افغانستان یا اسناد دولتی تنزیل نماید ویا اعتماد بازار های داخلی ویا خارجی به

اثر متزلزله شی، محکمه کولی شی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم کی.

اثر آن متزلزل گردد، محکمه می تواند مرتکب را به حبس دوام محکوم نماید.

دری سوه او پنځمه ماده:
که ددې قانون د (۳۰۲او ۳۰۳) د درج شوو جرمونو څخه د یوه ارتکاب دداسي پیسو په باره کښې صورت ومومی چه په دی دوه مادو کښې نه دی ذکر شوي، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

مادهٔ سه صدو پنجم:
هرگاه ارتکاب یکی از جرایم مندرج مواد (۳۰۲ و۳۰۳) این قانون در مورد پولی صورت بگیرد که درین دو مواد ذکر نیافته است، مرتکب به حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او شپږمه ماده:
که څوک په ښه نیت جعلی پیسي قبولی کی تر هغی وروسته چه په جعلی توب یی علم حاصل شی په هغی معامله وکی، دجعلی پیسو په دوه چنده جزأ چه پری معامله شوی محکومیږی.

مادهٔ سه صدو ششم:
شخصی‌که با حسن نیت پول جعلی را قبول نموده و بعد از حصول علم به جعلی بودن آن، مورد معامله قرار دهد، به جزای نقدی دو چند پول جعلی مورد معامله محکوم می گردد.

دری سوه او اوومه ماده:
هر مجرم چه د جعلی پیسو د په کار اچولو او د تحقیق دپیل څخه ترمخه دخپل جرم څخه ددولت صلاحیت لرونکو مقامونو ته خبر

مادهٔ سه صدو هفتم:
هر مجرمی‌که قبل از به کار انداختن پول جعلی و آغاز تحقیق از جرم خود به مراجع با صلاحیت دولت اطلاع دهد، از

ورکـــی، ددې قـــانون د (۳۰۳، ۳۰۴او ۳۰۵) مـــادو ددرج شـــوو جزاګانو څخه معافیږي.

دري سوه او اتمه ماده:
محکمـه کـولی شـی چـه مجـرم د تحقیـق د پیـل څخه وروسته د جزا څخه معاف کی. په دی شرط چه د هغـه اطـلاع د دولـت صـلاحیت لرونکی مراجع په دی قادری کی چه ددې جرم نور ارتکاب کوونکی یـا د هغـی جـرم د مماثـل ارتکـاب کـوونکی ونیسي.

جزاهـای منـدرج مـواد (۳۰۳-۳۰۴و۳۰۵) ایـن قـانون معـاف می‌گردد.

مادۀ سه صدو هشتم:
محـکمه مـی توانـد مـجرم را بعـد از آغـاز تحـقـیق از جـزا معاف نمـاید. مشروط بر اینکه اطلاع وی مـراجع بـا صلاحیت دولتـی را قـادر گـرداند کـه سـایـر مرتکبـین ایـن جـرم و یـا جـرم مماثـل آنـرا گـرفتار نماید.

یوولسم فصل
تزویر

دری سوه او نهمه ماده:
تزویـر عبـارت دی د حقیقـت څخه خـلاف دلیکونـو، سندونو، امـضاء او مهر جوړولو څخه یا هغی ته دیو ځـای کیـدو، تبدیلیـدو، تقلیـد یـا حذف په وسیله.

دری سوه اولسمه ماده:
۱- کـه څـوک یـو راتلـونکی شـی تزویـر یـا سـره ددې چـه د هغـی

فصل یازدهم
تزویر

مادۀ سه صدو نهم:
تـزویر عـبارت است از ساختن نوشته ها، اسناد، امضـاء ومهر خـلاف حقیـقت یـا تغـییر دادن آن بـه وسـیله اضـافت، تبـدیل، تقلید یا حذف.

مادۀ سه صدو دهم:
۱- شخصی‌که یکی از اشیاء آتی را تزویر یا با وجود علم به تزویر

په تزویر علم لری استعمال یا یی افغانستان ته داخل کی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي:
۱- قانون، فرمان یا د جمهوری ریاست امر، د حکومت تصویب، یا د صدارت فرمان او یا دمحکمی قطعی حکم.
۲- ددولت مهر، د دولت د رئیس مهر یا امضاء.
۲- که څوک یو راتلونکی شی د تزویر په قصد جوړ کی یا سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری استعمال یائی افغانستان ته داخل کی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي:
۱- د دولت دیوی اداری یا تصدی مهر، ټاپه یا علامه.
۲- د عمومی خدمتونو دیوه مؤظف مهر، امضاء یا علامه.
۳- د طلا او دسپینو زرو د عیار رسمي مشخصه علامه.
۴- د معاشونو جدول یا د دولت د خزانو څخه صادر شوي سندونه.
۵- دبانک مالي پانې چه صادریدل یی په قانونی لحاظ مجاز وی.
۶- بری لیک یا تحصیلی سندونه

آن استعمال و یا آن را به افغانستان داخل نماید حسب احوال به حبس طویل محکوم می‌گردد:
۱- قانون، فرمان یا امر ریاست جمهوری، تصویب حکومت و یا فرمان صدارت و یا حکم قطعی محکمه.
۲- مهر دولت، مهر یا امضای رئیس دولت.
۲- شخصی‌که یکی از اشیای آتی را به قصد تزویر بسازد یا با وجود علم به تزویر آن استعمال یا آنرا به افغانستان داخل نماید حسب احوال به حبس متوسط محکوم می‌گردد:
۱- مهر، تاپه یا علامه یکی از ادارات یا تصدیهای دولت.
۲- مهر، امضاء یا علامه یکی از مؤظفین خدمات عامه.
۳- علامه رسمی مشخصه عیار طلا ونقره.
۴- جدول معاش یا اسناد صادرهٔ خزائن دولت.
۵- اوراق مالی بانك که صدور آن قانوناً مجاز باشد.
۶- شهادت نامه یا اسناد

عام له دی چه کورنی وی یا د باندنی.

تحصیلی اعم از داخلی و خارجی.

دری سوه او یوولسمه ماده:
ددې قانون د (۳۱۰) مادی په درج شوو حالونو کښې مجرم چه د جرم د تمامیدو یا د تحقیق د پیل تر مخه د خپل جرم نه د دولت صلاحیت لرونکو مراجعو ته خبر ورکی د جزأ څخه معافیږي.

مادۀ سه صدو یازدهم:
در حالات مندرج مادۀ (۳۱۰) این قانون مجرمی‌که قبل از اتمام جرم یا آغاز تحقیق از جرم خود به مراجع با صلاحیت دولت اطلاع دهد از جزا معاف می‌گردد.

دري سوه او دوولسمه ماده:
محکمه کولی شی ددې قانون د (۳۱۱) مادی درج شوی مجرم د تحقیق د پیل څخه وروسته د جزأ نه معاف کی. په دې شرط چه د هغه اطلاع د دولت صلاحیت لرونکی مقامونه په دې قادر کی چه ددې جرم یائی د مماثل جرم نور ارتکاب کوونکی ونیسي.

مادۀ سه صدو دوازدهم:
محکمه می تواند مجرم مندرج مادۀ (۳۱۱) این قانون را بعد از آغاز تحقیق از جزا معاف نماید. مشروط بر اینکه اطلاع وی مراجع با صلاحیت دولتی را قادر گرداند که سایر مرتکبین این جرم ویا جرم مماثل آنرا گرفتار نماید.

دری سوه او دیارلسمه ماده:
۱- که د عمومی خدمتونو مؤظف د وظیفی د اجراء کولو په وخت کښې صادر شوی حکمونه، تصویبونه، وثیقی، د سندونو د ثبت کتابونه، دفترونه او نور

مادۀ سه صدو سیزدهم:
۱- هرگاه مؤظف خدمات عامه در اثنای اجرای وظیفه احکام صادره، تصاویب، وثایق، کتب ثبت اسناد دفاتر و سایر اسناد و نوشته‌جات رسمی

رسمی سندونه او نوشتی عمداً تزویر کی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی تزویر په عرفي سندونو کښې صورت ونیسي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط یا لنډ حبس محکومیږي.

را عمداً تزویر نماید، حسب احوال به حبس طویل محکوم می‌گردد.

۲- اگر تزویر مندرج فقرهٔ فوق در اسناد عرفی صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به حبس متوسط یا قصیر محکوم می‌گردد.

دری سوه او څوارلسمه ماده:

که ددې قانون د (۳۱۳) مادی د جرمونو ارتکاب کوونکی د عمومی خدمتونو مؤظف نه وی، دحالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.*

مادهٔ سه صدو چهاردهم:

هرگاه مرتکب جرایم مندرج مادهٔ (۳۱۳) این قانون مؤظف خدمات عامه نباشد، حسب احوال به حبس طویل که از ده سال تجاوز نکند محکوم می‌گردد.*

دری سوه او پنځلسمه ماده:

د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه د تزویر په قصد دسندونو متن یا شکل ته دلیکلو په وخت کښې د وظیفی له حیثه تغییر ورکی عام له دی چه دا تغییر د شخص په اقرار کی وی چه سند ورته لیکل کیږي یا تزویر شوی واقعه سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری د صحیحي واقعي په شکل یی درج کی،

مادهٔ سه صدو پانزدهم:

هر مؤظف خدمات عامه که به قصد تزویر متن یا شکل اسناد را هنگام تحریر آن منحیث وظیفه تغییر بدهد خواه این تغییر در اقرار شخص باشد که سند برای او تحریر می‌شود و یا واقعه مزوره را با وجود علم به تزویر آن به شکل واقعه صحیح درج نماید، حسب احوال

* ماده ۳۱۴ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات این قانون مراجعه شود.

دحالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

به حبس طویل محکوم می‌گردد.

دري سوه او شپاړسمه ماده:
که څوک ددې قانون د (۳۱۳، ۳۱۴، ۳۱۵) مادو تزویر شوی پانې سره دې چه د هغی په تزویر علم لري استعمال کي، د حالونو سره سم په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.*

مادۀ سی صدو شانزدهم:
شخصی‌که اوراق تزویر شدۀ مندرج مواد (۳۱۳، ۳۱۴، ۳۱۵) این قانون را با وجود علم به تزویر آن استعمال نماید، حسب احوال به حبس طویلی‌که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.*

دری سوه او اووه لسمه ماده:
که څوک د بل چا په لیک کښې د تزویر ارتکاب کوونکی شی یا سره ددې چه په تزویر علم لری تزویر شوی پانه استعمال کی، دحالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

مادۀ سه صدو هفدهم:
شخصی که در نوشتۀ شخص دیگری مرتکب تزویر گردد یا با وجود علم به تزویر ورق تزویر شده را استعمال نماید حسب احوال به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

دری سوه او اتلسمه ماده:
که څوک په ناحقه د دولت حقیقي مهر یا د دولت د یوی اداری یا د یوی تصدی مهر لاس ته راوړی او هغه د عمومی یا خصوصی ګټو په ضد استعمال کی، د خساری په جبران علاوه په متوسط حبس

مادۀ سه صدو هجدهم:
شخصی‌که غیر حق مهر حقیقی دولت یا مهر یکی از ادارات یا تصدیهای دولت را به دست آورد و آنرا بضرر منافع عامه یا خصوصی استعمال نماید، علاوه بر جبران خساره عاید به حبس

* ماده ۳۱۶ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات این قانون مراجعه شود.

محکومیږي.

دری سوه او نولسمه ماده:
۱- طبیب، جراح یا قابله چه تزویر شوی تصدیق یا اظهارات سره د دې چه د هغی په تزویر علم لری د حمل، د معلولیت د مرض، عیب یا وفات په مواردو کښې شخص ته ورکی د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه د (دوولس زرو) افغانیو څخه کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم د څه شی د غوښتنی په اثر د خپل ځان د پاره یا د بل شخص د پاره یا دوعدی یا د بخشش د قبلولو یا اخیستلو په بدل کښې ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه کمه اود شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.*

دری سوه او شلمه ماده:
که څوک پخپله یا د بل شخص په وسیله د معلولیت د اثبات په

متوسط محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو نزدهم:
۱- طبیب، جراح و یا قابله ای‌که تصدیق یا اظهارات مزور را با وجود علم به تزویر آن در موارد حمل، مرض، معلولیت، عیب و یا وفات به شخص بدهد، حسب احوال به حبس متوسط و یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر و از شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- اگر جرم مندرج فقرۀ فوق به اثر طلب چیزی برای خود ویا شخص دیگری ویا در بدل قبول و یا اخذ وعده یا بخشش ارتکاب گردد، مرتکب به حبس متوسط و یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر واز شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.*

مادۀ سه صدو بیستم:
شخصی‌که خود او یا توسط شخص دیگر تصدیق را در مورد

* ماده ۳۱۹ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات این قانون مراجعه شود.

بـاره کـښې تـصدیق د خپـل ځـان یا د بل شخص د پاره ددې منظور د پاره چه محکمی ته ئی وړاندی کی یا په دی قصد چه خپل ځان یا بـل شـخص دیـوه عمـومی خـدمت څخه خلاص کی د طبیب یا جراح په نوم تزویر کی، دحالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه ددولـس زرو افغـانیو کمـه او د شـپیتو زرو افغـانیو زیاتـه نـه وی محکومیږي.

اثبـات معلولیـت بـرای خـود و یـا بـرای شـخص دیگـر بـه منظـور تقـدیم آن بـه محکمـه یـا بـه قـصد این‌که خـود یا شخـص دیـگری را از یکی از خدمات عامه رها سازد بنام طبیب یا جراح تزویر نماید، حسب احوال به حبس متوسط یـا جـزای نقـدی کـه از دوازده هـزار افغـانی کمتـر و از شـصت هـزار افغـانی بیـشتر نباشـد محکـوم می‌گردد.

دری سوه او یو ویشتمه ماده:
کـه څـوک ددې قـانون د (۳۱۹، ۳۲۰) مادو درج شوی تزویر شوی تـصدیق سره ددې چه د هغـی پـه تزویـر علـم لـری استعمـال کـی، پـه دی ډول هغـه محکمـی یـا د دولـت یـوه صـلاحیت لرونکـی مقـام تـه وړاندی کی د (۳۱۹، ۳۲۰) مـادو په عین ټاکل شوی جزأ یـا پـه نقدی جزأ چـه د پنځـو زرو افغـانیو څخـه زیاته نه وی محکومیږي.*

مادۀ سه صدو بیست ویکم:
شخصی‌که تـصدیق مـزور منـدرج مـواد (۳۱۹- ۳۲۰) ایـن قـانون را با وجود علم بـه تزویـر آن استعمـال نماید طوری‌که آنرا بـه محکمـه یـا یکـی از مقامـات بـا صـلاحیت دولت تقدیم نماید به عین جزای پـیش بینـی شـدۀ مـواد (۳۱۹- ۳۲۰) یـا جـزای نقـدی کـه از پـنج هزار افغانی تجاوز نکند محـکوم می‌گردد.*

دري سوه او دوه ویشتمه ماده:
ددې فـصل د حکمونـو پـه تطبیـق کښې د ګوتی نښه د امضاء په څیر

مادۀ سه صدو بیست ودوم:
در تطبیـق احکـام ایـن فـصل نـشان انگـشت ماننـد امـضاء

* ماده ۳۲۱ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات این قانون مراجعه شود.

اعتبار لری.

دوولسم فصل
دپوستی، تلگرافی او مالیاتی
مطبوعو شیانو او علامو تقلید

دری سوه اودرویشتمه ماده:
راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه دشپږو میاشتو زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه د شپږو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک طبع شوی شیان یا دپوستی نمونی په هر قسم چه جوړی شوی وی تقلید کی په دی ډول چه پخپل ظاهری شکل کښی د افغاني پست او تلګراف د دوایرو د پستی علامو سره یا دپست او تلګراف د اتحادیي د غړو هېوادونو د ټکټونو د علامو سره مشابه وی او د حقیقي پانو په عوض کې په آسانتیا سره قبول کړی شی.
۲- که څوک د پورتنی فقری درج شوی طبع شوی شیان یا نمونی په افغانستان کښې رواج کی یا معامله کی، یائی خرڅی کی یا یی

اعتبار دارد.

فصل دوازدهم
تقلید علامات واشیای مطبوع
پوستی، تلگرافی و مالیاتی

مادۀ سه صدو بیست وسوم:
اشخاص آتی به حبس قصیری‌که از شش ماه بیشتر نباشد یا به جزای نقدی که از شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که اشیای مطبوع یا نمونه‌های پستی را به هر نحوی‌که ساخته شده باشد تقلید نماید، طوری که در شکل ظاهری خود با علایم پستی دوایر پست وتیلگراف افغانی یا علایم تکټهای پستی وتیلگرافی دول اعضای اتحادیه پست وتیلگراف شبیه باشد و در عوض اوراق حقیقی به سهولت قبول شده بتواند.
۲- شخصی‌که اشیای مطبوع یا نمونه های مندرج فقرۀ فوق را در افغانستان رواج دهد یا معامله کند یا بفروشد و یا بفروش عرضه

د خرڅ د پاره عرضه کی یا داچه درواجولو، معاملی یا خرڅولو په قصد ئی د ځان سره وساتي.

نماید و یا این‌که به قصد ترویج یا معامله یا فروش نزد خود نگه دارد.

دري سوه او څلیر ویشتمه ماده:

راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم او د شپږ میاشتو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او دشپږ زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي:

۱- که څوک داسی مطبوع شیان یا نمونی تقلید کی چه پخپل ظاهری شکل کښی د افغانی مالیاتي دوایرو د مالیاتی ټکټونو د علامو سره یا د افغاني سري میاشتي د ټکټونو سره شباهت ولری په دې ډول چه د حقیقي پانو په عوض په آسانتیا قبولی کړی شی.

۲- که څوک د پورتنی فقری درج شوی مطبوع شیان یا نمونی په افغانستان کښې رواج کی یا ئی معامله کی یا یی خرڅ کی یا ئي دخرڅ د پاره عرضه کی یا داچه د رواجولو یا معاملی یا خرڅولو په قصد یي وساتي.

۳- په هغه صورت کې چه ددې

مادۀ سه صدو بیست وچهارم:

اشخاص آتی به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر و از شش ماه بیشتر نباشد و یا به جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد:

۱- شخصی‌که اشیای مطبوع یا نمونه های را تقلید نماید که در شکل ظاهری خود با علایم تکت های مالیاتی دوایر مالیات افغانی یا تکت های سره میاشت افغانی شبیه باشد طوری‌که در عوض اوراق حقیقی آن به سهولت قبول شده بتواند.

۲- شخصی‌که اشیای مطبوع یا نمونه های مندرج فقرۀ فوق را در افغانستان رواج دهد یا معامله کند یا بفروشد و یا به فروش عرضه نماید و یا این‌که به قصد ترویج یا معامله یا فروش نزد خود نگه دارد.

۳- در صورتی‌که از ارتکاب

فصل ددرج شوو جرمونو دارتکاب څخه ګټه حاصله شوي وي، محکمه به د هغی د مثل په ردولو هم حکم کوی.

جرایم مندرج این فصل مفاد حاصل شده باشد، محکمه به رد مثل آن نیز حکم می نماید.

دیارلسم فصل
د مواصلاتو معطلول

فصل سیزدهم
تعطیل مواصلات

دری سوه او پنځه ویشتمه ماده:
که څوک عمداً د عمومی ځمکنی، اوبنی او هوائی مواصلاتی وسیلو سلامتی په خطر کښی واچوی یا هغه د کاره واچوی په متوسط حبس محکومیږي.

مادهٔ سه صدو بیست وپنجم:
شخصی که عمداً سلامت وسایل مواصلا تی عامهٔ زمینی، آبی و هوائی را به خطر مواجه گرداند ویا آنرا عاطل سازد به حبس متوسط محکوم می گردد.

دری سوه او شپږ ویشتمه ماده:
که ددې قانون د (۳۲۵) مادی ددرج شوی فعل د ارتکاب څخه شدید زخمونه پیدا شی د حالونو سره سم په اوږده حبس او که د هغی په اثر شخص یا اشخاص فوت شي، ارتکاب کوونکی دحالونو سره سم په اعدام یا اوږده حبس محکومیږي.

مادهٔ سه صدو بیست وششم:
هرگاه از ارتکاب فعل مندرج مادهٔ (۳۲۵) این قانون جراحات شدید بوجود آید، مرتکب حسب احوال به حبس طویل واگر به اثر آن شخص یا اشخاص فوت نماید، مرتکب حسب احوال به اعدام یا حبس دوام محکوم می گردد.

دری سوه او اووه ویشتمه ماده:
که څوک د بی احتیاطی په اثر د یوی حادثي سبب شی چه د هغی په اثر شخص یا اشخاص چه په یوي مواصلاتي ځمکنی، اوبنی یا هوائي وسیلي کښي سپاره وي د خطر سره مخامخ کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

مادۀ سه صدو بیست وهفتم:
شخصی‌که به اثر بی احتیاطی سبب حادثه گردد که به اثر آن شخص یا اشخاصی‌که در یکی از وسایل مواصلا تی زمینی، آبی یا هوائی قرار دارند بخطر مواجه گردند، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر واز شش ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

دری سوه او اته ویشتمه ماده:
که د دی قانون د (۳۲۷) مادی د درج شوی فعل د ارتکاب څخه شدیده جسمی صدمه یا مرګ پیدا شی، په متوسط حبس چه د دري کلونو څخه کم نه وی محکومیږی.

مادۀ سه صدو بیست وهشتم:
هرگاه از ارتکاب فعل مندرج مادۀ (۳۲۷) این قانون صدمۀ شدید جسمی یا فوت بوجود آید، مرتکب به حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

دری سوه اونهه ویشتمه ماده:
که څوک عمداً په یو قسم د اقسامو څخه د تیلفوني یا تلګرافي مخابرو د قطع کیدو سبب شي، د خساري په جبران علاوه په متوسط حبس چه د دوه کلونو څخه کم نه

مادۀ سه صدو بیست ونهم:
شخصی‌که عمداً به نحوی از انحا سبب انقطاع مخابرات تیلفونی یا تیلگرافی گردد علاوه بر جبران خساره به حبس متوسط که از دو سال کمتر نباشد محکوم

وي محکومیږي.

دري سوه او دیرشمه ماده:
که ددې قانون د (۳۲۹) مادی درج شوی مخابری د اهمال یا بی احتیاطی په اثر پری شي، مرتکب د خساري په جبران علاوه په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم یا نقدي جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

دري سوه اویو دیرشمه ماده:
۱- که څوک د تیلفون لین یا نوري مخابراتي وسیلي دقوي په استعمال په خپل تصرف کښي راوړي یا یي تلف کي یایي په بل ډول د استفادی څخه وباسي، که څه هم په مؤقتي توګه وي یا داچه په زور او اکراه د هغی د ترمیم او جوړولو مانع وګرځي په دې ډول چه دا اقدام د مخابري د پري کیدو باعث وګرځي، د خساري په جبران علاوه په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کم نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری درج شوي

می گردد.

مادۀ سه صدو سی ام:
هرگاه انقطاع مخابرات مندرج مادۀ (۳۲۹) این قانون به اثر اهمال یا بی احتیاطی صورت گیرد، مرتکب علاوه بر جبران خساره به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.

مادۀ سه صدو سی ویکم:
۱- شخصی‌که لین تیلفون یا سایر وسایل مخابراتی را با استعمال قوت به تصرف خود در آورد یا آنرا تلف نماید یا بنحو دیگری غیر قابل استفاده گرداند، گرچه طور مؤقت باشد و یا این‌که به جبر و اکراه مانع ترمیم و اصلاح آن گردد طوری‌که این اقدام باعث انقطاع مخابره گردد، علاوه بر جبران خساره به حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- اگر جرایم مندرج فقرۀ

جرمونه د اضطرار په حالت کښې ارتکاب شي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اعدام یا دوام لرونکی حبس محکومیږي.

فوق در حالت اضطرار ارتکاب گردد مرتکب حسب احوال به اعدام یا حبس دوام محکوم می‌گردد.

دري سوه او دوه دیرشمه ماده:
که څوک عمداً د تیلفون مخابراتي وسیلو د بد استعمال په سبب د نورو د اذیت سبب شي، په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم نه وی یا په نقدي جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

مادۀ سه صدو سی ودوم:
شخصی‌که عمداً به سبب سوء استعمال وسایل مخابرات تیلفونی سبب اذیت دیگران گردد، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا به جزای نقدی‌که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

څوارلسم فصل
دمحبوسینو فرار او د مجرمینو پټول

فصل چهاردهم
فرار محبوسین و اخفای مجرمین

دري سوه او دري دیرشمه ماده:
۱- که څوک په قانوني توګه نیول شوی وي او فرار وکي په حبس چه ددري میاشتو کم یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو کمه او د شپږ زره افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

مادۀ سه صدو سی وسوم:
۱- شخصی‌که قانوناً گرفتار گردیده وفرار نماید، به حبسی‌که از سه ماه کمتر و از شش ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی‌که از سه هزار افغانی کمتر واز شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۲- که په حبس محکوم شخص د محکمي د حکم د تطبیق په منظور ونیول شي او د نیولو وروسته فرار وکي په محکوم بها جزأ علاوه په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي یا نقدي جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

۳- که د شخص فرار ددې مادې په (۱-۲) فقرو په درج شوو حالونو کښې دقوي د استعمال یا د بل جرم په اثر صورت ومومي په متعددو جرمونو محکومیږي مګر داچه په قانون کښې بل ډول حکم شوي وي.

دري سوه او څلور دیرشمه ماده:

که څوک د نیول شوي شخص په محافظت، ملګرتیا یا انتقال مکلف وي او د هغه د غفلت په سبب شخص فرار وکی په لاندي توګه مجازات کیږي:

۱- که نیول شوي شخص د جنایت په جزأ محکوم وي په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات یا نقدي جزاء چه ددولس زرو افغانیو کمه او د

۲- اگر شخص محکوم به حبس به منظور تطبیق حکم محکمه گرفتار گردد و بعد از گرفتاری فرار نماید، علاوه بر جزای محکوم بها به حبسی‌که از دوسال بیشتر نباشد و یا جزای نقدی‌که از بیست و چهار هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۳- اگر فرار شخص در حالات مندرج فقرات (۱-۲) این ماده باثر استعمال قوه یا جرم دیگری صورت گیرد به جزاهای متعدد محکوم می‌گردد مگر این‌که در قانون طور دیگری حکم شده باشد.

مادۀ سه صدو سی وچهارم:

شخصی‌که به محافظت، همراهی یا انتقال شخص گرفتار شده مکلف باشد و به سبب غفلت وی شخص فرار نماید حسب آتی مجازات می‌گردد:

۱- اگر شخص گرفتار شده محکوم به جزای جنایت باشد به حبس متوسطی‌که از دو سال بیشتر نباشد و یا جزای نقدی‌که از دوازده هزار افغانی کمتر و از

ځلیرویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- د پورتنی فقری ددرج شوو حالونو په غیر مؤظف شخص په لنډ حبس چه ددرې میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وي یا نقدي جزاء چه ددرې زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

بیست و چهار هزار افغانی تجاوز ننماید محکوم می‌گردد.

۲- در غیر از احوال مندرج فقرهٔ فوق شخص مؤظف به حبس قصیریکه از سه ماه کمتر واز شش ماه بیشتر نباشد و یا جزای نقدی‌که از سه هزار افغانی کمتر واز شش هزار افغانی تجاوز ننماید محکوم می‌گردد.

دري سوه او پنځه دیرشمه ماده:

که څوک د نیول شوی شخص په محافظت، ملګرتیا یا انتقا ل مکلف وی د هغه سره په فراریدو کښې مرسته وکي یا فراریدل ورته آسان کي په لاندي توګه مجازات کیږي:

۱- که نیول شوي شخص د اعدام په جزأ محکوم وي مؤظف شخص د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که نیول شوي شخص دحد یا دوام لرونکی حبس په جزأ محکوم شوي وي یا په داسي جرم تورن وي چه جزایي اعدام وي، مؤظف شخص د حالونو سره سم په

مادهٔ سه صدو سی وپنجم:

شخصی‌که به محافظت، همراهی یا انتقال شخص گرفتار شده مکلف بوده وبا او در فرار کمك نماید یا فرار را برای او آسان سازد حسب آتی مجازات می گردد:

۱- اگر شخص گرفتار شده محکوم به جزای اعدام باشد شخص مؤظف حسب احوال به حبس طویل محکوم می‌گردد.

۲- اگر شخص گرفتار شده به جزای حد یا حبس دوام محکوم شده باشد یا متهم به جرمی باشد که جزای آن اعدام باشد شخص مؤظف حسب احوال به حبس

متوسط حبس محکومیږي.
۳- د پورتنیو فقرو ددرج شوو حالونو په غیر مؤظف شخص په لنډ حبس چه ددرې میاشتو څخه کم نه وي محکومیږي.

متوسط محکوم می گردد.
۳- در غیر از احوال مندرج فقرات فوق شخص مؤظف به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد محکوم می گردد.

دري سوه او شپږ دیرشمه ماده:
د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه د شخص په نیولو مکلف وی د نیولو په لازمی اجراآتو کښې د تورن سره د محاکمی څخه د فراریدلو د مرستي په قصد اهمال وکی ددې قانون د (۳۳۵) مادی ددرج شوو حالونو سره سم مجازات کیږي.

مادۀ سی صدو سی وششم:
هر مؤظف خدمات عامه که به گرفتاری شخصی مکلف باشد ودر اجراآت لازمه گرفتاری به قصد معاونت متهم در فرار از محاکمه اهمال ورزد مطابق به احوال مندرج مادۀ (۳۳۵) این قانون مجازات می‌گردد.

دري سوه او اووه دیرشمه ماده:
هر شخص چه پخپله یا د بل شخص په واسطه هغه شخص چه د قانوني نیولو وروسته يي فرار کړي یا په داسي جرم تورن وي چه دنیولو امر يي صادر شوي وي، پټ کي یا د علم سره په یو قسم د اقسامو له محاکمي څخه دشخص په فراریدلو کښې مرسته وکي په لاندي توګه مجازات کیږي:
۱- که شخص چه پټ کړی شوی

مادۀ سه صدو سی وهفتم:
هر شخصی‌که خود او یا توسط شخص دیگر شخصی را که بعد از گرفتاری قانونی فرار نموده یا متهم به جرمی باشد که امر گرفتاری او صادر شده باشد مخفی نماید ویا با وجود علم به نحوی از انحا در فرار شخص از محاکمه کمك نماید حسب آتی مجازات می گردد:
۱- اگر شخصی که مخفی کرده

دی یـا د محـاکمی څخـه د هغـه په پټیدو یا فراریدو کښی مرسته شـوي پـه مـرګ محکـوم وي د حالونو سره سم په اوږده حبس چه د لـسو کلونـو څخـه زیـات نـه وي محکومیږي.

۲- کـه د پـورتنی فقري درج شوي شخص د حد یا دوام لرونکی حبس یا اوږده حبس په جزاء محکوم وي یا په داسي جرم تورن وي چه تاکل شـوي جزایـي اعـدام وي د حـالونو سـره سـم پـه متوسـط حـبس محکومیږي.

۳- دپورتنیـو فقـرو ددرج شـوو حالونو په غیر په متوسط حبس چه ددوه کلونـو څخـه زیـات نـه وي یـا نقدي جزاء چه ددولس زرو افغـانیو څخـه کمـه او د څلیـر ویـشتو زرو افغـانیو څخـه تجـاوز ونـه کـي محکومیږي.

شـده یـا بـه اختفـا یـا فـرار او از محاکمه مساعدت به عمـل آمده محکـوم بـه مـرگ باشـد حـسب احـوال به حبس طـویلی کـه از ده سـال متجـاوز نباشـد محکـوم می‌گردد.

۲- اگـر شخـص منـدرج فقـرهٔ فوق محکوم به جزای حد یا حبس دوام یا حبس طـویل ویا متهم به جـرمی باشـد کـه جـزای آن اعدام پیشبینی شده حسب احـوال بـه حـبس متوسـط محکـوم می‌گردد.

۳- در غیـر از احـوال منـدرج فقرات فوق به جزای حبس متوسط کـه از دوسـال بیـشتر نباشـد یـا جـزای نقـدی کـه از دوازده هـزار افغـانی کمتـر واز بیـست وچهـار هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

دري سوه او اته دیرشمه ماده:

کـه د شـخص پټـول یـا پـه پټولـو کښي مرسته یـا د محـاکمې څخـه فـرار د میـړه، ښـځې، اصـولو یـا فروعـو لـه خـوا وي نـه مجـازات کیږي.

مادهٔ سه صدو سی وهشتم:

هرگاه مخفی ساختن یامساعدت در اختفـا یـا فـرار از محاکمـه شخـصی از جانـب زوج، زوجـه اصول ویا فروع وی صورت گیرد مجازات نمی گردد.

دري سوه او نهه ديرشمه ماده:

۱- کـه څـوک د قباحـت څخـه پـه استثنی د جرم په واقع کیدو علم حاصل کي او په یو قسم د اقسامو د محـاکمې څخـه د مجـرم پـه فراریدو کښې مرسته وکي عام له دي چه مرسته یي مجرم ته د پناه ورکولو په شکل یا د جرم د اثبات ددلایلو په پټولو یا د جرم په باره کـښې د غلطـو معلومـاتو ښـکاره کـول وي سره ددې چـه د هغـي پـه عدم صحت علم ولري په لنډ حبس چه ددې میاشتو کم یا نقدي جزأ چـه ددې زرو افغـانیو کمـه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي. پـه دي شـرط چـه داجـزاء د اصـلي جـزاء د نیمـایي اکثري اندازې څخه تجاوز ونه کي.

۲- دپـورتني فقـرې درج شـوي حکمونه د شخص په میړه، ښځې، اصولو او فروعو نه تطبیقیږي.

مادۀ سه صدو سی ونهم:

۱- شخـصی کـه بوقـوع جـرم بـه اسـتثنای قـباحت علـم حاصـل نماید و به نحوی از انحا بـفرار مجرم از محاکمه کمك نماید اعم از ایـن کـه کمـك وی بـه شکـل پنـاه دادن مجرم یا مخفی ساختن دلایـل اثبـات جـرم ویـا ارائـه معلومـات غلـط در مـورد جـرم بـا وجـود علـم بـهعـدم صـحت آن باشد به حبس قصیری که از سـه مـاه کمتـر نباشـد یـا جزای نقدی کـه از سـه هـزار افغـانی کمتـر و از دوازده هـزار افغـانی تجـاوز نکنـد محکـوم مـی گـردد مـشروط بـر ایـن که جزا از نـصف حداکثر جزای اصلی جرم تجاوز ننماید.

۲- احکـام منـدرج فـقرۀ فـوق بـه زوج، زوجه، اصول وفـروع شـخص تطبیق نمی گردد.

پنځلسم فصل
د مهر محو کول يا ماتول

دري سوه او څلويښتمه ماده:
کـه محـل، پـانې يـا جنـسونه د يـوې دولتـي اداري يـا محکمـي په امر د ساتني په منظور مهر شوي وي د ساتونکي داهـمال پـه اثـر محـو يـا مـات کړی شـي پـه لنډ حـبس چـه ددري ميـاشـتو کـم اود شپږ ميـاشتو څخه زيـات نـه وي يـا پـه نـقدي جـزأ چـه ددري زرو افغـانيو څـخه کمه او د شـپږ زرو افـغانيو څخـه تجـاوز ونـه کـي محکوميږي.

دري سوه او يو څلويښتمه ماده:
که مهر شوي پاڼې يـا جنسونه د يـو شـخص پـورې مربـوطې وي چـه پـه جنايـت کـښې محکـوم عليـه يـا تـورن شـوي وي سـاتونکي چـه د هغـه داهـمال په اثر مهـر محـو يـا مـات کړي شـوي پـه لنډ حبس چه ددري ميـاشتو کم او دنهـه ميـاشتو زيـات نـه وي يـا پـه نقـدي جزأ چـه ددري زرو افغـانيو څخـه کمـه او د نهـه زرو افغـانيو څخـه تجـاوز ونـه

فصل پانزدهم
محو يا شکستاندن مهر

مادۀ سه صدو چهلم:
هرگـاه محـل، اوراق يـا اجنـاس بـه امريکی از ادارات دولتی يـا يکی از محـاکم بـه منظـور حفاظت مهـر شـده باشـد بـه اثـر اهـمال محـافظ مهر آن محو يا شکستانده شود بـه حـبس قـصيری‌کـه از سـه مـاه کمتـر واز شش مـاه بيـشتر نباشد يـا بـه جـزای نقـدی کـه از سـه هزار افغـانی کمتـر واز شـش هزار افغـانی تجـاوز نکنـد محکـوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو چهل ويکم:
هرگاه اوراق يـا اجنـاس مهـر شـده مـربوط بـه شخـصی باشـد کـه در جنـايت محکـوم عليـه يـا مـتهم قرار گرفته باشد مـحافظی‌که بـه اثـر اهـمال او مهـر محـو يـا شکـستانده شـده بـه حـبس قصيری‌که از سه ماه کمـتر واز نـه مـاه بيـشتر نباشـد يـا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر واز نـه هزار افغـانی تجـاوز نکند محکوم

کي محکومیږي.

دري سوه او دوه څلویښتمه ماده:
۱- که څوک ددې قانون د (۳۴۱) مادی ددرج شوو پانو یا جنسونو مهر چه د ساتنی په منظور یی صورت نیولی وی محو یا یی مات کی په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم نه وی محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی ساتونکی شخص وی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

دري سوه او دري څلویښتمه ماده:
۱- که د جنسونو مهر بی له ساتنی په بل منظور صورت نیولی وی د محو کولو یا ماتولو ارتکاب کوونکی یی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی ساتونکی

می گردد.

مادۀ سه صدو چهل ودوم:
۱- شخصی که مهر اوراق یا اجناس مندرج مادۀ (۳۴۱) این قانون را که به منظور حفاظت صورت گرفته باشد محو کند یا بشکناند به حبس قصیری که از سه ماه کمتر نباشد محکوم می گردد.
۲- اگر مرتکب جرم مندرج فقرۀ فوق شخص محافظ باشد حسب احوال به حبس متوسط محکوم می گردد.

مادۀ سه صدو چهل وسوم:
۱- هرگاه مهر اجناس بمنظور دیگری غیر محافظت صورت گرفته باشد مرتکب محو یا شکستاندن آن به حبس قصیری که از سه ماه کمتر واز ششماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر واز شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.
۲- اگر مرتکب جرم مندرج فقرۀ فوق شخص محافظ

شخص وی په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم او د نهه میاشتو زیات نه وی محکومیږي.

باشد به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر واز نه ماه بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

شپاړسم فصل
د بناګانو او عمومی ملکیتونو تلفول

فصل شانزدهم
اتلاف بنا ها و املاک عامه

دری سوه او څلور څلویښتمه ماده:
که څوک عمداً د عمومی بنأ یا املاکو یا ددا سی بنأیا املاکو چه د دولت دګټو، عام المنفعه مؤسسو د ګټو دپاره تخصیص شوی وی یو قسمت یا تاریخی آثار تلف کی د خساری په جبران علاوه د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادۀ سه صدو چهل وچهارم:
شخصی‌که عمداً قسمتی از بنأ یا املاك عامه یا بنأ و املاکی را که برای منافع دولت، مؤسسات عام المنفعه یا استفاده عامه تخصیص یافته باشد و یا آثار تاریخی را تلف نماید علاوه بر جبران خساره حسب احوال به حبس متوسط یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر واز شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او پنځه څلویښتمه ماده:
که څوک عمداً د سرک، پارک او د عمومي تفریح ځای ونی تلف یا پری کی د خساری په جبران علاوه په حبس چه د دری میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه دپنځه

مادۀ سه صدو چهل وپنجم:
شخصی‌که عمداً اشجار، سرك، پارك و تفریحگاه عامه را تلف یا قطع نماید علاوه به جبران خساره به حبسی‌که از سه ماه تجاوز نکند و جزای نقدی که از پنج

زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

اووه لسم فصل
دممنوعه شیانو تجارت

فصل هفدهم
تجارت اشیای ممنوعه

دری سوه اوو شپږ څلویښتمه ماده:
که څوک داسی شیان چه افغانستان ته یی واردول منع دی وارد کی یا ذکر شوی شیان دخرڅولو په غرض بار یا انتقا ل کی یا یی د خرڅولو د پاره عرضه کی یا ئي پټ کی یا یی په پټولو شروع وکی، دممنوعه مالونو په مصادری علاوه په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه نه وی او د مصادره شوی مال معادل په نقدی جزأ محکومیږي په دې شرط چه قانون بل ډول حکم نه وی کړی.*

مادۀ سه صدوچهل وششم:
هرگاه شخص اشیائی را که ورود آن به افغانستان ممنوع باشد وارد نماید یا اشیای مذکور را به غرض فروش حمل یا انتقال نماید یا بفروش عرضه کند یا پنهان سازد و یا به پنهان نمودن آن شروع نماید علاوه به مصادره اموال ممنوعه به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد و جزای نقدی معادل مال مصادره شده محکوم می گردد مشروط بر این‌که قانون طور دیگری حکم نکرده باشد.*

* ماده ۳۴۶ تعدیل گردیده و در بخش تعدیلات این قانون به چاپ رسیده است.

اتلسم فصل
د ادیانو په ضد جرمونه

دری سوه او اووه څلویښتمه ماده:
راتلونکی اشخاص په متوسط حبس یا نقدي مجازات چه ددولس زرو افغانیو کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیات نه وي محکومیږي:
۱- که څوک دیوه دین ددینی شعایرو یا مراسمو اداء کول په زور او اکراه اخلال یا معطل کی.
۲- که څوک مجاز معبدونه چه په کښی دیوه دین دینی شعایر اجراء کیږی یا نوری علامی چه د یوه دین دپیروانو په نزد محترمی وی خراب یا تلف کی.

دري سوه او اته څلویښتمه ماده:
که څوک د یوه دین په پیرو چه خپل مذهبي شعایر په علني صورت اجراء کوي د قول، فعل، لیک او نورو علنی وسیلو په واسطه تیری وکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه او نقدی

فصل هجدهم
جرایم ضد ادیان

مادهٔ سه صدو چهل وهفتم:
اشخاص آتی به حبس متوسط ویا مجازات نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر و از شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که برگزاری شعایر یا مراسم دینی یکی از ادیان را به جبر واکراه اخلال نماید یا آنرا معطل سازد.
۲- شخصی‌که معابد مجازیرا که در آن شعایر دینی یکی از ادیان اجراء می‌گردد یا علایم دیگری را که نزد پیروان دینی از ادیان محترم باشد خراب یا تلف نماید.

مادهٔ سه صدو چهل وهشتم:
شخصی‌که به پیرویکی از ادیانی‌که شعایر مذهبی خود را به صورت علنی اجرا می نماید به واسطه قول، فعل، کتابت و غیره وسایل علنی تجاوز نماید به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر و جزای

جـــزأ چـــه ددری زرو افغـــانیو کمـــه او ددولـــس زرو افغـــانیو زیاته نه وی محکومیږي.

نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هـزار افغـانی بیـشتر نباشد محکوم می‌گردد.

نولسم فصل
د مخدره او نیشه یي موادو استعمال

فصل نزدهم
استعمال مواد مخدره و مسکره

دري سوه او نهه څلویښتمه ماده:
که څوک مخدره یا نیشه یي مواد استعمال کي ددري میاشتو څخه تر شپږو میاشتو پوري حبس یا ددري زرو افغانیو څخه تر شپږ زرو افغانیو پوري په نقدي جزأ یا په دواړو جزاګانو محکومیږي، مګر دا چه په قانون کښې بل ډول حکم شوي وي.

مادۀ سه صدو چهل ونهم:
شخصی‌که مواد مخدره یا مسکره را استعمال نماید به حبس سه ماه الی ششماه یا جزای نقدی سه هزار الی شش هزار افغانی یا به هردو جزا محکوم می‌گردد، مگر این‌که در قانون طور دیگری حکم شده باشد.

دري سوه او پنځوسمه ماده:
که څوک بل شخص په زور او اکراه د مخدره یا نیشه یي موادو په استعمال مجبور کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادۀ سه صدو پنجاهم:
شخصی‌که به جبر و اکراه شخصی دیگر را باستعمال مواد مخدره ویا مسکره وادار سازد، به حبس قصیری که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای که از سه هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او یو پنځوسمه ماده:
که څوک یو محل د مخدره یا نیشه یي موادو د استعمال د پاره تخصیص کی د احوالونو سره سم په متوسط یا لنډ حبس محکومیږي محکمه به په ذکر شوی مجازات علاوه د مخدره موادو پوری د مربوطو ادواتو، آلاتو او اثاثیه په ضبطولو هم حکم کوی.

مادهٔ سه صدو پنجاه ویکم:
شخصی‌که محلی را برای استعمال مواد مخدره یا مسکره تخصیص دهد، حسب احوال به حبس متوسط یا قصیر محکوم می‌گردد. محکمه علاوه بر مجازات متذکره به ضبط ادوات و آلات و اثاثیه مربوط به استعمال مواد مخدره نیز حکم می نماید.

دری سوه او دوه پنځوسمه ماده:
۱- که څوک په عمومی لار، عمومی محل یا د تفریح په عمومی ځای کښی د نیشی په حالت کښې په داسی ډول ولیدل شي، چه عقل یي د لاسه ورکړی وی یا دنورو د اذیت سبب وګرځي، په لنډ حبس چه ددري میاشتو کمه نه وي یا نقدي جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی د محکمی د حکم د صادریدو وروسته د یوه کال په موده کښې دوباره د ذکر شوی جرم ارتکاب کوونکی شی په

مادهٔ سه صدو پنجاه ودوم:
۱- شخصی‌که در راه عام، محل عام یا تفریح گاه عمومی در حالت سکر طوری دیده شود که عقل خود را از دست داده یا سبب اذیت دیگران گردد، به حبس قصیر که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- اگر مرتکب جرم مندرج فقرهٔ فوق در خلال یکسال بعد از صدور حکم محکمه مکرراً مرتکب جرم مذکور گردد، به حبس قصیری‌که از ششماه

لنډ حبس چه د شپږ میاشتو کم نه وی یا نقدی جزا چه د شپږ زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۳- که محکمی ته ثابته شی چه متکرر مجرم د مخدره یا نیشه یي موادو په استعمال عادت لری، کولی شی چه ددې مادې د (۲) فقری ددرج شوی جزأ په عوض تر یوه کال پوری په یوه مربوط روغتون کښی بستری کی.

۴- محکمه کولی شی د څارنوا ل د غوښتنی په اثر او د روغتون د تصدیق په بنا، د ارتکاب کوونکی په صحت ددې مادې د (۳) فقری ددرج شوی مودی د تیریدو ترمخه هغه خوشی کی.

کمتر نباشد یا جزای نقدی که از شش هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- اگر نزد محکمه ثابت گردد که مجرم متکرر معتاد به استعمال مواد مخدره یا مسکره می باشد، می تواند مرتکب را در عوض جزای مندرج فقرهٔ (۲) این ماده تا مدت یکسال در یکی از روغتون های مربوطه بستر نماید.

۴- محکمه می تواند به اثر درخواست څارنوال و تصدیق روغتون مبنی بر صحت مرتکب قبل از انقضای مدت مندرج فقرهٔ (۳) این ماده اورا رها نماید.

شلم فصل
جواری

دری سوه او دری پنځوسمه ماده:

۱- که څوک یو محل ته د جواری د پاره تخصیص ورکی او هغه د خلکو د ننوتلو د پاره تیار کی، همدارنګه که شخص په عمومي

فصل بیستم
قمار بازی

مادهٔ سه صدو پنجاه وسوم:

۱- شخصی‌که محلی را برای قمار بازی تخصیص داده و آنرا برای داخل شدن مردم آماده سازد و همچنان شخصی‌که در

محل یا یو محل کښې چه دعامو خلکو په مخ خلاص وي یا په یو محل یا کور کښې چه ددې منظور د پاره تیار شوی وی د جواری په تنظیم بوخت شی یا جزګیری وکی، په لنډ حبس او نقدی جزأ چه د دوولس زرو افغانیو زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

۲- که څوک د پورتنی فقری په ذکر شوو حالونو کښې دجواری په حالت ونیول شی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۳- ددې مادې د (۱) او (۲) فقرو په درج شوو جزأګانو علاوه پیسې او د جواری ادوات هم مصادره کیږي.

محل عمومی و یا محلی‌که بروی عامه مردم باز باشد و یا در محل و منزلی که به این منظور آماده شده به تنظیم قمار بازی بپردازد.

و یا جزگیری نماید، به حبس قصیر و جزای نقدی‌که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند و یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

۲- شخصی‌که در محلات متذکره فقرهٔ فوق در حال قمار بازی گرفتار گردد، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد و جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- علاوه بر مجازات فقرات (۱) و (۲) این ماده پول، آلات و ادوات قمار مصادره می‌گردد.

یو ویشتم فصل
د مرستې څخه منع راوړل

دری سوه او څلور پنځوسمه ماده:
که څوک داور د واقع کیدو یا د بلی لویی حادثی په وخت کښې د

فصل بیست ویکم
امتناع از معاونت

مادهٔ سه صدو پنجاه وچهارم:
شخصی‌که هنگام وقوع حریق، یا حادثهٔ بزرگ دیگری با وجود

عمومی خدمتونو د مؤظف د تقاضا سره بی د معقول عذر د مرستی کولو څخه ځان وژغوری، په حبس چه د شپږو میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه د شپږ زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

تقاضای مؤظف خدمات عامه بدون عذر معقول از معاونت امتناع ورزد، به حبسی‌که از شش ماه بیشتر نباشد و جزای نقدی که از شش هزار افغانی تجاوز نکند ویا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

دری سوه او پنځه پنځوسمه ماده:
که څوک د قانون یا موافقی په حکم د یو شخص په ساتنه چه د صغارت یا سپین ږیرتوب یا د صحي یا روحي یا عقلي حالت په نسبت ناتوانه وي مکلف وپیژندل شي، بي د معقول عذر څخه د خپلی وجیبی د ادا کولو څخه ځان وژغوری، په لنډ حبس او په نقدي جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاګانو په یوی محکومیږي.

مادۀ سه صدو پنجاه وپنجم:
شخصی‌که بحکم قانون یا موافقه به محافظت شخصی‌که به سبب صغر سن یا شیخوخت یا حالت صحی یا روحی و یا عقلی عاجز باشد مکلف شناخته شود، بدون عذر معقول از ادای وجیبۀ خود امتناع ورزد، به حبس قصیر و جزای نقدیی که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند ویا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

دوه ویشتم فصل
دبنوت، دناقص اهلیت دپاملرنی د صغیرانو او ضعیفانو د خطر سره د مخامخ کولو پوری مربوط جرمونه

دري سوه او شپږ پنځوسمه ماده:
که څوک نوی زیږیدلی کوچنی د هغه اشخاصو څخه چه ور باندی قانونی سلطه لری، لیری کی یا یی پټ کی یا یی په بل کوچنی بدل کی یا یی په دروغو د مور څخه په غیر بل چاته نسبت ورکی، د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

دري سوه اواوه پنځوسمه ماده:
۱- که څوک د یوه کوچنی متکفل وی او د بل شخص د غوښتنی وروسته چه د محکمی د قرار یا حکم په اساس د کوچنی حضانت یا ساتنه هغه ته انتقال شوی وی، طفل ورته تسلیم نه کی په لنډ حبس یا نقدي جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه اود دولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.
که څه هم متکفل شخص د کوچنی یو دوالدینو یا یو د جدینو څخه

فصل بیست ودوم
جرایم مربوط به بنوت، رعایت ناقص اهلیت، معروض ساختن صغار و ضعفا به خطر

مادۀ سه صدو پنجاه وششم:
شخصی‌که طفل نو تولد را از نزد اشخاصی‌که بالای او سلطه قانونی دارند دور سازد یا اورا پنهان نماید یا به طفل دیگری تبدیل کند یا او را کذباً به غیر از مادرش نسبت بدهد، حسب احوال به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو پنجاه وهفتم:
۱- شخصی‌که متکفل طفلی بوده و بعداز مطالبه شخص دیگری‌که به اساس قرار یاحکم محکمه حضانت یا حفاظت طفل به او انتقال یافته طفل را بوی تسلیم نکند، به حبس قصیر یا جزای نقدی‌که از سه هزار افغانی کمتر واز دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.
گرچه شخص متکفل یکی از والدین یا جدین طفل

وي.
۲- که د والدینو یا د جدینو څخه یو خپل صغیر زوي یا لمسي پخپله یا د بل شخص په وسیله د هغه شخص څخه چه د محکمی په حکم دکوچنی حضانت یا ساتنه ورته سپارل شوی، واخلی د پورتنی فقری په درج شوی جزأمحکومیږي.
که څه هم بی له حیلی او اکراه څخه وی.

دري سوه او اته پنځوسمه ماده:
۱- که څوک پخپله یا د بل شخص په واسطه د یو شخص ژوند چه د پنځلس کلنی عمر یی نه وی پوره کړی، یا د هغه شخص چه دصحی، روحی یا عقلی حالت په سبب د خپل ځان د ساتنی څخه عاجزه وی د خطر سره مخامخ کی، په متوسط حبس چه د دری کلونو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه د شپږ دیرش زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.
۲- که څوک کوچنی یا بی وسی شخص په کنډواله ځای کښی خوشی کی په متوسط حبس محکومیږي. که څه هم ذکر شوی باشد.
۲- اگر یکی از والدین یا جدین اولاد صغیر یا نواسهٔ خود را خود او یا توسط دیگری از شخصی‌که به حکم محکمه حضانت یا حفاظت طفل به او سپرده شده بگیرد به جزای مندرج فقرهٔ فوق محکوم می‌گردد، گرچه بدون حیله واکراه باشد.

مادهٔ سه صدو پنجاه وهشتم:
۱- شخصی‌که خود او یا توسط شخص دیگری حیات شخصی را که سن پانزده سالگی را تکمیل نکرده یا حیات شخصی را که به سبب حالت صحی روحی یا عقلی از حمایت خود عاجز باشد به خطر مواجه گرداند، به حبس متوسط که از سه سال بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سی و شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.
۲- اگر شخصی طفل یا عاجز را در محل غیر مسکون رها نماید به حبس متوسط محکوم می‌گردد گرچه جرم مذکور توسط

جرم دوالدینو څخه د یوه په وسیله یا د هغه چا په وسیله چه د هغه د ساتنی یا پاملرنی متکفل وی، ارتکاب شوی وی.

۳- که ددې مادې د (دوهمی) فقری ددرج شوی جرم دارتکاب په اثر مجنی علیه معلول یا فوت شی او ارتکاب کوونکی د هغی قصد نه وی لرلی، دوهلو په ټاکل شوی جزأ چه په معلولیت یا مرګ منجر کیږي د حالونو سره سم محکومیږي.

۴- که کوچنی یا بی وسی شخص ددا سی تغذیی یا پالنی څخه چه د هغه د حالت مقتضی ده عمداً محروم شی او د هغی په اثر د هغه ژوند دخطر سره مخامخ شي، ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۳) فقری په درج شوی جزأ محکومیږي.

یکی از والدین یا شخصی‌که متکفل حفاظت یا رعایت او باشد ارتکاب گردیده باشد.

۳- اگر به اثر ارتکاب جرم مندرج فقرۀ (۲) این ماده مجنی علیه معلول یا فوت گردد ومرتکب قصد آن را نداشته باشد، به جزای پیش بینی شدۀ ضرب منجر به معلولیت یا مرگ حسب احوال محکوم می‌گردد.

۴- اگر طفل یا عاجز از تغذیه یا پرستاری که مقتضی حالت او است عمداً محروم ساخته شود وحیات او به اثر آن به خطر مواجه گردد، مرتکب به جزای مندرج فقرۀ (۳) این ماده محکوم می‌گردد.

دری سوه او نهه پنځوسمه ماده:

۱- که په یوه شخص د ښځی یا د اصولو او فروعو د جملی څخه د یوه یا د بل چا دنفقی د اداکولو په منظور یا د حضانت یا درضاعت یا دسکونت د اجوری د ادا کولو په

مادۀ سه صدو پنجاه ونهم:

۱- هر گاه بالای یك شخص به منظور ادای نفقه زوجه یا یکی از اصول یا فروع وی یا دیگری یا به منظور ادای اجرت حضانت یا رضاعت یا

منظور د محکمی واجب التنفیذ حکم صادر شوی وی، د حکم د ابلاغ څخه تر یوی میاشتی پوری سره ددې چه د اداء کولو قدرت لري د هغي د اداء کولو څخه ځان وژغوری، په لنډ حبس او نقدي جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأ ګانو څخه په یوي محکومیږي.

۲- د پورتنی فقری ددرج شوی جرم په باره کښې هغه وخت دعوی دائریږی چه د مصلحت خاوند ورڅخه شکایت کړی وی.

۳- دعوی د مصلحت او شکایت د خاوند د انصراف په اثر یا د هغه شی په اداء کولو چه د شکایت د طرف د شخص په ذمه باقی پاتی دی منقضی کیږی، که په دعوي کښې د حکم د صادریدو وروسته اداء یا انصراف صورت ونیسي د جزأ تطبیق متوقف کیږي.

سکونت حکم واجب التنفیذ محکمه صادر شده باشد، تا مدت یکماه بعد از ابلاغ حکم با وجود قدرت به ادای آن از تادیهٔ آن امتناع ورزد، به حبس قصیر وجزای نقدیی‌که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می گردد.

۲- در مورد جرم مندرج فقرهٔ فوق دعوی وقتی دایر می‌گردد که صاحب مصلحت از آن شکایت نموده باشد.

۳- دعوی به اثر انصراف صاحب مصلحت وشکایت یا به ادای چیزی که به ذمه شخص طرف شکایت باقی مانده منقضی می‌گردد واگر انصراف یا اداء بعد از صدور حکم در دعوی صورت بگیرد تطبیق جزا متوقف می‌گردد.

درویشتم فصل
اور او چاودنه

دری سوه او شپیتمه ماده:
۱- که څوک عمداً منقول یا غیر منقول مال ته که څه هم خپل ملکیت یي وي اور واچوي، که د خلکو ژوند او مال د خطر سره مخامخ کي د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.
۲- که اور اچول په یوه لاټدني حالونو کښې صورت ونیسي ارتکاب کوونکي په دوام لرونکی حبس محکومیږي:
۱- په فابریکي ، د عسکرو د ضرورت وړ موادو په ډیپو یا وسلي او د هغی ملحقاتو کښې.
۲- معدن یا د نفتو او غاز په څاه کښې.
۳- دسوځیدو موادو په ذخیره خانه یا په سوځیدونکو یا په چاودیدونکو موادو کښې.
۴-د برق، اوبو یا ذروي حرارتی استیشنو کښې.
۵- داوسپنی د ګاډی استیشن، د اوسپنی د ګاډی ماشین یا په هغه واګون کښې چه په کښې شخص یا

فصل بیست وسوم
حریق و انفجار

مادۀ سه صدو شصتم:
۱- شخصی‌که عمداً مال منقول یا غیر منقول را گرچه ملك خودش باشد آتش زند در صورتی‌که حیات و اموال مردم را به خطر مواجه سازد حسب احوال به حبس طویل محکوم می‌گردد.
۲- اگر آتش زدن در یکی از محلات آتی صورت گیرد مرتکب به حبس دوام محکوم می‌گردد:
۱- فابریکه ودیپوی مواد مورد ضرورت عسکری یا اسلحه و ملحقات آن.
۲- معدن یا چاه نفت یا گاز.
۳- ذخیره خانه مواد سوخت یا مواد قابل احتراق ویا مواد منفجره.
۴- استیشن های حرارتی برق آبی ویا ذروی.
۵- استیشن قطار آهن، ماشین قطار آهن، یا واگونی که در آن شخص یا اشخاص

اشخاص وی یا هوایی میدان، یا الوتکه یا بیړی یا د هغی بندر کښی.

۶- د اوسیدونکو په بنأ یا د ازدحامه ډک محل کښی.

۷- په هغه بنأ کښې چه یوه دولتی اداره، تصدي یا عمومی مؤسسه په کښی وی.

۳- کـه ددې مـادې د (دوه یمـی) فقری درج شوی جرم څخه غرض د جنایت یا جنحی د ارتکاب آسانول یا د هغی د آثارو د منځه وړل وی یا فاعل د اطفاییی آلي او وسیلي د کاره واچوي یا اور د اشخاصو دوام لرونکی معلولیت ته منجر شی یا اور د انفلاق کوونکو او چاودیدونکو موادو په وسیله صورت ومومي یا اور د انسان په مرګ منجر شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

باشد ویا میدان هوائی یا طیاره ویا کشتی یا بندرگاه آن.

۶- بنای مسکون و یا محل پر ازدحام.

۷- بنائی‌که یکی از ادارات دولتی یا تصدی یا مؤسسات عامه در آن قرار داشته باشد.

۳- اگر غرض از جرم مندرج فقرهٔ (دوم) این ماده آسان ساختن ارتکاب جنایت یا جنحه ویا از بین بردن آثار آن باشد، یا فاعل آلات و وسایل اطفائیه را از کار اندازد یا حریق منجر به معلولیت دوامدار اشخاص گردد ویا آتش زدن توسط مواد منفلقه و منفجره صورت گیرد و یا حریق منجر به مرگ انسان گردد مرتکب به اعدام محکوم می‌گردد.

دري سوه او یو شپیتمه ماده:

۱- کـه څوک په منقول یا غیر منقول مال کښې د خطا په موجب د اور د پیدا کیدو سبب شي، که د خلکو ژوند او مال د خطر سره مخامخ کی په متوسط حبس یا

مادهٔ سه صدو شصت ویکم:

۱- شخصی‌که در مال منقول یا غیر منقول به سبب خطاء موجب احداث حریق گردد، در صورتی‌که حیات و اموال مردم را به خطر مواجه سازد به حبس متوسط ویا

په نقدي جزأ چه د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۲-که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم په اثر عمومی مواصلات معطل شی یا مالونو ته لوی ضرر ورسیږی مرتکب په اوږده حبس چه د اوو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری د جرم په اثر انسان مړ شی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

جزای نقدی که از شصت هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۲- اگر به اثر جرم مندرج فقرهٔ فوق مواصلات عمومی معطل گردد و یا ضرر بزرگ به اموال عاید گردد مرتکب به حبس طویلی‌که از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- اگر به اثر جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مرگ انسان صورت گیرد مرتکب به حبس طویل که از ده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

دری سوه او دوه شپیتمه ماده:

۱- که څوک د صلاحیت لرونکی مقامونو د اجازی په غیر منفلقه یا منفجره مواد جوړ کی یا یی وارد کی یا یی د ځان سره وساتی، د موادو په مصادری علاوه په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲- هغه ماده چه د منفلقه او منفجره موادو په ترکیب کښې په کار اچول کیږي د داخلي د وزیر د قرار سره سم چه په رسمي جریدي

مادهٔ سه صدو شصت ودوم:

۱- شخصی‌که بدون اجازه مقامات صلاحیت دار مواد منفلقه یا منفجره را بسازد ویا وارد نماید و یا نزد خود نگه کند، علاوه بر مصادره مواد به حبس طویلی‌که از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- ماده ای‌که در ترکیب مواد منفلقه و منفجره بکار برده می شود و مطابق قرار وزیر داخله که در جریدهٔ رسمی نشر

کښې خپريږي ټاکل کيږي.
همدارنګه سامان، آلي او ادوات چه په جوړولو يا چاودولو کښې استعمالیږي دمنفلقه اومنفجره موادو په حکم کښې پيژندل کيږي.

دری سوه او دري شپيتمه ماده:
۱- که څوک عمداً منفلقه او منفجره مواد استعمال کی او د هغی په اثر د خلکو ژوند د خطر سره مخامخ شی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکوميږي.
۲- که د پورتنی فقری د ذکر شوو موادو د استعمال په اثر اشخاصو ته لوی ضرر ورسيږی يا د انسان مرګ ته منجر شی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږي.

دری سوه او څلور شپيتمه ماده:
۱- که څوک عمداً منفلقه يا منفجره مواد استعمال کي او د هغي په اثر د خلکو مال د خطر سره مخامخ شي د حالونو سره سم په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی

می‌شود تعیین می‌گردد. همچنان سامان، آلات و ادواتی‌که در ساختن یا انفجار آن استعمال می‌گردد، در حکم مواد منفلقه و منفجره شناخته می‌شود.

مادۀ سه صدو شصت وسوم:
۱- شخصی‌که عمداً مواد منفلقه ومنفجره را استعمال نماید که به اثر آن حیات مردم به خطر مواجه گردد حسب احوال به حبس طویل محکوم می‌گردد.
۲- اگر به اثر استعمال مواد متذکره فقرۀ فوق به اشخاص ضرر بزرگ عاید گردد و یا منجر به مرگ انسان شود مرتکب به حبس دوام محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو شصت وچهارم:
۱- شخصی‌که عمداً مواد منفلقه یا منفجره را استعمال نماید وبه اثر آن اموال مردم به خطر مواجه گردد حسب احوال به حبس طویلی‌که از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- اگر به اثر جرم مندرج فقرۀ

جرم په اثر لوی ضرر ورسیږي ارتکاب کوونکی دپورتنی فقری د ټاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

فوق به اموال مردم ضرر بزرگ وارد گردد، مرتکب به حد اکثر جزای پیش بینی شدهٔ فقرهٔ فوق محکوم می‌گردد.

دري سوه او پنځه شپیتمه ماده:
که څوک منفلقه او منفجره مواد ددی فصل ددرج شوو حالونو څخه په غیر، په غیر مشروع منظور استعمال کی د حالونو سره سم چه د لسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

مادهٔ سه صدو شصت وپنجم:
شخصی‌که مواد منفلقه ومنفجره را در غیر از احوال مندرج این فصل به منظور غیر مشروع استعمال نماید حسب احوال به حبس طویلی‌که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او شپږ شپیتمه ماده:
که څوک منفلقه یا منفجره موادو ته یا هغه مالونو ته چه داور د اخیستلو قابلیت ولري په یوه ځمکنی، او بنی یا هوایي یا په پوستي وسیلو او پارسلونو کښې دمربوطو مقرراتو په خلاف انتقال ورکي او یا یي په انتقا ل شروع وکي، په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه کم نه وی او په نقدی جزأ چه د پنځه ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادهٔ سه صدو شصت وششم:
شخصی‌که مواد منفلقه یا منفجره ویا اموال قابل احتراق را در یکی از وسایل نقلیه زمینی، آبی یا هوائی یا در وسایل و پارسلهای پوستی خلاف مقررات مربوط انتقال دهد و یا به انتقال آن شروع نماید، به حبس متوسط که از دو سال کمتر نباشد و جزای نقدی که از بیست و پنج هزار افغانی تجاوز نکند و یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

څلير ويشتم فصل
د غرقيدو، مرفقونو او عمومي صحت پوري مربوط جرمونه

دري سوه او اووه شپيتمه ماده:
۱- که څوک عمداً سيلاب وجود ته راوړي يا پرې شروع وکې چه د هغې په وسيله د خلکو ژوند يا مال د خطر سره مخامخ شي، د حالونو سره سم په اوږده حبس محکوميږي.
۲- که د پورتنۍ فقرې ددرج شوی جرم د ارتکاب په اثر د انسان مرګ صورت ومومي، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږي.
۳- که د ذکر شوی سيلاب په اثر مالونو ته لوی ضرر ورسيږي ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه کم نه وی محکوميږي.

دري سوه او اته شپيتمه ماده:
۱- که شخص په خطا سيلاب وجود ته راوړی چه د هغې په اثر دخلکو ژوند يا مالونه دخطر سره مخامخ شي، په لنډ حبس او نقدي جزأ چه دپنځه ويشتو

فصل بيست وچهارم
جرايم مربوط به غرق ومرافق و صحت عامه

مادۀ سه صدو شصت وهفتم:
۱- شخصی‌که عمداً سيلابی را بوجود آورد يا در آن شروع نمايد که توسط آن حيات يا اموال مردم به خطر مواجه گردد حسب احوال به حبس طويل محکوم می‌گردد.
۲- اگر به اثر ارتکاب جرم مندرج فقرۀ فوق مرگ انسان صورت گيرد مرتکب به حبس دوام محکوم می‌گردد.
۳- اگر در اثر سيلاب مذکور به اموال ضرر بزرگ عايد گردد مرتکب به حبس طويل که از ده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو شصت وهشتم:
۱- شخصی‌که به خطا سيلابی را بوجود آورد که به اثر آن حيات يا اموال به خطر مواجه گردد، به حبس متوسط وجزای نقدی که از بيست وپنج

زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوي محکومیږي.

۲- که د ذکر شوی سیلاب په اثر عمومي مرفقونه معطل شي یا د عامو خلکو مالونو ته زیات ضرر ورسیږي ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جرم ارتکاب د انسان په مرګ منجر شی، مرتکب په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

۲- اگر در اثر سیلاب مذکور مرافق عام معطل گردد یا به اموال عامه ضرر بزرگ عاید گردد، مرتکب به حبس طویلی که از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- اگر ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به مرگ انسان گردد مرتکب به حبس طویلی‌که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او نهه شپیتمه ماده:

۱- که څوک عمداً د زهرناکو مکروبي یا نورو مضرو شیانو په اچولو چه د عامو خلکو صحت ته مضر وي په څاه، د اوبو په مخزن، عمومي ذخیره خاني یا نورو شیانو ته چه دعامو خلکو د استعمالولو په منظور تیار شوي وی د خلکو ژوند یامالونه د خطر سره مخامخ کي په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

۲- که دپورتنی فقری ددرج شوو

مادهٔ سه صدو شصت ونهم:

۱- شخصی‌که عمداً با انداختن مواد سمی، مکروبی یا سایر اشیاء مضر به صحت عامه در چاه، مخزن آب، ذخیره خانه عمومی یا سایر اشیائی‌که به منظور استعمال عامه تهیه شده حیات یا اموال مردم را به خطر مواجه سازد به حبس دوام محکوم می‌گردد.

۲- اگر ارتکاب جرایم مندرج

جرمونو ارتکاب د انسان مرګ ته منجر شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

۳- که څوک په خطا ددې مادې د (۱) فقري دیوه درج شوی جرم ارتکاب کوونکی شي، په متوسط حبس او نقدي جزأ چه د پنځه ویشتو زرو افغانیو زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوي محکومیږي.

۴- که ددې مادې د (۳) فقری ددرج شوی جرم ارتکاب د انسان مرګ ته منجر شی، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

فقرهٔ فوق منجر به مرگ انسان گردد، مرتکب به اعدام محکوم می‌گردد.

۳- شخصی‌که به سبب خطا مرتکب یکی از جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده گردد، به حبس متوسط و جزای نقدی‌که از بیست و پنج هزار افغانی تجاوزنکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می گردد.

۴- اگر ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۳) این ماده منجر به مرگ انسان گردد، مرتکب به حبس طویلیکه از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

دري سوه او اویایمه ماده:

که څوک څاه، یا عمومي مخزن یا بل هر شي چه له دي نوعي څخه وي فاسد کي په داسي ډول چه د هغي په اثر يي مطلوبه ګټه کمه شي، په لنډ حبس یا نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

مادهٔ سه صدو هفتادم:

شخصی‌که چاه یا مخزن عمومی یا هرچیزی‌که ازین قبیل باشد فاسد نماید، طوری‌که به اثر آن منفعت مطلوبه آن کمتر گردد، به حبس قصیر یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

دري سوه اويو اويايمه ماده:

۱- کـه څوک آلـي، نـل يـا د اوبـو، بـرق، غـاز دمرفقونـو مخـصوصي آلي يـا نـور عمـومي مرفقونـه عمـداً مات يا تلف کی چه د هغی په اثر عمـومی مرفقونـه معطـل شـي، پـه متوسـط حـبس او نقـدي جـزأ چـه دپنځـه ويـشتو زرو افغـانيو څخـه زياته نه وي يـا ددې دواړو جزأګانو څخه په يوی محکوميږي.

۲- که څوک عمداً صحي ثابت يـا د انتقـال وړ تاسيـسات يـا پـه هغـی کښې موجود وسايل خراب، تـلف يـا متضرر کـی يا د هغی يو شی د کـاره واچـوی يـايی د اسـتفادی څخه وباسی په متوسط حبس چه د دوه کلونـو څخـه کـم نـه وي محکوميږي.

۳- کـه څـوک پـه خطـا سـره ددې مادې د (۱) فقری د يـوه درج شـوی جرم ارتکـاب کـوونکی شـی پـه لنډ حبس او نقـدی جزأ چـه دپنځـه زرو افغـانيو څخـه زياتـه نـه وی محکوميږي.

مادۀ سه صدو هفتادويکم:

۱- شخـصی‌کـه آلات، نـل يـا آلات مخصوص مرافق آب، برق، گاز و غيـره مرافـق عمـومی را عمـداً بشکناند يـا تلف نمايد کـه بـه اثر آن مرافق عمومی معطل گردد بـه حبس متوسط وجزای نقدی کـه از بيست وپنـج هـزار افغـانی تجاوز نکنـد يـا بـه يکـی ازيـن دو جـزا محـکوم مـی‌گردد.

۲- شخـصی‌کـه عمـداً تأسيـسات ثابت يـا قابـل انـتقال صحی را يـا وسـايل موجـود در آن را خـراب، تلف يا متضرر سازد يا يك چيزی از آن را از کـار بينـدازد يـا غيـر قابـل اسـتفاده گردانـد بـه حـبس متوسـطی‌کـه از دو سـال کمتـر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- شخـصی‌کـه بـه خطـا مرتکـب يکـی از جـرايم مـندرج فقرۀ (۱) ايـن مـاده گـردد بـه حـبس قـصير وجـزای نقـدی کـه از پـنج هـزار افغـانی تجـاوز نکنـد محکـوم می‌گردد.

دري سوه او دوه اویایمه ماده:

۱- که څوک د پورتنیو حالونو په غیر عمداً ددا سی عمل ارتکاب کوونکی وګرځی چه دخطر ناک مرض د خپریدو موجب شی په لنډ حبس چه ددری کلونو څخه زیات نه وی محکومیږی.

۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی فعل د ارتکاب په اثر انسان فوت یا دایمي معلولیت پیدا شی، مرتکب د حالونو سره سم په دې قانون کې د دایمی معلولیت د جرم په تاکل شوی جزأ محکومیږي.

مادۀ سه صدو هفتادو دوم:

۱- شخصی‌که در غیر از حالات فوق عمداً مرتکب عملی گردد که موجب انتشار مرض خطرناك گردد به حبس متوسط که از سه سال تجاوز نکنند محکوم می‌گردد.

۲- اگر به اثر ارتکاب فعل مندرج فقرۀ فوق فوت انسان صورت گیرد یا معلولیت دایمی بار آید، مرتکب حسب احوال به جزای پیش بینی شدۀ جرم معلولیت دایمی در این قانون محکوم می‌گردد.

دري سوه او دري اویایمه ماده:

۱- که څوک په خطا سره د خطرناکه مرض د خپریدو سبب شي په لنډ حبس او نقدي جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه کمه نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی فعل دارتکاب په اثر انسان فوت یا دایمی معلولیت پیدا شي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم د خطا د قتل په تاکل شوی جزا یا د بدنی خطا د اذیت په جزأ محکومیږي.

مادۀ سه صدو هفتادو سوم:

۱- شخصی‌که به خطا سبب انتشار مرض خطرناك گردد به حبس قصیر وجزای نقدی که از پنج هزار افغانی کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر به اثر ارتکاب فعل مندرج فقرۀ فوق فوت انسان یا معلولیت دایمی صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای پیش بینی شدۀ قتل خطا یا اذیت بدنی خطاء محکوم می‌گردد.

پنځه ویشتم فصل
دقضاء تضلیل

دري سوه او څلور اویایمه ماده:
که څوک د قضاء د تضلیل په قصد اشخاصو، ځایونو یا شیانو حالت ته تغییر ورکی یا د جرم دلیلونه پټ کی، یا د جرم پوری مربوط دروغجن معلومات سره ددې چه د هغی په عدم صحت علم لری وړاندی کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

دري سوه او پنځه اویایمه ماده:
د هغه شخص چه محکمی یا د قضائی ضبط مامورینو د هغه شهرت غوښتی هغه په غلط ښکاره کی په متوسط حبس چه د دری کلونو څخه زیات نه وی او نقدی جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

فصل بیست وپنجم
تضلیل قضاء

مادۀ سه صدو هفتادو چهارم:
شخصی‌که به قصد تضلیل قضاء، حالت اشخاص، اماکن یا اشیا را تغییر بدهد یا ادله جرم را پنهان نماید ویا معلومات کاذب متعلق به جرم را با وجود علم به عدم صحت آن تقدیم نماید، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو هفتادو پنجم:
شخصی‌که محکمه یا مامورین ضبط قضائی شهرت او را خواسته آن را به غلط ارائه نماید به حبس متوسطی‌که از سه سال بیشتر نباشد و جزای نقدی که از پانزده هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

دري سوه او شپږ اویایمه ماده:
۱- که څوک د قضاء یا د قضائي ضبط د مامورینو د تضلیل په قصد وثیقه یا جرمی شی چه محکمی یا د قضائي ضبط مامورینو ته وړاندي شوي اختلاس، پټ یا تلف کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او نقدي جزاء چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی د عمومی خدمتونو مؤظف وی په دې ترتیب چه ذکر شوی شیان ورته سپارل شوی وی یا د وظیفی دلحاظه ورسره په امانت ایښودل شوی وی په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

مادۀ سه صدو هفتادوششم:
۱- شخصی‌که به قصد تضلیل قضاء یا مامورین ضبط قضائی وثیقه یا شی جرمی را که به محکمه یا مامورین ضبط قضائی تقدیم شده اختلاس، پنهان یا تلف نماید به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد و جزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.
۲- اگر مرتکب جرم مندرج فقرۀ فوق مؤظف خدمات عامه باشد به نحوی‌که اشیاء مذکور به او سپرده شده یا از لحاظ وظیفه نزدش به امانت گذاشته شده باشد به حبس طویلی‌که از هفت سال تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

شپږ ویشتم فصل
د دروغو اطلاع د حقیقت داظهار څخه ځان ژغورل

دري سوه او اووه اویایمه ماده:
که څوک په دروغو یوی قضائی یا اداری مرجع ته د یو جرم څخه اطلاع ورکی چه د هغی د نه واقع

فصل بیست وششم
اطلاع دروغ خود داری از اظهار حقیقت

مادۀ سه صدو هفتادو هفتم:
شخصی‌که به کذب یکی از مراجع قضائی یا اداری را از جرمی اطلاع بدهد که از عدم وقوع آن

کیدو څخه علم لری یا ذکر شوو مراجعو ته په بدنیت سره ددې چه د خپلې اطلاع په دروغو علم لري د یو شخص د جرم په ارتکاب اطلاع ورکی یا دواقعیت څخه خلاف د شخص د جرم په ارتکاب مادی دلیلونه خلق کی یا د یو شخص په ضد سره ددې چه د هغه په برائت علم لري د قانوني اجراآتو د نیولو سبب شي په لاندي توګه مجازات کیږي:

۱- که ددروغو اطلاع د جنایت په جرم کښې وې ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه له دري کلونو کم او نقدي جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

۲- که ددروغو اطلاع په جنحه یا قباحت کښې وي ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددری کلونو زیات نه وی او نقدی جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

علم داشته باشد یا مراجع مذکور را به سؤ نیت با وجود علم به کذب اطلاع خود به ارتکاب جرم یك شخص اطلاع دهد یا به ارتکاب جرم شخص خلاف واقع ادله مادی خلق نماید یا ضد یك شخص با وجود علم به برائت او سبب اتخاذ اجراآت قانونی گردد، حسب آتی مجازات می گردد:

۱- اگراطلاع دروغ در جرم جنایت باشد مرتکب به حبس متوسط که از سه سال کمتر و جزای نقدی که از پانزده هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

۲- اگر اطلاع دروغ در جنحه یا قباحت باشد مرتکب به حبس متوسط که از سه سال بیشتر وجزای نقدی که از پانزده هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

دري سوه او اته اویایمه ماده:
کـه څـوک سـره ددې چـه دواقعیـت څخه خلاف علم لري یوه قـضائي یـا اداري مرجع یا د عمومي خدمتونو یو مؤظف تـه پـه یـوي وسیلي د یـو لـوي مـصیبت، حـادثي یـا خطـر دواقع کیدو څخه اطلاع ورکـي پـه متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نـــه وي او نقـــدي جـــزاء چـــه د پـنځلس زرو افـغانیو څخـه تجـاوز ونـه کی محکومیـــږي.

مادۀ سه صدو هفتادوهشتم:
شخصی‌که با وجود علم به خلاف واقعیت یکی از مراجع قضائی، اداری یا یکی از مؤظفین خدمات عامه را به یکی از وسایل از وقوع مـصیبت بـزرگ، حادثـه یـا خطـر اطلاع بدهد به حبس متوسط که از دوسـال بیـشتر نباشـد وجـزای نقدی کـه از پـانزده هـزار افغـانی تجـاوز نکند یـا بـه یکی ازیـن دو جزا محکوم می‌گردد.

دري سوه او نهه اویایمه ماده:
که څوک په رسمي صفت د عمومي خدمتونو د یو مؤظف په اطلاع ور کولو په قـانوني توګه مکلف شوي وي او هغـه تـه دروغجنـه اطـلاع ورکی او هر بل شخص چه په رسمي صـفت د عمـــومي خـدمتونو یـــو مؤظف تـه پـه داسی شیانو اطلاع ورکي چه په دروغویي علم ولـري او د هغـي څخـه مقـصد دوجیبـو پـه خـلاف د وظیفـي پـه اجـراء کولـو مجبورول یـا ورڅخه منع کـول وي، پـــه دي ډول چـــه کـــه د عمـــومي خـــدمتونو مؤظـــف تـــه دواقعـــي حقیقت معلوم وای هغـه یـی پـه ښـه

مادۀ سه صدو هفتادو نهم:
شخـصی‌که بـه صـــفت رسـمی بـه اطـلاع یکـی از مـؤظفین خـدمات عامـه قانوناً مکلف شده بـاشد و بـــه او اطـــلاع دروغ بدهـــد و هـــر شخص دیگری‌که بـه صفت رسمی یکی از مؤظفین خدمات عامـه را بـــه اشـــیای اطـلاع دهـد کـه بـــه کـــذب آن علـم داشـــته باشـد و مقـصد از آن مجبـور سـاختن بـه اجـرای وظیـــفه یـا امتنـاع از آن بـــرخلاف و جـایـــب بـاشـــد، طـوری‌کـه اگـر حقیقـت واقـعه بـه مؤظـف خـدمات عامـه مـــعلوم می‌بود آنرا به نحو درسـت انجـام

توګه تر سره کولو، په لنډ حبس چه ددوه کلونو کمه نه وي او نقدي جزأ چه د شل زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا ددې دوارو جزأ ګانو څخه په یوي محکومیږي.

مـی‌داد، بـه حـبس متوسـط کـه از دوسال کمتر نباشد و جزای نـقدی کـه از بیـست هـزار افغـانی تجـاوز نکنـد یـا بـه یکـی ازیـن دو جـزا محکوم می‌گردد.

دري سوه او اتیایمه ماده:
که څوک قضائي یا اداري مراجعو ته په صدق او بي د بدنیتي څخه د داسـی عمـل پـه ارتکـاب اطـلاع ورکـی چـه فاعـل یـی دجـزأ مستوجب ګرځی نه مجازات کیږي.

مادۀ سه صدو هشتادم:
شخصی‌که مراجع قضائی یا اداری را بـه صـدق وبدون سوء نیت به ارتکاب عملی اطلاع بدهد کـه فاعل آن مستوجب جزا می‌گردد، مجازات نمی‌شود.

دري سوه او یو اتیایمه ماده:
۱- کـه څـوک قانونـاً د عمـومي خدمتونو یوه مؤظف ته د یوه کار یـا د معلومـو اموراتـو پـه اطـلاع ورکولـو مکلـف وي او د هغـی د اطلاع څخه په مطلوب کیفیت او په قـانون ټاکلي وخت کښې عمداً ځان وژغوري. د حالونو سره سم په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نـه وي یـا نقـدي جـزأ چـه د څلیـر ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کي محکومیږي.
۲-د عمومي خدمتونو هر مؤظف چه د جرمونـو په کشف او د مجرم

مادۀ سه صدو هشتادویکم:
۱- شخصی‌که قانوناً به اطلاع یك امـر بـه یکـی از مـؤظفین خـدمات عامـه یـا بـه اطـلاع امـور معلـوم مکلف باشد و عـمداً از اطلاع آن بـه کیفیـت مطلـوب و در وقـت معـین قـانونی امتـناع ورزد. حسب احـوال به حبس متـوسـط کـه از دو سـال بیـشتر نباشـد یـا جزای نقدی کـه از بیـست وچهـار هزارافغانی تجاوز نکند محـکوم می‌گردد.
۲- هر مـؤظـف خـدمات عـامه کـه بـه کـشـف جـرایم وگرفتـاری

په نیولو مکلف شوی وی او د علم راوړلو څخه وروسته د ذکر شوو جرمونو په اطلاع کښې اهمال وکې، د پورتنی فقری په درج شوی جزأ محکومیږی. په دې شرط چه په ذکر شوی جرم کې ددعوی وړاندی کول د شرط پوری معلق نه وی یا مجرم د عمومی خدمتونو د مؤظف میړه، ښځه یا یو د اصولو یا فروعو څخه یا ورور یا خور یا د مصاهرت د محارمو څخه وي.

مجرم مؤظف گرڅیده ودر اطلاع جرایم مذکور بعد از علم اهمال ورزد به جزای مندرج فقره فوق محکوم می گردد. مشروط بر اینکه در جرم مذکور تقدیم دعوی معلق به شکایت نباشد یا مجرم زوج یا یکی از اصول یا فروع یا برادر یا خواهر یا از محارم مصاهرت مؤظف خدمات عامه باشد.

اووه ویشتم فصل
د دروغو شهادت

فصل بیست وهفتم
شهادت دروغ

دري سوه او دوه اتیایمه ماده:
که شاهد د محکمې په وړاندی یا د قضائي ضبط د مامورینو په نزد د قانوني قسم د اداء کولو څخه وروسته عمداً په باطلو اظهاراتو، د حق په انکار، د ټولو یا ځینو هغه واقعو په پټولو چه د هغی په باره کښې شهادت اداء کوي بوخت شي د هغه شهادت دروغ شمارل کیږي.

مادۀ سه صدو هشتادو دوم:
هرگاه شاهد بعد از ادای سوگند قانونی در پیشگاه محکمه یا نزد مامورین ضبط قضائی عمداً به اظهار باطل، انکار حق، پوشیدن تمام یا بعضی از وقایعی‌که در مورد آن شهادت اداء می‌نماید بپردازد، شهادت وی دروغ شمرده می‌شود.

دري سوه او دري اتیایمه ماده:
۱- که څوک په یو جرم کښې د تورن په گټه یا ضرر په دروغو

مادۀ سه صدو هشتادو سوم:
۱- شخصی‌که دریك جرم به نفع یا ضرر متهم به دروغ شهادت اداء

شهادت اداء کي، په متوسط حبس چـه ددوه کـلونو کـم او نـقـدي جـزأ چـه د څلیـر ویـشتو زرو افغانیو زیـاته نه وي محکومیږي.

۲- کـه تـورن ددروغـو د شـهادت پـه اثـر محکوم عـلیه شـوي وي شـاهد د هغـه جـرم پـه ټاکـلي جـزأ محکومیـږي چه په مـحکوم علیه صادره شـوي.

۳- که څوک په غیر جزائي دعوي کښې د محکمې یا دقضایي ضبط د مامورینو په نزد ددروغو شهادت اداء کـې پـه لنډ حـبس چـه ددری میاشتو کم او نقدي جزأ چه د لس زرو افغـانیو څخـه زیاتـه نـه وي محکومیږي.

نمایـد، بـه حـبس متوسـط کـه از دوسال کمتر نباشد و جزای نقدی که از بیست و چهار هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۲- اگر در اثر شهادت دروغ متهم محکـوم علیـه قـرار گرفتـه باشـد شـاهد بـه جزای پیش بینـی شـدهٔ جرمی محکوم می‌گردد که بالای محکوم علیه صادر گردیده است.

۳- شخـصی‌کـه در دعـوی غیـر جزائی ویـا نـزد مامـورین ضبط قضائی شهادت دروغ اداء نماید، بـه حـبس قـصیری‌کـه از سـه مـاه کمتر نباشد و جزای نقدی که از ده هـزار افغـانی تجـاوز نـکند محکوم می‌گردد.

دري سوه او څلور اتیایمه ماده:

کـه څـوک ددروغـو شـهادت پـه منظور څه شی وغواړي یا د هغی بخـشش یـا وعـده واخلـی اویـایی قبوله کی، هغه او هغه شخص چه بخشش یا وعده یی ورکړي یـایی پـه هغـی کـښې وسـاطت کـړي د رشـوت یـا ددروغـو شـهادت پـه ټاکلي جزأ چه هـره یـوه ډیره شدیده وي محکومیږي.

مادهٔ سه صدو هشتادو چهارم:

شخـصی‌کـه بـه منظـور شـهادت دروغ چیـزی را طلـب نمایـد یـا بخـشش یـا وعـدهٔ آنـرا گیـرد ویـا قبـول نمایـد، او وشخـصی‌کـه بخشش یا وعده را داده ویا در آن وسـاطت نمـوده، بـه جـزای پیـش بینی شدهٔ جرم رشوت یا شـهادت دروغ هـر یـك کـه شـدیدتر باشـد محکوم می‌گردد.

دري سوه او پنځه اتیایمه ماده:
راتلونکی اشخاص عیناً ددروغو د شهادت په تاکلی جزأ محکومیږي:
۱- که څوک په اکراه، اغرأ یا په بله وسیله شاهد د شهادت په نه اداء کولو یا د دروغو په شهادت مجبور کی که څه هم خپل مقصد ته ونه رسیږي.
۲- که څوک د بخشش، وعدی یا فریب په اثر د شهادت د اداً کولو څخه ځان وژغوری.

مادهٔ سه صدو هشتادو پنجم:
اشخاص آتی به عین جزای پیش بینی شدهٔ شهادت دروغ محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که به اکراه، اغرأ یا وسایل دیگر شاهد را به عدم ادای شهادت یا به ادای شهادت دروغ وادار نماید، گرچه به مقصد خود نرسد.
۲- شخصی‌که در اثر بخشش وعده یا فریب از ادای شهادت امتناع ورزد.

دري سوه او شپږ اتیایمه ماده:
راتلونکی اشخاص عیناً د دروغو د شهادت په تاکلی جزأ محکومیږي:
۱- که څوک د یوی محکمی یا د قضائي ضبط دیوه مامور له خوا دیوه ترجمان په صفت مکلف شي او حقیقت په هره توګه چه وي عمداً یي تغییر کي.
۲- که څوک د یوه سند په ترجمه کې چه د محکمي په نزد دحق د اثبات په باره کښې د هغی د استعمال امکان موجودوي تزویر وارد کی.

مادهٔ سه صدو هشتادو ششم:
اشخاص آتی به عین جزای پیش بینی شدهٔ شهادت دروغ محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که از طرف یکی از محاکم یا مامورین ضبط قضائی به صفت اهل خبره یا ترجمان مکلف گردد و حقیقت را بهر طریقه که باشد عمداً تغییر دهد.
۲- شخصی‌که در ترجمه یکی از اسنادی‌که امکان استعمال آن در اثبات حق نزد محکمه موجود باشد تزویر وارد نماید.

۳- کـه څوک تزویـر شـوی تـصدیق سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری په یوی قضائي دعوی کښې د استفادی په منظور صادر یا امضاء کـی پـه دې شـرط چـه ددې قـسم تـصدیق ورکـول او امـضاء قانونـاً مطلوبه وی.

۴- کـه څـوک سـره ددې چـه پـه تزویر علم لری پـه قـضائي دعـوی یـا تحـقیق کـښی تـصـدیق، اظهـار، ترجمـه، سـند، وثیـقه یـا نـور تـزویر شـوی شیان استعمـال کی.

۵- کـه څـوک د تحقیـق ددعـوي د جریـان پـه وخـت کـښې پـه دفتـر یـا دوسیـه یـا نـورو پـاڼو کـښې چـه د اثبـات د پـاره د هغـی استعمـال ممکن وی یو غیر صحیح شی درج کی، په دې توګه چه د هغی په اثر د محکمی سره خطا راي پیداشی او په حکم کی تاثیر وارد کی.

۳- شخصی‌که تصدیق تزویر شده را بـا وجـود علـم بـه تزویـر آن بـه منظـور اسـتفاده در یـك دعـوی قـضائی صـادر یـا امـضاء نمایـد مشروط بر این‌که اعطاء وامضاء چنـین تـصدیق قانونـاً مطـلوب بـاشد.

۴- شخـصی‌کـه بـا وجـود علـم بـه تزویـر بـه منظـور اثبـات در دعـوی قـضائی یـا تحقیـق، تـصدیق، اظهـار، ترجمـه، سـند، وثیقـه، یـا اشـیای دیگـر تزویـر شـده را استعـمال نماید.

۵- شخـصی‌کـه در اثنـای جریـان تحقیق یا دعوی در دفتر یا دوسیه یا در اوراق دیگری‌که جهت اثبات استعمال آن ممکن باشد چیز غیر صحیح را درج نماید، به نحوی‌که بـه اثـر آن نـزد محکمـه رأی خطـا پیـدا شـده و در حکـم تـاثیر وارد نماید.

دري سوه او اووه اتیایمه ماده:

راتلـونکی حـالونه مخففـه عذرونـه شمارل کیږي:

۱- ددعـوی پـه موضـوع کـښې د حکـم د صـادریدو تـر مخـه یـا پـه

مادۀ سه صدو هشتادو هفتم:

احـوال آتـی اعـذار مخففـه شـمرده می‌شود:

۱- رجـوع شاهـد از اظهـارات دروغ وبیـان حقیـقت قبـل از

تحقیق کښې د تحقیق د هیئت د قرار د صادریدو ترمخه ددروغجنو اظهاراتو څخه دشاهد رجوع.

۲- په هغه حالت کښې چه د حقیقت اظهار شاهد دلوی خطر سره مخامخ کی په داسی ډول چه د هغه په آزادي یا شرف صدمه وارده کی یا د هغی په اثر ښځه یی یا یي د اصولو یا د فروعو څخه یو یایي خور یائي ورور دخطر سره مخامخ شي.

صدور حکم در موضوع دعوی و یا در تحقیق قبل از صدور قرار هیئت تحقیق.

۲- اگر اظهار حقیقت شاهد را به خطر بزرگ مواجه گرداند طوری‌که به آزادی یا شرف او صدمه وارد کند یا به اثر آن زوجه، یا یکی از اصول یا فروع یا خواهر یا برادر او به خطر مواجه گردد.

دري سوه او اته اتیایمه ماده:

ددروغو د شهادت حکمونه په هغه شخص چه شهادت یي د شاهد په حیث لازم نه وی یا په هغه شخص چه قانوناً پري شهادت لازم دی د شهادت داداء کولو څخه ځان وژغوری نه تطبیقیږي.

مادۀ سه صدو هشتادو هشتم:

احکام شهادت دروغ بر شخصی‌که شهادت او به حیث شاهد لازم نیست یا بر شخصی‌که قانوناً بر او لازم است از ادای شهادت امتناع ورزد تطبیق نمی‌گردد.

اته ویشتم فصل
ناحقه قسم

فصل بیست وهشتم
قسم ناحق

دري سوه او نهه اتیایمه ماده:

۱- که په قضائي دعوي کښې ددعوي د خواو څخه یوه ته سوګند متوجه شي او په ناحقه قسم وکي په متوسط حبس چه ددوه کلو

مادۀ سه صدو هشتادو نهم:

۱- هر گاه در دعوی قضائی به یکی از طرفین دعوی سوگند متوجه گردد و به ناحق قسم کند به حبس متوسط که از دوسال

نو څخه کم نه وي محکومیږي.
۲- کـه څـوک ددروغـو د قـسم وروسته او د حکم د صادریدو څخه تر مخه ددعوي په موضوع کښی حقیقت تـه رجوع وکـي پـه جزأ نـه محکومیږي.

کمتر نباشد محکوم می‌گردد.
۲- شخـصی‌کـه بـعد از قـسم دروغ وقبـل از صـدور حکـم در موضـوع دعـوی بـه حقـیقت رجـوع نمایـد بـه جـزا محکـوم نمی‌گردد.

دري سوه او نوي یمه ماده:
که څوک د حقیقت د اظهار د پاره د قاضـي یـا د قـضائي ضـبط د مـامورینو لـه خوا وغوښتل شی او بی د شرعی او قانونی عذر څخه د قانونی قسم څخه ځان وژغوری په لـنډ حبـس چـه د شپـږ میاشتو زیات او نقـدي جزاء چه ددری زرو افغـانیو څخـه تجـاوز ونـه کـی محکومیږي.

مادۀ سه صدو نودم:
شخـصی‌کـه بـه منظـور اظهـار حقیقـت از طـرف قاضـی یـا مـامورین ضـبط قـضائی خواسـته شود وبدون عذر شـرعی و قانونی از قـسم قـانونی امتنـاع ورزد بـه حـبس قـصیری‌کـه از شـشماه بیـشتر وجـزای نقـدی کـه از سـه هـزار افغـانی تـجاوز نکنـد محکوم می‌گردد.

نهه ویشتم فصل
دمړو او قبرونو بی حرمتی

فصل بیست ونهم
بی حرمتی اموات وقبور

دری سوه او یو نوی یمه ماده:
راتلونکی اشخاص په لنډ حبس او نقدي جزاء چه د پنځه زرو افغـانیو څخه زیاته نه وي او یـا ددي دواړو جزأګانو څخه په یوي محکومیږي:
۱- څـوک چـه بـی د شـرعـی جواز څخه قبر یـا مقبره خرابـه یـا

مادۀ سه صدو نود ویکم:
اشـخاص آتـی بـه حبـس قـصیر و جـزای نقـدی کـه از پنجهـزار افغـانی تجـاوز نکند یـا بـه یکـی ازین دو جزا محـکوم می‌گردد:
۱- شخصی‌که بدون مجوز شرعی قبـر یـا مقبـره را خـراب یـا تلـف

تلف کی.

۲- که څوک عمداً د مړی د ټول جسد یا جزء سره یې بی حرمتی وکی یا د مړی کفن وباسي، که ذکر شوی فعل دمړی څخه دانتقام یا د هغه د تشهیرولو په منظور ارتکاب شوی وی په دې صورت کښې مرتکب په متوسط حبس چه ددري کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

دري سوه او دوه نوی یمه ماده:

که څوک په علمی یا تعلیمي غرض دوارث د اجازی په غیر د مړی ټول جسد اخیستلو ته یایي جزء ته اقدام وکي په لنډ حبس چه د شپږ میاشتو زیات نه وي یا په نقدي جزأ چه د شپږ زره افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

دري سوه او دري نوي یمه ماده:

۱- که څوک عمداً په جنازه کې جار اوجنجال وکی یایې ښخول په شدت او تهدید معطل کی په لنډ حبس یا نقدي جزأ چه د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

سازد.

۲- شخصی‌که عمداً به تمام یا جز از جسد مرده بی حرمتی نماید یا کفن میت را بکشد، اگر فعل مذکور به منظور انتقام یا تشهیر میت ارتکاب گردیده باشد در این صورت مرتکب به حبس متوسطی‌که از سه سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو نودودوم:

شخصی‌که به غرض علمی یا تعلیمی بدون اجازه وارث به گرفتن تمام یا جزء از جسد میت اقدام نماید، به حبس قصیری‌که از شش ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از شش هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

مادۀ سه صدو نود وسوم:

۱- شخصی‌که عمداً در جنازه جار وجنجال بر پا نماید ویا تدفین آن را به شدت و تهدید معطل کند به حبس قصیر یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۲- کـــه څـوک د حقیقـت پـه خـــلاف یـــو محـــل دمقبـــرې یـــامزار په حیث جوړ کی په لنډ حبس محکومیږي.

۲- شخـصی کـه خـلاف حقیقـت محلی را بـه حیث مقبـره یـا مـزار بـسازد بـه حـبس قـصیر محکـوم می گردد.

دوه یم باب
د افرادو په ضد جنایتونه او جنحې
لومړی فصل
عمدي قتل

دري سوه او څلور نوي یمه ماده:
کـه په عمدي قتل کښې قصاص پـه یـوه سـاقطوونکی سـبب یـا د شـــرطونو دنـه یوځـای کېـدو لـه امـــله ســاقط شـی ددې فـصل د حکمونـو سره سم په تعزیـري توګه مجازات کیږي.

مادۀ سه صدو نودو چهارم:
هرگـاه در قتـل عمـد قـصاص بـه یکـی از اسـباب مـسقطه یـا عـدم تـوافر شـرایط سـاقط یـا متعـذر گـردد، مرتکـب حـسب احـوال مطابق بـه احکام ایـن فـصل تعزیر را مجازات می گردد.

دري سوه او پنځه نوي یمه ماده:
د عمدی قتل ارتکاب کـوونکی په یوه راتلونکی حالت کښې په اعدام محکومیږي:
۱- په هغه حـالت کښې چه قتـل د پخـواني اصـرار او تـرصـد سره یـوه ځاي وي.
۲- که قـتل د زهر نـاکو بـي هوشـه کوونکو یا چـاودیـدونکـو مـوادو

مادۀ سه صدو نود وپنجم:
مـرتکـب قـــتل عـــمد در یکـی از حـالات آتی به اعـــدام محکوم می گردد:
۱- در حـالتـی کـه قـــتـل بـــا اصـــــرار قـبـــلی وتـــرصـــد تـوأم بـاشد.
۲- اگـر قـتل تـوسط استعمـال مـــواد سمـــی بـــی هـــوش

د استعمال په وسیله صورت موندلي وي.

۳- که قتل په ټیټه انګیزه یا د اجوری په مقابل کښې یا په وحشي توګه صورت موندلي وي.

۴- که مقتول د قاتل د اصولو څخه وي.

۵- که د قتل عمل د عمومي خدمتونو په مؤظف د وظیفي د اجراء کولو په وخت کښې یا د هغي په سبب صورت موندلي وي.

۶- که قاتل دیوه نفر څخه د زیاتو د قتل قصد لرلي وي او د یوه فعل په اثر د ټولو قتل صورت موندلی وی.

۷- که قتل د بل جنایت یا جنحي سره یو ځاي صورت موندلي وي.

۸- که قتل د بل جنایت یا جنحی د تمهید، اسانتیا، تنفیذ، قادرید لو د ارتکاب په منظور چه جزأ یي دیوه کال څخه کمه نه وي ټاکل شوي یادجزأ څخه دفراریا خلاصون په منظور صورت موندلي وي.

۹- که دعمدی قتل ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم وی او د حکم د تنفیذ دمودی په اوږدوکې دبل عمدی کننده یا منفجره صورت گرفته باشد.

۳- اگر قتل با انگیزه دنی یا در برابر اجرت ویا طور وحشیانه صورت گرفته باشد.

۴- اگر مقتول از اصول قاتل باشد.

۵- اگر عمل قتل بر مؤظف خدمات عامه در اثنای اجرای خدمت یا به سبب آن صورت گرفته باشد.

۶- اگر قاتل قصد قتل بیش از یك نفر را داشته و به اثر فعل واحد قتل همۀ آنها صورت گرفته باشد.

۷- اگر قتل توأم با جنایت یا جنحه دیگر صورت گرفته باشد.

۸- اگر قتل به منظور تمهید یا تسهیل یا تنفیذ و قادر شدن به ارتکاب جنایت یا جنحه که جزای آن از یکسال کمتر پیش بینی نشده باشد و یا به منظور فرار یا رهائی از جزا صورت گرفته باشد.

۹- اگر مرتکب قتل عمد محکوم علیه به حبس دوام باشد و در خلال مدت تنفیذ حکم مرتکب قتل عمد دیگر یا

قتل ارتکاب کوونکی یا په هغی کښی شروع کوونکي شي.

شـــــــروع در آن گردیـــــــده باشد.

دري سوه او شپږ نوي یمه ماده:

دعمدي قتل ارتکاب کوونکي په یوه راتلونکي حالت کښې دحالونو سره سم په دوام لرونکی حبس یا اعدام محکومیږي:

۱- په هغه حالت کـښې چـه قاتل دیوه شخص دقـتل قصد ولري او فعل یـي دیـوه نفـر څخه د زیاتو قتل ته منجر شي.

۲- په هـغه حـالت کې چه قاتل د مقتول جسد مثله کي.

۳- په هغه حـالت کښې چه مجرم ددې قـانون د (۳۹۵) مـادی د (۱، ۲) جزونو دمندرجو حـالونه په غیر د قتل ارتکاب کوونکی وګرځي.

مادۀ سه صدو نودوششم:

مـــرتکـب قـتل عـــمد در یـــکی از حـــالات آتـــی حســـب احـــوال بـــه حبـــس دوام یـــا اعـــدام محـــکوم مـــی گردد:

۱- در حالتی‌که قاتل قصد قتل شخـصی واحـد را داشـته باشد وفـعل او مـنجر به قتل بیش از یك نفر شده باشد.

۲- در حالی‌که قاتل جسد مقتول را مثله نماید.

۳- در حـالی‌کـه جانی در غیـر از حالـت مندرج اجزا (۱و۲) مندرج مـادۀ (۳۹۵) ایـن قانـون مرتکب قتل گـردد.

دري سوه او اووه نوي یمه ماده:

۱- که شخص بل څوک انتحار ته تحریک کی یا په یو قسم داقسامو د هغه په انتـحار کښې کمک وکي د حبس په جزأ چه داووه کلونو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- کـــه د تحریـک پـــه اثـــر پـــه انتحـــار کـــښې شـــروع شـــوي وي

مادۀ سه صدو نودو هفتم:

۱- شخـصی‌کـه دیگـری را بـه انتحار تحریك نماید و یا به نحوی از انحا در انتحار وی کمك نماید بـه جزای حبـس کـه از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر بـه اثـر تحریك شروع در انتحـار صـورت گرفتـه باشـد

تحریک کوونکی په لنډ حبس محکومیږي.
۳- په انتحار شروع کوونکی نه مجازات کیږي.

دري سوه او اته نوي یمه ماده:
که شخص د خپلي ښځي یا دیوي خپلي محرمي دناموس څخه ددفاع په اثر دزنا کولو په حالت کښې یایي وجود د بل چا سره په یوي بستره کښې مشاهده کي او في الحا ل دواړه یا یو د هغوی په قتل ورسوي یایي زخمي کي د قتل او زخم دجزأ څخه معاف مګر په تعزیري توګه دحالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

دوه یم فصل
وهل چه په مرګ منجر کیږي او د خطا قتل

دري سوه او نهه نوي یمه ماده:
۱- که څوک بی له دی چه دقتل قصد ولری په بل چا په وهلو، زخمی کولو، مضره موادو په ورکولو یا دهر نوع فعل په ارتکاب چه د قانون نه مخالف محرك به حبس قصیر محکوم می‌گردد.
۳- شروع کننده به انتحار مجازات نمی گردد.

مادۀ سه صدو نودو هشتم:
شخصی‌که باثر دفاع از ناموس زوجه یا یکی از محارم خود را در حالت تلبس به زنا یا وجود او را با شخصی غیر در یك بستر مشاهده وفی الحال هردو یا یکی از آنها را به قتل رسانده یا مجروح سازد از جزای قتل وجرح معاف اما تعزیراً حسب احوال به حبسی‌که از دوسال بیشتر نباشد محکوم می گردد.

فصل دوم
ضرب منجر به موت و قتل خطاء

مادۀ سه صدو نودو نهم:
۱- شخصی‌که بدون داشتن قصد قتل علیه شخص دیگری با وارد نمودن ضرب، جرح یا دادن مواد مضره ویا با ارتکاب هر نوع فعل مخالف قانون عمداً تجاوز

وي تیـری وکـي پـه داسې توګه چـه فعـل یـي دمجنـي علیـه پـه مـرګ منـجر شـي د حـالونو سره سم پـه اوږده حبـس محـکومیـږي.

۲- کـه د پـورتنی فقری ددرج شـوو جرمونـو ارتکـاب د پخـوانی اصـرار سـره یـا د عمـومی خـدمتونو پـه مؤظف د وظیفی په اجراء کولو پـه وخت کې یـا یـي د هغـی پـه سـبب صورت موندلی وی یا مجنی علیـه د هغـه داصـولو څخـه وی ارتکـاب کـوونکی پـه دوام لرونکـی حـبس محکومیږي.

نماید به نحوی‌که فعل او منجر بـه مـرگ مجنـی علیـه گـردد حـسب احـوال بـه حـبس طویـل محکـوم می گردد.

۲- اگـــر ارتـــکاب جـــرایم مـندرج فقـرۀ فـوق به اصـرار قـبلی یا علیه مـؤظف خـدمات عـامه در اثـنای اجـرای وظـیفه یـــا بـــه ســـبب آن صـــورت گـرفـته بـاشد و یـا مجـنی عـــلیه از اصـــول وی بـــاشد مرتکـب بـه حبس دوام مـحکوم مـی گـردد.

څلور سوومه ماده:

۱- کـه څـوک د خطـا پـه اثـر چـه د اهمال، غفلت، بي احتیاطي، د بی مهارتی، د قـانون، مقرراتو، لایحو او امرونـو دنـه مراعـات کولـو څخـه يي نشأت کړی وی د بـل شـخص د قتـل ارتکـاب کـوونکی وګرځـی یـا بـی لـه عمـده د قتـل سـبب شـی پـه حبس تـر دری کلونـو او نقـدی جزأ چه د شپږ دیرش زرو افغـانیو څخـه زیاته نه وی یـا ددی دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

۲- که خطا دداسی اصولو د جسیم

مادۀ چهارصدم:

۱- شخـصی‌که بـاثر خطای ناشی از اهمال، غفـــلت، بی احتیـاطی عـدم مراعـات قـــانون ، مقـررات، لوایح و اوامر مرتکب قتـل شـخص دیگری گردد یا بـــدون عمد سبب قتـل شـود بـه حبس الـــی سه سـال وجزای نقدی ای‌که از ســـی وشـش هزار افغانی تـــجاوز نکند ویـا بـه یکی از این دو جـــزا محکوم می گـردد مگـر ایـن‌کـه قـانون طـــور دیـگری حکم کرده باشد.

۲- اگـــر خطـا در نتیجـه تخلف

تخلف په نتیجه کښې صورت ومومي چه وظیفی، کسب یا کار پری لازم کړی وی یا خطا د ارتکاب په وخت کښی د مخدره او نیشه یي موادو د استعمال څخه پیدا شوی وی یا د حادثی دواقع کیدو په وخت کښی د مجنی علیه د مرستی څخه سره ددې چه پری قدرت لری ځان وژغوری ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو کم نه وی او په نقدی جزأ چه د پنځوس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

۳- که د پورتنیو فقرو ددرج شوی فعل د ارتکاب په اثر د یو نفر څخه زیات مړه شی مرتکب په متوسط حبس چه ددری کلونو کم نه وی او په هغه صورت کښی چه د (۲) فقری د حالاتو څخه ورسره یویو ځای شی ارتکاب کوونکی په حبس چه داووه کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

جسیم از اصولی صورت بگیرد که وظیفه پیشه یا حرفه بر او لازم گردانیده ویا خطا در وقت ارتکاب ناشی از استعمال مواد مخدره یا مسکره باشد و یا هنگام وقوع حادثه از مساعدت با مجنی علیه با وجود قدرت به آن امتناع ورزد مرتکب به حبس متوسط که از دو سال کمتر و جزای نقدیی که از پنجاه هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

۳- اگر باثر ارتکاب فعل مندرج فقرات فوق بیش از یکنفر به قتل برسد مرتکب به حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد ودر صورت یکجا شدن یکی از حالات مندرج فقرهٔ (۲) با آن مرتکب به حبسی که از هفت سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

درېیم فصل
دمقتول د جسد پټول

څلور سوه او یوومه ماده:
کــه څوک سره ددې چــه په قتـل علم لری د مقتـول جسد بی لـه دې چـه صـلاحیت لرونکـی مقامونوتـه اطـلاع ورکـی او د قتـل د کـشف د حالت او د سببونو ترمخه هغـه پټ یا ښخ کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغـانیو کمـه او ددولس زرو افغـــانیو زیاتـــه نـــه وی محکومیږي.

څلورم فصل
د جنین سقطیدل

څلور سوه او دوه یمه ماده:
که څـوک عــمداً د حــاملي ښځي جنین دوهلو یـا د هر نوع بل اذیت دلاري اســقاط کــی پــه اوږده حبس چه د اووه کلونو څـخه زیات نه وي محکومیږي.

فصل سوم
اخفای جسد مقتول

مادۀ چهار صدویکم :
شخصی‌که بـا وجـود علـم بـه قتـل جــسد مقتــول را بــدون اطــلاع مقامــات بــا صــلاحیت و قبــل از کــشف حالــت قتــل و اســباب آن پنهــان یــا دفــن نمایــد بــه حبــس قصیری‌که از سه مـاه کمتـر نباشـد یـا جزای نقـدی‌ایکـه از سـه هـزار افغــانی کمتــر و از دوازده هــزار افغــانی بیــشتر نباشــد محکــوم می‌گردد.

فصل چهارم
اسقاط جنین

مادۀ چهارصدو دوم:
شخصی‌که عمداً جنــین زن حامله را از طریــق ضــرب یــا هــر نــوع اذیــت دیگــر اســقاط نمــاید بـه حبــس طویــل کــه از هفــت ســال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

څلور سوه او دریمه ماده:

۱- که څوک ددوا په ورکولو یا د نورو وسیلو په استعمال د حاملی ښځی دجنین د سقط موجب وګرځی که څه هم د جنین اسقاط د حاملی ښځی په رضا صورت موندلی وی په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه د دولس زرو افغانیو کمه او شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- که دوا په سهوه ورکول شوی وی ارتکاب کوونکی په لنډ حبس یا نقدی جزأ چه د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادۀ چهارصدو سوم:

۱- شخصی که بواسطه دادن ادویه یا استعمال دیگر وسایل موجب سقط جنین زن حامله گردد اگر چه اسقاط جنین به رضای زن حامله صورت گرفته باشد به حبس متوسط یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی کمتر و از شصت هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.

۲- اگر ادویه سهواً داده شده باشد مرتکب به حبس قصیر یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.

څلور سوه او څلورمه ماده:

۱- که اسقاط کوونکی طبیب، جراح، دوا جوړوونکی یا قابله وی د ټاکل شوی جزأ په اکثری اندازی محکومیږي.

۲- که دپورتنیو اشخاصو اقدام د تداوی د لاری دمورد ژوند د خلاصون په منظور صورت موندلی وی ارتکاب کوونکی نه مجازات کیږي.

مادۀ چهارصدو چهارم:

۱- اگر اسقاط کننده طبیب، جراح، دواساز یا قابله باشد به حداکثر جزای پیش بینی شدۀ محکوم می گردد.

۲- اگر اقدام اشخاص مندرج فقرۀ فوق به منظور نجات دادن حیات مادر از طریق تداوی صورت گرفته باشد مرتکب مجازات نمی گردد.

څلور سوه او پنځمه ماده:
که ښځه سره ددې چه د عمل په عواقبو علم لری ددوا یا نورو وسیلو په استعمال راضی شی یا بل شخص ته د ذکر شوو وسیلو د استعمال اجازه ورکی او د هغی په اثر د جنین اسقاط محقق شی په لنډ حبس یا نقدی جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

مادۀ چهارصدو پنجم:
زنی‌که با وجود علم به عواقب عمل عمداً با خوردن ادویه یا استعمال دیگر وسایل راضی شود و یا به شخص دیگری اجازۀ استعمال وسایل متذکره را بدهد وبه اثر آن اسقاط جنین تحقق یابد به حبس قصیر یا جزای نقدی که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

څلور سوه او شپږمه ماده:
د جنین د اسقاط په جرم شروع د مجازات وړ نه ده.

مادۀ چهارصدو ششم:
شروع به جرم اسقاط جنین قابل مجازات نمی باشد.

پنځم فصل
وهل اوزخم

فصل پنجم
ضرب وجرح

څلور سوه او اوومه ماده:
۱- که یو شخص عمداً بل شخص په داسي ډول زخمي یا ووهی چه د پری کیدو یا نقصان یا ماتیدو یا د بدن د اعضاوو څخه د یوی عضوی د کاره ولیدو یا په دوام لرونکی معلولیت منجر یا د هغه د یوی حواس د فقدان موجب وګرځی د خساری په جبران علاوه په متوسط

مادۀ چهارصدو هفتم:
۱- شخصی‌که عمداً شخص دیگری را طوری مجروح یا مضروب نماید که موجب قطع یا نقصان یا شکستن یا از کار افتیدن عضوی از اعضای بدن یا منجر به معلولیت دایمی یا فقدان یکی از حواس او گردد علاوه بر جبران خساره به حبس

حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- که دا عملونه د مجنی علیه د عقل په زوا ل منجر شی یا د پخوانی اصرار او ترصد سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

متوسط که از سه سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر این اعمال منجر بزوال عقل مجنی علیه گردد و یا توأم با اصرار قبلی وترصد باشد مرتکب حسب احوال به حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

څلور سوه او اتمه ماده:

۱- که زخم یا وهل د عضو د عطالت یا د کار څخه د شلو ورځو څخه زیات د بې وسي موجب وګرځی ارتکاب کوونکی د خساری په جبران علاوه په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۲- که ذکر شوی عمل د پخوانی اصرار او ترصد سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی د تړاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

مادۀ چهارصدو هشتم:

۱- هرگاه جرح یا ضرب موجب، عطالت عضو یا عجز از کار برای مدت بیش از بیست روز گردد مرتکب علاوه بر جبران خساره به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد یا جزای نقدی از سه هزار افغانی کمتر و از دوازده هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر عمل مذکور با اصرار قبلی وترصد توأم باشد مرتکب بحد اکثر جزای پیش بینی شده محکوم می گردد.

څلور سوه او نهمه ماده:

۱- کـه وهـل یـا زخـم د عـضوی د معلولیت او عطالت موجب نه شی یا د کاره څخه د شلو ورځو څخه کـم د بـی وسـی موجـب وګرځـی ارتکـاب کـوونکی پـه لنډ حبـس چـی د شپږ میاشتو زیات نـه وی یـا نـقدی جزأ چی د شپـږ زرو افـغانیو څخـه تجـاوز و نـه کـی محکومیږی .

۲- که ذکر شوی عمل د پخوا نی اصرار او ترصـد سره یـو ځـای وی ارتکـاب کـوونکی د ټاکـل شـوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږی.

مادۀ چهار صدو نهم:

۱- ضـرب یـا جرحیکـه موجب معلولیت و عطالت عضو نشده یا موجـب عجـز از کـار بـرای مـدت کمتـر از بیست روز گردد مرتکب به حبس قصیـریکـه از شـش ماه بیـشتر نبـاشـد یـا جـزای نقدیـیکـه از شـش هـزار افغـانی تجـاوز نکنـد محکـوم می گردد.

۲- اگـر عـمل مـذکور با اصرار قبلی وترصـد تـوأم بـاشـد مرتکب بحد اکثـر جزای پیـش بیـنی شده محکوم مـی گـردد.

څلور سوه اولسمه ماده:

که د پورتنیو موادو درج شوی وهل یا زخم د یو نفر څخه د زیاتو له خوا یا دوسلي په استعمال یا دوهلو او زخمی کولو په نورو آلو صورت ومومی ارتکاب کوونکی د ټاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

مادۀ چهارصدو دهم:

هـرگـاه ضرب یـا جـرح منـدرج مواد فـوق از طرف بیش از یکنفر یا به استـعمال سـلاح یـا دیگـر آلات ضـرب و جـرح صـورت گیـرد مرتکـب بـحداکثر جـزای پـیش بینـی شـده محکـوم مـی گـردد.

څلور سوه او یوولسمه ماده:

کـه یـو شـخص بـل چاتـه ضـرر ناکه مواد چه وژونکی نه وی ورکی چه د

مادۀ چهار صدو یازدهم:

شخـصیکه عمداً دیگری را مـواد ضرر نـاك غیـر کشنده بدهد کـه

هغــه ددوام لرونکــی معلولیــت، دعضوي د عطالت، یا د کاره څخه د هغی د ولیدلو یا د هغه د یوي حاسي د فقدان موجب وګرځی دخساری په جبران علاوه په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

موجب معلولیت دایمی، عطالت عضو یا از کار افتیدن آن یا فقدان یکی از حواس او گردد علاوه بر جبران خساره به حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

څلور سوه او دوولسمه ماده:
که یو شخص د یوی خطا په اثر چه د اهمال، بی احتیاطی او بی مهارتی څخه نشأت کړی وی بل شخص زخمی یا ووهی د خساری د جبران څخه علاوه په حبس چه ددری میاشتو کم او ددوه کلونو څخه زیات یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۱۱- طیاره درحال پرواز: طیارۀ است که تمام دروازه های آن به منظور پرواز بسته شده و الی زمانیکه یکی از دروازه های آن به منظور خروج راکبین باز

خلاصپړي.
د اجباري ناستې په صورت کې تر هغۀ وخته پورې چې واکمن مقامات د الوتکې، سپرلیو او په الوتکه کې د دننه مالونو مسؤلیت په غاړه واخلي، الوتکه د الوتلو په حال کې ګډل کېږي.

می گردد.
در صورت نشست اجباری الی زمانیکه مقامات با صلاحیت، مسؤلیت طیاره، راکبین و اموال داخل طیاره را بعهده گیرند، طیاره درحال پرواز دانسته می شود.

د تطبیق ساحه

څلورمه ماده:
کـه چېرې د افغانستان تبعه، د بهرني دولت تبعه یا له تابعیت پرته شخص، پدې قانون کې درج شوي جرمونه، په لاندې حالاتوکې مرتکب شي، ددې قانون حکمونه پرې، د تطبیق وړ دي:
۱- جرم د افغانستان په قلمرو کې ارتکاب شوی وي.
۲- جرم د افغانستان د تبعه یا په افغانستان کې د نورو مېشتو اشخاصو پر علیه یا د افغانستان د ګټو پر ضد په بهر کې ارتکاب شوی وي.
۳- جرم د هغې الوتکې په دننه یا د هغې پر ضد چې په افغانستان کې ثبت شوې وي، ارتکاب شوی وی.

ساحۀ تطبیق

مادۀ چهارم :
هرگاه تبعۀ افغانستان، تبعۀ دولت خارجی یا شخص بدون تابعیت، جرایم مندرج این قانون را در احوال ذیل مرتکب گردد، احکام این قانون بر وی قابل تطبیق می باشد:
۱-جرم در قلمرو افغانستان ارتکاب گردیده باشد.
۲- جرم علیه تبعۀ افغانستان یا سایر اشخاص مقیم افغانستان یاعلیه منافع افغانستان در خارج ارتکاب گردیده باشد.
۳- جرم در داخل طیاره یا علیه آن که در افغانستان ثبت بوده، ارتکاب گردیده باشد.

۴- جـرم د افغانـستان د بیـرغ وړونکې ببړې په دننه یا د هغې پر ضد ارتکاب شوی وي.

۵- جرم د هغې ودانۍ په دننه او یا د هغې پر علیه چې د افغانستان د دولت دیپلوماتیکه نمایندګي یا نورې رسمي نمایندګۍ پکې واقع وي یا د افغانستان په دولت پورې د اړوندو آسانتیاوو (تسهیلاتو) پر ضد، ارتکاب شوی وي.

۶- جرم د هغې الوتکې په دننه کې چې په افغانستان کې ثبت شوې نه وي ارتکاب شوی وي او الوتکه د افغانستان په قلمرو کې ناسته وکړي او له الوتکې سره په اړه ددې قانون په نهمه ماده کې د درج شوي جرم مرتکب، د هغې په دننه کې وي.

۷- جرم، ددې قانون په دیارلسمه ماده کې د درج شوي شخص په اړه، چې د افغانستان له دولت سره کاري اړیکي ولري، ارتکاب شوی وي.

۴- جرم در داخل کشتی حامل بیرق افغانستان یا علیه آن ارتکاب گردیده باشد.

۵- جرم در داخل ساختمان و یا علیه آن که نمایندگی دیپلوماتیك یا سایر نمایندگی های رسمی دولت افغانستان درآن واقع بوده یا علیه تسهیلات متعلق به دولت افغانستان، ارتکاب گردیده باشد.

۶- جرم در داخل طیاره ای که در افغانستان ثبت نبوده ارتکاب گردیده و طیاره در قلمرو افغانستان نشست نماید و مرتکب جرم مندرج مادۀ نهم این قانون در ارتباط به طیاره در داخل آن باشد.

۷- جرم در ارتباط به شخص مادۀ سیزدهم این قانون که با دولت افغانستان روابط کاری داشته، ارتکاب گردیده باشد.

د اطفالو د تروريستي جرمونو څېړل (رسيدګی)

پنځمه ماده:

که چېرې پدې قانون کې درج شوي جرمونه، د اطفالو لخوا ارتکاب شي، د هغو څېړل، د اطفالو د سرغړونو د رسېدګۍ د قانون مطابق، صورت مومي.

رسیدگی به جرایم تروریستی اطفال

مادۀ پنجم :

هرگاه جرایم مندرج این قانون توسط اطفال ارتکاب گردد ، رسیدگی به آن طبق قانون رسیدگی به تخلفات اطفال صورت می گیرد.

د مظنون یا تورن حقوق

شپږمه ماده:

د تروريستي جرمونو مظنون يا تورن، د تحقيق او محاکمې په وخت کې د نورو جرمونو د مظنونينو او تورنو په څېر د عين قانوني حقوقو لرونکی دی.

حقوق مظنون یامتهم

مادۀ ششم:

مظنون یا متهم جرایم تروریستی ، حین تحقیق ومحاکمه مانند مظنونین ومتهمین سایر جرایم دارای عین حقوق قانونی می باشد.

د بهرنۍ تبعه مظنون يا تورن حقوق

اوومه ماده:

که چېرې پدې قانون کې د درج شوو جرمونو مظنون يا تورن بهرنی تبعه وي، له نيولو او توقيف وروسته، په نورو تقنيني سندونو کې پر درج شوو حقوقو برسېره د لاندې حقوقو لرونکی هم دی:

۱- د بهرنيو چارو د وزارت له لارې

حقوق مظنون یا متهم تبعۀ خارجی

مادۀ هفتم:

هرگاه مظنون یا متهم جرایم مندرج این قانون تبعۀ خارجی باشد ، بعد از گرفتاری و توقیف علاوه بر حقوق مندرج سایر اسناد تقنینی دارای حقوق ذیل نیز می‌باشد :

۱- اطلاع بدون تاخیر به

د متبوع دولت سیاسي نمایندګی ته بې له ځنډه خبر ورکول.
۲- د متبوع دولت له استازی سره لیدنه کتنه.
۳- ددې مادې په (۱او ۲) اجزاوو کې له درج شوو حقوقو څخه خبرتیا.

نمایندگی سیاسی دولت متبوع از طریق وزارت امورخارجه.
۲- بازدید بانمایندۀ دولت متبوع.
۳- آگاهی از حقوق مندرج اجزای (۱و۲) این ماده .

دوه یم فصل
تروریستي جرمونه او د هغو مجازات

فصل دوم
جرایم تروریستی و مجازات آن

د الوتکې، بېړۍ او یا د لارښوونې د ثابت ځای (سکو) تصرف یا تر کنترول لاندې راوستل

اتمه ماده:
(۱) هغه شخص چې د قوې (تشدد) یا وېرې اچونې د نورو اعمالو په استعمال سره، د الوتنې په حال کې الوتکه یا بېړۍ یا د لارښوونې ثابت ځای (سکو) یا د هغو یوه برخه تصرف یا تر کنترول لاندې را ولي، له احوالو سره سم د اوږدیا دوام حبس په جزا، محکومېږي.
(۲) کـه چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص د سخت تپ یا قتل مرتکب شي، له احوالو

تصرف یا تحت کنترول قرار دادن طیاره، کشتی و یامحل هدایت(سکو) ثابت

مادۀ هشتم:
(۱) شخصی که با استعمال قوه (تشدد) یاسایر اعمال ارعاب آمیز، طیارۀ در حال پرواز یا کشتی یا محل هدایت (سکو) ثابت و یا بخشی از آنها را، تصرف یا تحت کنترول قرار دهد، حسب احوال به جزای حبس طویل یا دوام محکوم می گردد.
(۲) هرگاه شخص مندرج فقرۀ (۱) این ماده مرتکب جراحت شدید یا قتل گردد، حسب احوال

سره سم د دوام حبس یا اعدام په جزا، محکومېږي.

(۳) که چېرې شخص صرف ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب د متوسط حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي ګواښ له املې شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، له احوالو سره سم، د هغه حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

به جزای حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه شخص، صرف تهدید به ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد ، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه بالاثر تهدید مندرج فقرهٔ (۳) این ماده شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

د هوایي خوندیتوب پر علیه جرمونه

نهمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوهٔ مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې الوتکه د الوتنې په حال کې وي، د هغې د یوې سپرلۍ پر علیه له تشدد څخه په ډك عمل لاس پورې کړي او نومورې عمل د الوتکې خوندیتوب

جرایم علیه مصؤنیت هوائی

مادهٔ نهم:

(۱) شخصی که مرتکب یکی ازاعمال آتی شود ،حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- درصورتی که طیاره در حال پرواز بوده، علیه یکی از راکبین آن دست به عمل تشدد آمیز بزند وعمل مذکور مصؤنیت طیاره

له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د هغه حبس په جزا چې له پنځو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې فعاله الوتکه داسې ډول زیانمنه کړي چې د الوتنې خنډ یې شي یا د الوتنې په حال کې الوتکې د خوندیتوب لپاره د خطر احتمال را منځته کړي یا غیر فعاله الوتکه زیانمنه یا ویجاړه کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږده یا دوام حبس یا اعدام په جزا محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په الوتکه کې داسې مواد او وسایل کښېږدي او یا یې د ابنودلو وسیله شي داسې چې د الوتکې د ویجاړېدو موجب شي یا هغې ته داسې زیان ورسوي چې د الوتنې خنډ یې شي یا د الوتنې په حال کې الوتکې خوندیتوب ته د خطر احتمال را منځته کړي، مرتکب له احوالو سره سم د حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه لږ او له څوارلسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از پنج سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۲- درصورتی که طیارهٔ فعال را طوری خساره مند سازد که مانع پرواز آن گردد یا احتمال خطر را برای مصؤنیت طیارهٔ در حال پرواز ایجاد نماید، یا طیارهٔ غیر فعال را خساره مند و یا منهدم نماید مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل یا دوام و یا اعدام محکوم می گردد.

۳- درصورتی که در طیاره وسایل یا موادی را بگذارد و یا وسیلهٔ گذاشتن آن شود، طوری که موجب انهدام طیاره شده بتواند یا به آن صدمهٔ برساند که مانع پرواز آن گردد یا احتمال خطر را برای مصؤنیت طیاره در حال پرواز ایجاد نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از ده سال کمتر و از چهارده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۴- په هغهٔ صورت کې چې ملکي هوايي تأسيسات ويجاړ يا هغو ته زيان ورسوي يا يې په فعاليت کې پداسې توګه لاسوهنه وکړي چې د الوتنې خوندیتوب له خطره سره مخامخ کړي، له احوالو سره سم د اوږده حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي يا په دوام حبس، محکومېږي.

۵- په هغهٔ صورت کې چې پوهېږي هغه معلومات چې حقيقت نلري، وړاندې کړي، داسې چې د الوتنې خوندیتوب له خطر سره مخامخ وښيي، مرتکب د متوسط حبس په جزا چې له دريو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکي يا هر بل حقيقي يا حکمي شخص د يوهٔ عمل اجراء يا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزاء چې له دريو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زيات نه وي،

۴- درصورتی که تأسیسات هوائی ملکی را منهدم و یا به آن صدمه برساند یا درفعالیت آ ن به نحوی دخالت نماید که مصؤنیت پرواز را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد یا حبس دوام، محکوم می گردد.

۵- درصورتی که معلوماتی را که می داند عاری از حقیقت است، ارائه نماید طوریکه مصؤنیت پروازرا مواجه به خطر وانمود سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که شخص تهدید ارتکاب اعمال مندرج اجزای (۱، ۲ و ۳) فقرهٔ (۱) این ماده را به منظور مجبور ساختن کارکن دولتی یا هر شخص حقیقی یا حکمی دیگری برای اجراء یا امتناع از اجرای یك عمل نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم

محکومېږي.
(۳) کـه چېـرې ددې مـادې د (۱) فقـرې پـه (۱) جـز کـې د درج شـوو عملونو د ګوابښ لـه املـه شـخص تر جـسمي يـا روانـي فـشار لانـدې و نيـول شـي، مرتکب لـه احوالـو سره سم د هغه حبس په جزا چې لـه لسو کلونو څخه لږ او لـه پنځلسو کلونـو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

د هوايي ډګرونوپر عليه جرمونه
لسمه ماده:
(۱) هغـه شـخص چـې لـه لاتـدې عملونو څخه د يوه مرتکب شي او پـه پايلـه کـې يـې د بـين المللـي ترانـسپورت د ګټـې اخـستنې ور ملکـي هـوايي ډګر خونديتوب لـه خطر سره مخامخ کړي او يا له خطر سـره د مخـامخ کېـدو د احتـمال باعـث شـي، پـه لاتـدې توګـه مجازاتېږي:
۱- په هغه صورت کې چې د تشدد عمل د هغه شخص پر عليـه چې د ملکـي بـين المللـي هـوايي ډګر پـه خدمت کې وي او په هوايي ډګر کې د هغه د سـخت ټپ يـا قتـل سـبب اويـا يـې د سـخت ټپ يـا قتـل د

می گردد.
(۳) هرگـاه بـالاثـر تهديـد اعـمال مندرج جز(۱) فقرۀ (۱) ايـن مـاده ، شـخص تحـت فـشار جـسمی يـا روانـــی قـــرار گيـــرد، مرتکـــب حـــسب احـــوال بـــه جـــزای حبـــسی کـــه ازده ســـال کمتـــر واز پـانزده سـال بيـشتر نباشـد، محکوم می گردد.

جرايم عليه ميدان های هوائی
مادۀ دهم:
(۱) شخـصی کـه مرتکـب يکـی ازاعمـال آتـی گرديـده و در نتيجۀ آن مصؤنيت ميدان هوائی ملکی مـــورد اســـتفادۀ ترانـــسپورت بـين المللـی را بـه خطـر مواجـه سـازد و يـا احتمـال مواجـه شـدن بـــه خطـــر را باعـــث شـــود، حـــسب ذيـــل مجـــازات می گردد:
۱- در صـورتی کـه عمـل تـشدد عليه شخصی که در خدمت ميدان هوائی بين المللی ملکی بوده و در ميدان هوائی سبب جراحت شديد يـا قتـل وی و يـا باعـث بـه ميـان آوردن احتمال مجروحيت شديد يا

احتمال د منځته راتلو باعث شي، مرتکب له احوالو سره سم د دوام حبس یا اعدام په جزا محکومېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د بین المللي ګټې اخستنې وړ ملکي هوایي ډګر تأسیسات ویجاړ یا هغهٔ ته سخت زیان و رسوي یا د هوایي ډګر خدمتونه اخلال کړي، مرتکب د اوږدهٔ حبس د اکثر حد په جزا محکومېږي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکي یا هر بل حقیقي یا حکمي شخص د یوهٔ عمل اجراء یا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور ددې مادې د (۱) فقرې په (۱) جز کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې د (۱) فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې د درج شـوو عملونـو د ګـواښ لـه املـه شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیـول شـي، مرتکـب لـه احوالو سره سم د هغه حبس په جزا قتـل وی گـردد، مرتکـب حـسب احوال به جزای حبس دوام یا اعدام محکوم می گردد.

۲- در صورتیکه تأسیسات میدان هـوائی مـورد اسـتفادهٔ خـدمات هوائی ملکی بین المللی را منهدم یـا بـه آن صدمهٔ شدید برساند یـا خدمات مـی‌دان هـوائی را اخـلال نمایـد، مرتکـب بـه حداکثر جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۳- در صورتی کـه شـخص تهدید ارتکـاب اعـمال منـدرج جـز(۱) فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده را بـه منظـور مجبـور سـاختن کـارکن دولتـی یـا هـر شـخص حقیقـی یـا حکمی دیگری به اجراء یا امتناع از اجرای یـك عمـل نمایـد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حبـسی کـه از سـه سـال کمتـرو از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

(۲) هرگـاه بـالاثـر تهدیـد اعمـا ل منـدرج اجـزای(۱و۲) فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده شـخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیـرد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حبـسی کـه ازپـنج

چې له پنځو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

سال کمتر واز ده سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

د بېړیو او ثابتو تأسیساتو د سپرلې (راکب) پر علیه جرمونه

یوولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوۀ مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د تشدد عمل، په بېړۍ کې د سپور شخص پر علیه یا په ثابتو تأسیساتو کې صورت ومومي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدۀ حبس په جزا محکومېږي.

۲- په هغۀ صورت کې چې عمل د بېړۍ، د بېړۍ د محمولې یا ثابتو تأسیساتو د ویجاړېدو یا زیات زیان سبب شي یا احتمالاً د سمندري ترانسپورت د ګټې اخستنې وړ ثابتو تأسیساتو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم د اوږدۀ حبس په جزاء، محکومېږي.

۳- په هغۀ صورت کې چې په بېړۍ یا ثابتو تأسیساتو کې داسې

جرایم علیه راکب کشتی ها وتأسیسات ثابت

مادۀ یازدهم:

(۱) شخصی که مرتکب یکی از اعمال آتی شود ،حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که عمل تشدد علیه شخص سوار در کشتی یا در تأسیسات ثابت صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی که عمل سبب انهدام یا خسارۀ شدید کشتی، محمولۀ کشتی یا تأسیسات ثابت گردد یا احتمالاً مصؤنیت کشتی یا تأسیسات ثابت مورد استفاده ترانسپورت بحری را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل محکوم می گردد.

۳- در صورتی که در کشتی یا تأسیسات ثابت و سایل یا موادی

وسایل یا مواد کنښړدي یا یې د اښنودلو وسیله شي چې د ښړې یا ثابتو تأسیساتو د ویجاړښدو یا زیان سبب شي، مرتکب له احوالو سره سم د اوږدې حبس په جزاء چې له شپږو کلونو څخه لږ اوله لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۴- په هغه صورت کې چې ددې فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې درج شوي عملونه د ښړې د سفر خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي یا سمندري تأسیسات ویجاړ یا ورته زیان ورسوي یا یې خدمتونه اخلال کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزا او د سخت ټپ یا قتل په صورت کې په اعدام محکومېږي.

۵- په هغه صورت کې چې پوهېږي هغه معلومات چې حقیقت نلري، وړاندې کړي داسې چې د ښړې یا ثابتو تأسیساتو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم د متوسط حبس په جزا محکومېږي.

(۲) په هغه صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکو یا هر بل

را بگذارد و یا وسیلۀ گذاشتن آن شود که سبب انهدام یا صدمه به کشتی یا تأسیسات ثابت شده بتواند، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۴- در صورتی که اعمال مندرج اجزای (۱و ۲) این فقره مصؤنیت سفر کشتی را به خطر مواجه سازد یا تأسیسات ترانسپورت بحری را منهدم یا به آن صدمه برساند و یا خدمات آنرا اخلال نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل و درصورت جراحت شدید یا قتل به اعدام محکوم می گردد.

۵- در صورتی که معلوماتی را که می‌داند عاری از حقیقت است ارائه نماید طوریکه مصؤنیت کشتی و یا تأسیسات ثابت را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که شخص تهدید ارتکاب اعمال مندرج اجزای

حقیقي یا حکمي شخص د یوه عمل اجراء یا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور، ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲، ۳ و ۴) اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب ګوابښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزاء چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي ګوابښ له املې، شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزاء چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

د اشخاصو پر علیه جرمونه

دوولسمه ماده:

(۱) که چېرې شخص، د افغانستان دولت یا بهرني دولت یا بین المللي سازمان یا بهرنۍ نا دولتي مؤسسې د مجبورولو په منظور، بل شخص د یوې عمل د اجراء یا له اجرا څخه د ډډې کولو په خاطر (۱، ۲، ۳و۴) فقرۀ (۱) این ماده را به منظور مجبور ساختن کارکن دولتی یا هر شخصی حقیقی یا حکمی دیگری به اجرای یا امتناع از اجرای یك عمل نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

(۳) هر گاه بالاثر تهدید مندرج فقرۀ (۲) این ماده، شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که ازشش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

جرایم علیه اشخاص

مادۀ دوازدهم:

(۱) هرگاه شخص، به منظور مجبور ساختن دولت افغانستان یادولت خارجی یا سازمان بین المللی یا موسسۀ غیر دولتی خارجی، شخص دیگری را به مقصد اجرای یا امتناع از اجراء

ونیسي یا یې توقیف کړي، د مرګ یا جسمي تعذیب ګواښ ورته وکړي یا یې په اسارت کې و ساتي او آزادول یې واضحاً یا تلویحاً د هغهٔ عمل په اجراء یا له اجراء څخه په ډډې کولو مشروط کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدهٔ حبس د اکثر حد په جزاء، محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، تپي یا معلول شي یا و وژل شي، مرتکب له احوالو سره سم، د دوام حبس د اکثر حد په جزا یا اعدام، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د ارتکاب له امله، شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدهٔ حبس په جزاء چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

یک عمل گرفتار یا توقیف نموده و تهدید به مرگ یا تعذیب جسمی نماید یا در اسارت نگهدارد و آزاد ساختن وی را واضحاً یا تلویحاً مشروط به اجراء یا امتناع از اجرای آن عمل نماید، مرتکب حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص توقیف شدهٔ مندرج فقرهٔ(۱) این ماده ، مجروح یا معلول گردیده و یا به قتل رسانیده شود، مرتکب حسب احوال به حد اکثر جزای حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه بالاثر ارتکاب عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که ازشش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

د بین المللي خوندیتوب لرونکو اشخاصو پرعلیه جرمونه

دیارلسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه یو، د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص پر علیه مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص، د هر ډول جسمي یا رواني حملې لاندې و نیسي، اختطاف یې کړي یا یې و وژني، له احوالو سره سم د اوږدهٔ حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي یا دوام حبس یا اعدام په جزا، محکومېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص په رسمي استوګنځي، شخصي استوګنځي یا نقلیه وسیلې باندې حمله وکړي یا د هغهٔ خپل خوندیتوب یا آزادۍ ته ګواښ پېښ کړي، له احوالو سره سم، د اوږدهٔ حبس په جزا چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د بین

جرایم علیه اشخاص دارای مصؤنیت بین المللی

مادهٔ سیزدهم:

(۱) شخصی که یکی از اعمال آتی را علیه شخص دارای مصؤنیت بین المللی مرتکب شود، حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که شخص دارای مصؤنیت بین المللی را مورد هر نوع حملهٔ جسمی یا روانی قرار دهد، اختطاف نماید یا به قتل رساند، حسب احوال به جزای حبس طویلی که کمتر از ده سال نباشد یا حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

۲- در صورتی که بالای اقامتگاهٔ رسمی، منزل شخصی یا وسیلهٔ نقلیهٔ شخص دارای مصؤنیت بین المللی حمله نموده یا خطری را به مصؤنیت شخص خودش یا آزادی وی متوجه سازد، حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و ازده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۳- در صورتی که تهدید به

المللـي خونـديتوب لرونکـي شخص، د يوه عمل اجراء يا له اجـراء څخه ډډې کولـو تـه د مجبورولو په منظور ددې فقرې په (۱او ۲) اجـزاوو کـې د درج شـوو اعمـالو د ارتکـاب ګـوابښ وکـړي، مرتکـب، لـه احوالـو سـره سـم د متوسط حبس په جزا چې له دريو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې د (۱) فقـرې پـه (۳) جز کـې د درج شـوي ګـوابښ لـه املـه، د بـين المللـي خونـديتوب لرونکـی شـخص، تـر جسمي يـا روانـي فـشار لانـدې و نيـول شـي، مرتکب له احوالـو سره سـم، د متوسـط حـبس يـا د اوږدۀ حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

ارتکـاب اعـمال منـدرج اجـزای (۱و۲) ايـن فقـره را بـه منظـور مجبـور سـاختن شـخص دارای مصؤنيت بين المللی به اجراء يا امتنـاع از اجـرای يـك عمـل نمايـد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس متوسـط کـه ازسـه سـال کمتـر نباشـد، محکوم می گردد.

(۲) هرگـاه بـالاثر تهديـد منـدرج جـزء (۳) فقـرۀ (۱) ايـن مـاده، شـخص دارای مـصؤنيت بيـن‌المللی تحت فشار جسمی يـا روانـی قـرار گيـرد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس متوسط يا حبس طويلي که از ده سـال بيـشتر نبـاشد، محکـوم می گردد.

لـه چاودېـدونکو مـوادو او نـورو وژونکـو وسـايلو څخـه د ګټـې اخستنې جرمونه

څوارلسمه ماده:

(۱) هغـۀ شـخص چـې لـه لانـدې مـوادو او وسـايلو څخـه يـو د عامـه ګټې اخـستنې وړ ځـای يـا دولتـي ودانيـو او تأسيـساتو يـا د عامـه

جـرايم اسـتفاده از مـواد منفجـره و سـاير وسـايل کشنده

مادۀ چهاردهم:

(۱) شخـصی کـه يکـی از مـواد و وسـايل آتـی را بـه محـل مـورد اسـتفادۀ عامـه يـا بناهـا و تأسيـسات دولتـی يـا سيـستم

ترانسپورټ سیستم یا نورو بنسټیزو تأسیساتو ته یا د هغو په استقامت ولېږدوي، کنټرېدي، فیر یې کړي یا هغۀ ته انفجار ورکړي، له احوالو سره سم، د اوږدۀ حبس د اکثر حد او یا دوام حبس یا د اعدام په جزا ؛ محکومېږي:

۱- چاودېدونکي مواد، اوربلوونکي وسله یا هغه وسله چې د شخص د وژنې، سخت ټپي کولو یا دستر مالي زیان اړولوتوان ولري.

۲- هغه وسله یا وسیله چې د کیمیاوي، بیولوژیکي او یا راډیو اکتیف زهرجنو موادو د لګېدو (اصابت) یاخپرېدو له لارې، د شخص د وژنې او سخت ټپي کېدو یا سترمالي زیان رسولو توان ولري.

(۲) هغه شخص چې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د یوۀ د ارتکاب په منظور، بل شخص ته لارښوونه وکړي یا په یو ډول نه یو ډول، په نومورې فقره کې درج، د یوۀ یا زیاتو جرمونو په ارتکاب کې د یوې ډلې اشخاصو له لارې چې د ګډې موخې لپاره ترانسپورت عامه و یا سایر تأسیسات زیر بنائی یا به استقامت آنها انتقال دهد، بگذارد، فیر نماید یا آنرا انفجار دهد، حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل و یا حبس دوام یا اعدام محکوم می گردد:

۱- موادمنفجره، سلاح آتش افزا یا وسیلۀ که توان کشتن یا شدیداً مجروح نمودن شخص و یا رسانیدن صدمۀ بزرگ مالی را داشته باشد.

۲- سلاح یا وسیله ای که از طریق اصابت یا انتشار مواد زهر ناك کیمیاوی، بیولوژیکی و یا رادیو اکتیف، توان قتل و یا شدیداً مجروح نمودن شخص یا رسانیدن صدمۀ بزرگ مالی را داشته باشد.

(۲) شخصی که به منظور ارتکاب یکی از جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده شخص دیگر را رهنمائی نماید یا به نحوی از انحا در ارتکاب یکی یا بیشتر از جرایم مندرج فقرۀ مذکور از طریق گروهی از اشخاص سهم داشته باشد که برای هدف

کار کوي، برخه و لري، پدې شرط چې برخه اخستنه عمدي او د عمومي جرمي فعالیت د پرمخبیولو یا د ډلې د موخې د پرمخبیولو په هدف یا د نومورې جرم یا جرمونو د ارتکاب لپاره د ډلې له نیت (قصد) څخه په خبرتیا سره یې صورت مونډلی وي، مرتکب له احوالو سره سم د اصل جرم لپاره په اټکل شوې عین جزا محکومېږي.

مشترك کار می کنند، مشروط بر اینکه سهم گیری عمدی و به هدف پیشبرد فعالیت عمومی جرمی یا پیشبرد هدف گروه یا با اطلاع قبلی از قصد گروه برای ارتکاب جرم یا جرایم مذکور صورت گرفته باشد، مرتکب حسب احوال به عین جزای پیشبینی شده برای اصل جرم محکوم می‌گردد.

د هسته یي موادو جرمونه

پنځلسمه ماده:

هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوۀ مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې اټومي مواد لاسته راوړي، په خپل واك کې یې واخلي یا یې استعمال، انتقال، تبادله، ویجاړ یا خپارۀ کړي چې له املې یې د سخت ټپ یا وژنې یا شتمنۍ ته د زیان رسولو سبب شي او یا د وژنې یا سخت ټپي کېدو د احتمال باعث شي او یا شتمنیو ته د زیان رسولو توان ولري، مرتکب له احوالو سره سم، د دوام حبس د

جرایم مواد هسته ئی

مادۀ پانزدهم:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال آتی گردد، حسب ذیل مجازات می گردد:

۱-درصورتی که مواد اتومی را بدست آورد، در اختیار خویش قرار دهد یا استعمال، انتقال، تبادله، منهدم یا انتشار نماید که بالاثرآن سبب جراحت شدید یا قتل یا صدمه رسانیدن به دارائی گردد و یا احتمال مجروحیت شدید یا قتل را باعث شود ویا توانائی صدمه رسانیدن به دارائی ها را داشته باشد، مرتکب حسب

اکثر حد او یا د اعدام په جزا محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې اتومي مواد غلا، تالا (غارت) یا اختلاس کړي یا یې له نا قانونه لارې ترلاسه کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې یا دوام حبس په اکثر حد جزا محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په ګوابښ یا له قوې (تشدد) یا د وېرې اچونې له نورو لارو څخه په ګټې اخستنې سره، د اتومي موادو د لاسته راوړلو غوښتنه وکړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس داکثرحد په جزاء محکومېږي.

۴- په هغه صورت کې چې د شخص د وژلو یا ټپي کولو یا د ستر مالي زیان د اړولو په نیت، د اتومي موادو د استعمال ګوابښ، صورت و مومي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزا چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۵- د افغانستان دولت یا بل دولت یا بین الحکومتي سازمان یا غیر

احوال به حداکثر جزای حبس دوام و یا اعدام محکوم می گردد.

۲-درصورتی که مواد اتومی را سرقت، غارت یا اختلاس یا از سایر طرق غیر قانونی به دست آورد، مرتکب حسب احوال به حد اکثر جزای حبس طویل و یاحبس دوام محکوم می گردد.

۳-در صورتی که با تهدید یا استفاده ازقوه (تشدد) و سایر طرق ارعاب آمیز تقاضای بدست آوردن مواد اتومی را نماید، مرتکب حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل محکوم می گردد.

۴-درصورت تهدید به استعمال مواد اتومی به مقصد قتل یا جراحت شخص یا وارد نمودن صدمه بزرگ مالی صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

۵- در صورت تهدید به ارتکاب یکی از جرایم مندرج جزء (۲) این

حکومتي بين المللي سازمان يا بل حقيقي يا حکمي شخص د يوه عمل اجراء يا له اجراء څخه ډډي کولو ته د مجبورولو په منظور، ددې مادې په (۲) جزء کې له درج شوو جرمونو څخه د يوه د ارتکاب د ګواښ په صورت کې، مرتکب له احوالو سره سم د دوام حبس په جزا محکومېږي.

ماده به منظور مجبور ساختن دولت افغانستان یا دولت دیگر یا سازمان بین المللی بین الحکومتی یا سازمان بین المللی غیر حکومتی یا شخص حقیقی یا حکمی دیگری به اجراء یا امتناع از اجرای یك عمل صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس دوام محکوم می گردد.

د بنسټيزوتأسيساتو ويجاړول

شپاړسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان په قلمرو کې ددې قانون د درېيمې مادې په (۶) جزء کې د درج شوو بنسټيزو تأسيساتو ته د زيان رسولو يا ويجاړولو باعث شي او يا پدې نيت چې يو تروريستي عمل سرته ورسوي، د هغو فعاليت اخلال کړي، د اوږدې حبس د اکثر حد په جزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په مرګ تمام شي، مرتکب د اعدام په جزاء محکومېږي.

تخریب تأسیسات زیر بنائی

مادۀ شانزدهم:

(۱) شخصی که باعث وارد نمودن صدمه یا تخریب تأسیسات زیربنائی مندرج جزء(۶) مادۀ سوم این قانون در قلمرو افغانستان گردد ویا فعالیت آنرا مختل سازد به قصداینکه یك عمل تروریستی را انجام دهد به حد اکثر جزای حبس طویل محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به مرگ شود، مرتکب به جزای اعدام محکوم می گردد.

د جرم ارتکاب ته هڅه او په هغه کې ګډون

اووه لسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو ارتکاب ته هڅه وکړي یا د هغو په ترسره کولو کې له نورو سره شریك شي،له احوالو سره سم، د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې عین جزاء محکومېږي.

(۲) ددې قانون حکمونه، ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې له درج شوو جرمونو څخه د هر یوه د ارتکاب ګواښ ته د هڅې په هکله، د تطبیق وړ ندي.

سعی به ارتکاب جرم و شراکت آن

مادۀ هفدهم:

(۱) شخصی که به ارتکاب جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون سعی نماید و یا در بسر رسانیدن آن با دیگران شریك گردد، حسب احوال به عین جزای پیش بینی شده برای فاعل جرم محکوم می گردد.

(۲) احکام این قانون درمورد سعی به تهدید ارتکاب هر یك از جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون قابل تطبیق نمی باشد.

اتفاق

اتلسمه ماده:

هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې د ګډون په مقصد له بل شخص سره اتفاق وکړي یا اشخاص د هغۀ ارتکاب ته تحریك یا وهڅوي او یا د یادو شوو جرمونو د ارتکاب لپاره پلانونه

اتفاق

مادۀ هجدهم:

شخصی که به منظور اشتراك در ارتکاب جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون با شخص دیگری اتفاق نموده یا اشخاص را به ارتکاب آن ، تحریك یا تشویق نماید و یا برای ارتکاب جرایم متذکره پلان گذاری و یا

(پلان جوړونه) وکړي او یا هغه تنظیم کړي، له احوالو سره سم د اوږدې حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي یا د دوام حبس په جزا محکومېږي.

آنرا تنظیم نماید، حسب احوال به جزای حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد یا حبس دوام محکوم می گردد.

د جرم ملاتړ یا هغه ته خدمت نولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د تروریستي سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر اتلسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو په ارتکاب یا سرته رسولو کې بل شخص استخدام کړي، استخدامونکی د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې جزاء محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو په سرته رسولو کې په یو ډول نه یو ډول، د خدمت یا د وسلې د برابرولو چې د نومورو جرمونو په ارتکاب کې استعمالېږي، مرسته کړې وي، د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې عین جزاء محکومېږي.

حمایت جرم یاخدمت به آن مادۀ نزدهم:

(۱) شخصی که عضویت سازمان تروریستی را کسب نماید به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که غرض اشتراك در ارتکاب یابه سر رسانیدن جرایم مندرج مواد نهم الی هجدهم این قانون شخص دیگری را استخدام نماید، استخدام کننده به جزای پیشبینی شده برای فاعل جرم، محکوم می گردد.

(۳) شخصی که به نحوی ازانحا در به سر رسانیدن جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده با انگیزۀ حمایت به شمول خدمت و تهیۀ سلاح که درارتکاب جرایم متذکره استعمال می گردد ،کمك نموده باشد ،به عین جزای پیشبینی شده برای فاعل جرم، محکوم می گردد.

د خنډونو او ګډوډۍ جوړول
شلمه ماده:
هغه شخص چې د تروریستي جرمونو د کشف او تحقیق په بهیر یا یې د مرتکبینو په محاکمه کې خنډونه رامنځته یا هغه اخلال کړي یا د دروغ شهادت، رشوت ورکولو، ګواښ، د نفوذ د اعمال له لارې یا په یو ډول نه یو ډول د الزام دلایل یا د جرم اثباتیه مدارك له منځه یوسي، د اوږدۀ حبس په جزاء، محکومېږي.

ایجاد موانع واخلال
مادۀ بیستم:
شخصی که در جریان کشف و تحقیق جرایم تروریستی و یا محاکمۀ مرتکبین آن موانع ایجاد یا آنرا اخلال نماید یا از طریق شهادت دروغ ، دادن رشوه، تهدید ، اعمال نفوذ یا به نحوی از انحا دلایل الزام و مدارك اثباتیۀ جرم را از بین ببرد به جزای حبس طویل، محکوم می گردد .

درېیم فصل
متفرقه حکمونه

فصل سوم
احکام متفرقه

د جزایي اجراآتو د قانون د حکمونو رعایتول
یوویشتمه ماده:
د تروریستي جرمونو د مظنونینو او تورنو کشف، تحقیق او محاکمه، د جزائي اجراآتو د قانون او ددې قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

رعایت احکام قانون اجراآت جزائی
مادۀ بیست و یکم :
کشف، تحقیق و محاکمۀ مظنونین و متهمین جرایم تروریستی مطابق احکام قانون اجراآت جزائی و این قانون صورت می گیرد .

لنډمهاله تدبیرونه

دوه ویشتمه ماده:

(۱) لوی څارنوال د الزام د دلایلو او اثباتیه مدارکو پر بنسټ چې د دافغانستان بانک د مالي استخباراتو د اداري، د ملي امنیت د عمومي ریاست او پولیسو لخوا را غونډ شوي، د ملي امنیت له شوري سره له سلا وروسته، کولي شي د هغۀ شخص، مؤسسې یا سازمان په هکله چې له تروریستي سازمان څخه مادي ملاتړ کوي او یا د ملګرو ملتونو د معیارونو مطابق، د تروریستي اعمالو مادي ملاتړ کوونکي تشخیص شوي دي، مؤقتي تدبیرونه عملي کړي.

(۲) په هغۀ صورت کې چې د تروریستي قضیې په اړه د الزام دلایل راغونډ شي، څارنوالي را غونډ شوي سندونه او دلایل د قانون د حکمونو مطابق، په محرمانه توګه، واکمني محکمې ته وړاندې او د لازمو تدبیرونو د نیولو غوښتنه کوي.

تدابیر مؤقتی

مادۀ بیست و دوم:

(۱) لوی څارنوال بر اساس دلایل الزام ومدارك اثباتیه که توسط ادارۀ استخبارات مالی دافغانستان بانك ، ریاست عمومی امنیت ملی و پولیس جمع آوری شده بعد از مشوره با شورای امنیت ملی می تواند درمورد شخص ، موسسۀ یا سازمانی که از اعمال تروریستی حمایت مادی مینماید ویا مطابق معیار های ملل متحد حمایت کنندۀ مادی اعمال تروریستی تشخیص گردیده است، تدابیر مؤقتی را عملی نماید.

(۲) درصورتی که دلایل الزام در رابطه به قضیۀ تروریستی جمع آوری گردد ، څارنوالی اسناد و دلایل جمع آوری شده را طور محرمانه طبق احکام قانون به محکمۀ ذیصلاح ارائه واتخاذ تدابیر لازم را درخواست می‌نماید.

د شتمنۍ معلومات
درویشتمه ماده:
(۱) څارنوال کولی شي، د تحقیق په بهیر کې له بانك یا نورو مالي مؤسسو څخه د تروریستي جرم د مظنون د شتمنۍ په باره کې معلومات وغواړي، پدې شرط چې دمخه یې د واکمنې محکمې اجازه اخستی وي.
(۲) بانکونه او مالي مؤسسې مکلف دي، د بانکي اسرارو او بانکي محرمیت چې د قوانینو پر بنسټ یا په یو ډول نه یو ډول هغوی ته سپارل شوي وي د ساتنې له په پام کې نیولو پرته، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي معلومات، په مستدله او واقعي توګه وړاندې کړي.

د لیکونو (مراسلو) پلټنه
څلویشتمه ماده:
د ملي امنیت د عمومي ریاست مؤظفین، پولیس او څارنوال کولی شي د الزام د دلایلو او اثباتیه مدارکو د کشف او را غونډولو لپاره، مراسلې، ټیلفوني مکالمې او نور هغه شیان چې د پُست له

معلومات دارائی
مادۀ بیست و سوم:
(۱) څارنوال می تواند درجریان تحقیق ،دربارۀ دارائی مظنون جرم تروریستی از بانك ها یا سایر مؤسسات مالی معلومات مطالبه نماید ، مشروط بر اینکه اجازۀ قبلی محکمۀ ذیصلاح را حاصل نموده باشد.
(۲) بانك ها و مؤسسات مالی مکلف اند ، بدون نظر داشت مکلفیت مبنی برحفظ اسرار و محرمیت بانکی که بر اساس قوانین و یا به نحوی از انحا به آن ها تفویض گردیده باشد ، معلومات مندرج فقرۀ(۱) این ماده را طور مستدل و واقعی ارائه نمایند.

تفتیش مراسلات
مادۀ بیست و چهارم:
مؤظفین ریاست عمومی امنیت ملی،پولیس و څارنوال می توانند ، جهت کشف وجمع آوری دلائل الزام ومدارك اثباتیه مراسلات،مکالمات تیلفونی و سایر اشیائی را که از طریق پست

لارې يـــا پـــه بـــل ډول ســـره، د تروريستي عمل په ارتکاب تورن شخص ته استول شوي، د واکمنې محکمې په دمخنۍ اجازې سره وپلټي. د مشهود جرم حالات لدې حکم څخه مستثني دي.

و یا طور دیگری به شخص مظنون بـه ارتکـاب عمـل تروریـستی فرسـتاده شـده بـه اجـازۀ قبلـی محکمـــۀ ذیـــصلاح تفتـــیش نمایـد .حـالات جرم مـشهود ازایـن حکم مستثنی است.

څلورم فصل
وروستني حکمونه

فصل چهارم
احکام نهائی

بين المللي همکاري
پنځه ويشتمه ماده:
د افغانستان واکمن مقامات کولې شي د تروريستي جرمونو پر عليه د مبارزې په کار کې، د مظنونينو، تورنـو، او محکومينـو د قـانون د حکمونو مطابق، له نورو هېوادونو سره همکاري وکړي.

همکاری بین المللی
مادۀ بیست و پنجم:
مقامـات ذیـصلاح افغانـستان مـی توانند طبق احکام قانون استرداد مظنـونین ،متهمـین ومحکـومین در امـــر مبـــارزه علیـــه جـــرایم تروریـــستی بـا ســایر کـشور هـا همکاری نمایند.

د انفاذ نېټه
شپږويشمه ماده:
دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافـذ او پـه رسـمي جريـده کـې دې خپور شي.ددې قـانون په نافذېدو سره د هغۀ نور مغاير حکمونه لغو ګڼل کېږي.

تاریخ انفاذ
مادۀ بیست و ششم:
ایـــن قـانـــون از تـــاریخ تـــوشیح نـافذ و درجریدۀ رسمی نشرگردد. باانفـاذ ایـن قـانون سـایر احکـام مغـــــایرآن ملغـــــی شـــــمرده می شود.

قانون مبارزه علیه
تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم

دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

ګڼه : (۱۳۷۰۰)
نېټه : ۱۳۸۳/۷/۲۶

د عدلیې وزیر محترم قانونپوه عبدالرحیم "کریمی"!
د پیسو د تطهیر او له جرمونوڅخه د راپیدا شوو عواید و پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۱۲) فصلونو او (۷۵) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب او د ۱۳۸۳/۷/۲۶ نېټې د (۸۱) ګڼې فرمان پر بنسټ زموږ لخوا منظور شوی دی، تاسوته د رواستول شو چې په رسمي جریده کې یې په خپرولو اقدام وکړئ.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره: (۱۳۷۰۰)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

محترم قانونپوه عبدالرحیم "کریمی" وزیر عدلیه!
قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم را که بداخل (۱۲) فصل و (۷۵) ماده از طرف مجلس عالی وزراء تصویب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۸۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۶ منظور گردیده است، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدۀ رسمی اقدام نمائید.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې د قانون د انفاذ په هکله د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان

ګڼه: (۸۱)
نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶

لومړۍ ماده:
د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۱۲) فصلونو او (۷۵) مادو کې د ۱۳۸۳/۷/۲۰ نېټې د (۳۱) ګڼې مصوبې پر بنسټ د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

فرمان
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در بارهٔ انفاذ قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم

شماره: (۸۱)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

مادهٔ اول:
قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۰ از طرف مجلس عالی وزراء بداخل (۱۲) فصل و (۷۵) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

مادهٔ دوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

هدف
لومړی ماده:
دغه قانون د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تمویل په غرض د مالي مؤسسو یا هر اقتصادي فعالیت د استعمال د مخنیوي او بندولو په منظور وضع شوی دي.

اصطلاحګانې
دوه یمه ماده:
لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندینۍ معنا وي افاده کوي:
۱- مصادره: د وجوهو او شتمنیو دایمي سلبول دي چې د واکمنې محکمې د وروستنې حکم په اساس یې صورت مونډلی او د هغه په موجب د وجوهو او شتمنیو مالکیت د هغو د ملکیت له مثبته سندونو سره، دولت ته انتقالېږي.
۲- جنایت کار سازمان: له دوو یا

قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم
فصل اول
احکام عمومی

هدف
مادۀ اول:
این قانون به منظور جلوگیری و ممانعت از استعمال مؤسسات مالی یا هر فعالیت اقتصادی غرض تطهیر پول و تمویل تروریزم وضع گردیده است.

اصطلاحات
مادۀ دوم:
اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می‌نماید:
۱- مصادره: سلب مالکیت دایمی وجوه و دارائی های است که به اساس حکم نهائی محکمۀ ذیصلاح صورت گرفته و به موجب آن مالکیت وجوه و دارایی ها با اسناد مثبتۀ ملکیت آن به دولت انتقال می‌نماید.
۲- سازمان جنایت کار: گروه

لـه دوو څخـه د زیـاتو غـړو جـوړه شـوې ډلـه ده چې د مـستقیمو یـا غیر مستقیمو وجوهو او شتمنیو یا هـر ډول مـالي او مـادي ګټـو د تـر لاسـه کولـو لپـاره د یـوه یـا لـه یـوه څخـه د زیـاتو جرمونـو د ارتکـاب د هدف په لرلـو سره یـو ځای (متفقاً) اقدام وکړي.

۳- مـشتري: لـه یـوې معـاملې یـا حساب سره په رابطه کې پر لاتـدنیو اشخاصو اطلاقېږي:

- هغه شخص چې په نامـه یې یـوه معامله یا حساب ترتیـب، پرانـستل او یا عقد شي.

- د یوه حساب یـا معـاملې لاسلیک کوونکی.

- هغـه شـخص چـې معاملـه ورتـه پرېښودل یا انتقال شي.

- هغـه شـخص چـې د معـاملې د اجراء د قانوني واک لرونکی وي.

- نور هغه اشخاص چې په معامله کې ذیدخل وپېژندل شي.

۴- مالي مؤسسې: هغه حقیقي یـا حـکمي اشخاص چـې مـشتري تـه یـا د هـغـه پـه اسـتـازیتوب لاتـدې یـو یـا لـه یـــوه څخـه زیـــات د تجـارت په نـوم فعالیت یـا عملیـه متـشکل از دو و یـا بیـشتر از دو عـضو میباشـد کـه بـا داشـتن هـدف ارتکـاب یـك یـا بیـشتر از یـك جـرم جهـت حـصول مـستقیم یـا غیـر مـستقیم وجـوه و دارایـی هـــا یـــا هرگونـــه منـــافع مـــالی و مـــادی، متفقـــاً اقـــدام نمایند.

۳- مـشتری: در رابطـه بـا یـك معامله یا حساب بر اشخاص آتی اطلاق می‌شود:

- شخصی‌که بنام وی یك معامله یا حساب ترتیب، افتتاح و یا عقد گردد.

- امـضاء کننـدۀ یـك معاملـه یـا حساب.

- شخصی‌که به وی معامله واگذار و یا منتقل می‌گردد.

- شخـصی کـه صـلاحیت قـانونی اجرای معامله را دارا باشد.

- سـائر اشـخاص کـه در معاملـه ذیدخل شناخته شوند.

۴- مؤسـسات مـالی: اشـخاص حقیقـی یـا حکمـی کـه یـك و یابیشتر از یك فعالیت و یا عملیۀ ذیـل را بـرای مـشتری و یـا بـه نمایندگی از وی به عنوان تجارت

سرته ورسوي:
الف: د خصوصي پانکوالۍ په ګډون له ټولو خلکو څخه د سپارنو او د بېرته ورکړې وړ نورو وجوهو منل.
ب: د مصرفي اعتبار، رهني اعتبار، له تنزيل سره د دين د ترلاسه کولو د حق د پېرودلو په ګډون يا له پېرودونکي څخه د تر لاسه کولو له حق سره يا د تر لاسه کولو له حق پرته د پورونو ورکول او د مالونو د تصرف د حق په شمول د تجارتي معاملو تمويلول.
ج: د مالونو او مصرفي توليداتو د اجارې په استثناء مالي اجاره.
د: د پيسو انتقال او يا يې معادل، د هغو فعاليتونو په ګډون چې په دواړو رسمي او غير رسمي سيستم کې صورت وموميِ.
هـ: د ورکړې (تأديې) د وسايلو، د کړېدت اودېبت دکارتونو، چکونو، مسافرتي چکونو، د حجت او برات، په الکترونيکي ډول د پيسو د انتقالاتو صادرول او اداره کول.
و: مالي تضمينونه او ژمنې.
ز: په لاندې ساحو کې سوداګري:
– د پيسو د بازار سندونه (چک، برات،

انجام دهند:
الف: پذیرش سپرده ها و سایر وجوه قابل بازپرداخت از عموم مردم به شمول بانکداری خصوصی.
ب: اعطای قروض به شمول اعتبار مصرفی، اعتبار رهنی، خرید حق حصول دین با تنزیل، با حق حصول یا بدون حق حصول از فروشنده و تمویل معاملات تجارتی به شمول حق تصرف اموال.
ج: اجارۀ مالی به استثناء اجارۀ اموال و تولیدات مصرفی.
د: انتقال پول و یا معادل آن به شمول فعالیت هائیکه در هر دو سیستم رسمی و غیر رسمی صورت گیرد.
هـ: صدور و ادارۀ وسایل تأدیه، کارتهای کریدت و دیبت، چکها، چك های مسافرتی، حجت و برات، انتقالات پول به شکل الکترونیکی.
و: تضمینات و تعهدات مالی.
ز: تجارت در ساحات آتی:
– اسناد بازار پول (چك، برات،

برات، حجت، مشتقات او امثالیې).
- بهرني اسعار.
- هغه سندونه چې ارزښت یې د ټکټانې د نرخ، د بهرنیو اسعارو د مبادلې د نرخ یا د قیمو د شاخص یا ټکټانې د نرخ د ارزښت، د بهرنیو اسعارو د مبادلې د نرخ یا د بهادارو سندونو او یا کالیو له نرخ سره په رابطه کې وټاکل شي.
- د انتقال وړ بهادار سندونه.
- د کالیو مستقبلي قرارداد.
ح: د بهادارو سندونو صادرول او په هغو پوري د اړوندو مالي خدمتونو برابرول.
ط: په مختلفو پانګې اچونو کې فرد او یا اشخاصوته د بهادارو سندونو اداره او انتخابول.
ي: د نورو اشخاصو په استازیتوب د نقدو پیسو او سیالو بهادارو سندونو ساتل او اداره کول.
ک: د نورو اشخاصو په استازیتوب پانګه اچونه، د وجوهو یا پیسو اداره یا مدیریت په بل ډول.
ل: د بیموي فعالیتونو او په هغو کې د وساطت (استازي او دلال) په

حجت، مشتقات و امثال آنها).
- اسعار خارجی.
- اسنادی که ارزش آن در رابطه به نرخ تکتانه، نرخ مبادلۀ اسعار خارجی یا شاخص قیم یا ارزش نرخ تکتانه، نرخ مبادلۀ اسعار خارجی، اسناد بهادار و یا کالاها تعیین می‌گردد.
- اسناد بهادار قابل انتقال.
- قرار داد مستقبلی کالا.
ح: صدور اسناد بهادار و تهیۀ خدمات مالی مربوط به آن.
ط: اداره و انتخاب اسناد بهادار برای فرد و یا اشخاص در سرمایه گذاری های مختلف.
ی: حفاظت و ادارۀ پول نقد و اسناد بهادار سیال به نمایندگی از سایر اشخاص.
ك: سرمایه گذاری، اداره یا مدیریت وجوه و یا پول به نحو دیگر، به نمایندگی از سایر اشخاص.
ل: عقد بیمۀ حیات و سایر بیمه‌های مربوط به سرمایه

ګډون د ژوند د بیمې او په پانګې اچونې پورې د نورو اړوندو بیمو عقد کول.

م: د پیسو او اسعارو تبادله.

۵- کنګلول: عبارت دي له:

- د یوې معاملې د اجراء مؤقتي ځنډول.

- د واکمنې مرجع د حکم یا دستور په اساس د وجوهو او شتمنیو د تغییر، تبدیل، پلورنې، له لاسه ورکولو او انتقال مؤقتي منع یا مخنیوي کول.

۶- د تروریزم تمویل: د قانون د حکم مطابق د تروریزم د تمویل د جرم ارتکاب.

۷- وجوه او شتمنی: له هر ډول شرکتي یا غیر شرکتي، منقولو یا غیر منقولو، عیني یا غیر عیني شتمنیو، د الکترونیکي او ډیجیتل سندونو په ګډون له سندونو یا قانوني مدارکو څخه عبارت دي چې په شتمنیو کې د مالکیت یا ګټو لرل ثابت کړي.

۸- وسیله: له هر ډول وجوهو او شتمنیو څخه عبارت ده چې په یوه دول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په منظور استعمال او یا یې د

گذاری، بشمول فعالیت‌های بیموی و وساطت در آن (نماینده و دلال).

م: تبادلهٔ پول و اسعار.

۵- منجمد کردن: عبارت است از:

- به تعویق انداختن مؤقتی اجرای یك معامله.

- منع یا جلوگیری مؤقتی از تغییر، تبدیل، فروش، از دست دادن و انتقال وجوه و دارائی ها به اساس حکم یا دستور مرجع ذیصلاح.

۶- تمویل تروریزم: ارتکاب جرم تمویل تروریزم مطابق قانون.

۷- وجوه و دارایی ها: عبارت است از هر گونه دارایی شرکتی و غیر شرکتی، منقول و غیر منقول، عینی و غیر عینی و اسناد یا مدارك قانونی بشمول اسناد الکترونیکی و دیجیتل که مالکیت یا داشتن منافع در دارائی ها را ثابت نماید.

۸- وسیله: عبارت است از هرگونه وجوه و دارایی هائیکه بنحوی از انحاء به منظور ارتکاب جرم استعمال و یا قصد استعمال آن

استعمال قصد موجود وي.

۹- د پیسو تطهیر: د دې قانون په دریمه ماده کې له درج شوي جرم څخه عبارت دی.

۱۰- د پیسو د انتقال خدمتونه: له لاندې تجارتي فعالیتونو څخه عبارت دي:

- د نقدو پیسو یا یې دمعادل تبادله.

- د پیسو یا یې د معادل ټولول، تصرف، د تبادلې استول یا له نورو اشخاصو څخه په استازیتوب د پیسو یا یې د معادل د انتقال ترتیبول.

- د وجوهو تحویلول او رسول.

- د مسافرتي چکونو، حجت او ورته سندونو صادرول، پلورل او یا بیا پېرودنه.

۱۱- سیاسي متبارز شخص: له هغه شخص څخه عبارت دی چې په افغانستان او یا په نورو هېوادونو کې مهمه دولتي دنده ورته سپارل شوې وي، (د دولتونو یا حکومتونو رئیسان، ستر سیاستمداران لوړ پوړي حکومتي، قضایې او نظامي کارکوونکي، د دولتي مؤسسو لوړ پوړي مجریان

موجود باشد.

۹- تطهیر پول: عبارت از جرم مندرج مادۀ سوم این قانون می‌باشد.

۱۰- خدمات انتقال پول: شامل فعالیت های تجارتی ذیل می‌باشد:

- تبادلۀ پول نقد و یا معادل آن.

- جمع آوری، تصرف، تبادلۀ ارسال پول یا معادل آن و یا ترتیب انتقال پول و یا معادل آن به نمایندگی از اشخاص دیگر.

- تحویل و رسانیدن وجوه.

- صدور فروش و یا باز خرید چك‌های مسافرتی، حجت و اسناد مشابه.

۱۱- شخص متبارز سیاسی: عبارت از شخصی است که وظیفۀ مهم دولتی در افغانستان و یا در سایر کشور ها به وی سپرده شده باشد (رؤسای دول یا حکومات، سیاست مداران ارشد، کارکنان عالی رتبۀ حکومتی، قضائی و نظامی، مجریان عالی رتبۀ مؤسسات دولتی، شخصیت

او د سیاسي ګوندونو وتلي شخصیتونه، د نومورو اشخاصو د کورنیو ټول غړي او له هغوی سره د نږدې اړیکیو لرونکي اشخاص چې له دغو اشخاصو سره تجاري او مالي روابط لري).

۱۲- اصلي جرمونه: د دې مادې په (۱۳) جزء کې له درج شوو وجوهو او شتمنیو څخه د لاسته راغلو عایدو له اکستاب څخه عبارت دي.

۱۳- له جرمونو څخه راپیدا شوي عاید: له هغو وجوهو او شتمنیو څخه عبارت دي چې په مستقیم یا غیر مستقیم دول د جرم د ارتکاب له امله لاسته راغلي وي.

۱۴- رپوټ ورکونکې مرجع: د دې قانون په څلورمه ماده کې درج شوي حقیقي یا حکمي اشخاص دي.

۱۵- ضبط: د هغو وجوهو یا شتمنیو له مؤقتې ساتنې او یا مؤقتي کنترول څخه عبارت دی چې د محکمې د حکم په اساس د واکمن مقام په وسیله صورت مومي.

۱۶- شکمنه معامله: د دې قانون

های برجستهٔ احزاب سیاسی، کلیه اعضای خانوادههای اشخاص فوق و اشخاص دارای ارتباط نزدیك با آنها که روابط تجاری و مالی با چنین اشخاص دارند).

۱۲- جرایم اصلی: عبارت از اکتساب عواید حاصله از وجوه و دارائیهای مندرج جزء (۱۳) این ماده میباشد.

۱۳- عواید ناشی از جرایم: عبارت از وجوه و دارایی های است که بصورت مستقیم یا غیر مستقیم از اثر ارتکاب جرم حاصل گردیده باشد.

۱۴- مرجع راپور دهنده: اشخاص حقیقی یا حکمی مندرج مادهٔ چهارم این قانون میباشد.

۱۵- ضبط: عبارت از نگهداری مؤقتی و یا کنترول مؤقتی وجوه و داراییهای است که به اساس حکم محکمه توسط مقام ذیصلاح صورت میگیرد.

۱۶- معاملهٔ مشکوك: عبارت از

په شپارسمه ماده کې له درج شوې معاملې څخه عبارت ده.

معاملهٔ مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون می‌باشد.

د پیسو د تطهیر د جرم ارتکاب درییمه ماده:

شخص په لاندې مواردو کې د پیسو د تطهیر د جرم مرتکب ګڼل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې وجوه او شتمنۍ پټې کړي، شکل ته یې تغییر ورکړي، تسعیر، انتقال او یا یې له هېواد څخه بهر یا واردې کړي، پدې شرط چې علم ولري چې نوموړې شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د هغه عمل یا غفلت په نتیجه کې لاسته راغلې دي چې دغه عمل یا غفلت د هېواد په دننه یا په بهر کې یا یې د ارتکاب په ځای کې، د نافذو قوانینو مطابق جرم ګڼل شوی وي.

۲- په هغه صورت کې چې وجوه او شتمنۍ، پدې باندې له پوهېدو سره سره چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلې دي، تر لاسه، خپلې (تصاحب) او تر ګټې اخیستې لاندې ونیسي او یا د

جرم ارتکاب تطهیر پول

مادهٔ سوم:

شخص در موارد آتی مرتکب جرم تطهیر پول شناخته می‌شود:

۱- در صورتی‌که وجوه و دارایی‌ها را پنهان، تغییر شکل، تسعیر، انتقال و یا آنرا از کشور خارج و یا وارد نماید، مشروط براینکه علم داشته باشد که دارایی های متذکره بصورت مستقیم یا غیر مستقیم در نتیجهٔ عمل یا غفلتی حاصل گردیده باشد که این عمل یا غفلت در داخل یا خارج کشور یا محل ارتکاب آن مطابق قوانین نافذه جرم پنداشته شده باشد.

۲- در صورتی که وجوه و دارائی‌ها را با وصف آگاهی از اینکه طور مستقیم و یا غیر مستقیم از ارتکاب جرم به دست آمده است حصول، تصاحب و یا مورد استفاده قرار دهد

وجوهو او شتمنیو له جرمي منشاء څخه د نوموړي د خبرتیا په هکله دلایل موجود وي.

۳- پدې باندې د هغه سره سره یایې د خبرتیا په هکله د قوي دلایلو په موجودیت کې چې وجوه او شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلي، د وجوهو یا شتمنیو د تر لاسه کولو، ساتلو، استعمال او کنترول لپاره د آسانتیاوو د چمتو کولو په خاطر په مستقیمه توګه یا له شخص څخه په استازیتوب په یوه قرارداد یا معامله کې د شریکیدو یا داخلېدو په صورت کې.

۴- د دې مادې په (۱) جزء کې درج د وجوهو او شتمنیو پټول یایې شکل ته تغییر ورکول، د کتمان یا د شکل ماهیت، منبع، موقعیت، پلورنې له لاسه ورکولو، د انتقال او مالکیت په ګډون یا د وجوهو او شتمنیو په برخه کې هر ډول حقوقو ته تغییر ورکول دي. پوهېدنه او علم چې د دې مادې په (۱) جزء کې دجرم دمتشکله عنصر په توګه ګڼل کېږي په لاسته راغلو جرمي آثارو

و یا دلایلی مبنی بر آگاهی موصوف از منشاء جرمی وجوه و دارائی‌ها موجود باشد.

۳- در صورت شریك شدن یا داخل شدن در یك قرار داد یا معامله طور مستقیم و یا به نمایندگی از شخص به خاطر فراهم آوری تسهیلات جهت حصول، نگهداری، استعمال و کنترول وجوه و دارائی ها با وصف آگاهی و یا موجودیت دلائل قوی مبنی بر آگاهی وی براینکه وجوه و دارائی ها طور مستقیم و یا غیر مستقیم از ارتکاب جرم به دست آمده است.

۴- پنهان کردن یا تغییر شکل دادن وجوه و دارائی های مندرج جزء (۱) این ماده شامل کتمان یا تغییر شکل ماهیت، منبع، موقعیت، فروش از دست دادن، انتقال، مالکیت یا هرگونه حقوق در خصوص وجوه و دارائی های می‌باشد. آگاهی و علمی که در جزء (۱) این ماده به حیث عنصر متشکلۀ جرم پنداشته می-شود، به آثار و علائم جرمی به

او علایمو او د هغو د ماحول په حقایقو استناد کېږي.

دست آمده و حقایق ماحول آن استناد می‌گردد.

دوه یم فصل
د مؤسسو او حرفو له لارې د پیسو له تطهیر او د تروریزم له تمویلولو څخه مخنیوی

فصل دوم
جلوگیری از تطهیر پول و تمویل تروریزم از طریق مؤسسات و حرفه ها

د دې قانون تابع مؤسسې او حرفې
څلورمه ماده:
لاندې مؤسسې او حرفې چې وروسته تر دې د رپوټ ورکوونکو مراجعو په نوم یادېږي، پدې قانون کې د درج شوو تدبیرونو او مکلفیتونو تابع دي:
۱- د نمایندګیو او د غیر مقیمو مالي مؤسسو د نمایندګۍ د دفترونو په ګډون مالي مؤسسې.
۲- د افغانستان بانک، په هغه صورت کې چې د د افغانستان بانک د قانون مطابق بانکي تجارتي خدمتونه چمتو کړي.
۳- هغه اشخاص چې دطلا،قیمتي فلزاتو او کریمه احجارو په پېرودلو او پلورلو بوخت دي، په هغه صورت کې چې دنقدي معاملو

مؤسسات و حرفه های تابع این قانون
مادۀ چهارم:
مؤسسات و حرفه‌های ذیل که منبعد بنام مراجع راپور دهنده یاد می‌شوند، تابع تدابیر و مکلفیتهای مندرج این قانون می‌باشند:
۱- مؤسسات مالی بشمول نمایندگی ها و دفاتر نماینده گی مؤسسات مالی غیر مقیم.
۲- د افغانستان بانک در صورتی‌که مطابق قانون د افغانستان بانک خدمات بانکی تجارتی را فراهم نماید.
۳- اشخاصی که به خرید و فروش، طلا، فلزات قیمتی و احجار کریمه اشتغال دارند، در صورتی‌که حجم معاملۀ نقدی آنها

حجم يې له يو مليون افغانيو يايې دبهرنيو اسعار و له معادل سره برابر يا ور څخه زيات وي.

۴- حقوق پوه، د معاملو د لارښوونو خاوند، دحقوقو نور مسلکي اشخاص او يا محاسب چې په لاندې مواردو کې معاملې خپلو مشتريانو ته ترتيب يا اجراء کوي:

- د غير منقولو (عقاري) شتمنيو پېرودل او پلورل.

- د مشتريانو د پيسو، بهادارو سندونو او نورو شتمنيو اداره کول.

-د بانکي پس انداز حسابونو يا د بهادارو پانو د خدمتونو د چمتو کوونکو د حسابونو پرانيستل يا اداره کول.

-د شرکتونو د تأسيسولو، فعاليت يا اداري لپاره د لازمې پانګې برابرول.

- د حکمي اشخاصو او يا تجارتي مؤسسو تاسيسول،فعاليت او اداره کول او د هغو پېرودل او پلورل.

۵- د غير منقولو املاکو د معاملو لارښوونکی، تر هغو حدودو پورې چې د غيرمنقولو املاکو د پېردولو او پلورلو په اړوندو معاملو کې برابر و يا بيشتر از يك مليون افغانی يا معادل آن به ساير اسعار خارجی باشد.

۴- حقوقدان، مالك رهنمای معاملات، ساير اشخاص مسلکی حقوق و يا محاسب كه معاملات را در موارد ذيل برای مشتريان خود ترتيب و يا اجراء می‌نمايند:

- خريد و فروش دارايی غير منقول (عقاری).

- ادارۀ پول، اسناد بهادار يا ساير دارائی های مشتريان.

- افتتاح يا ادارۀ حسابات پس انداز بانکی يا حسابات فراهم کنندگان خدمات اوراق بهادار.

- فراهم نمودن سرمايۀ لازم برای تأسيس، فعاليت يا ادارۀ شرکت ها.

- تأسيس، فعاليت و ادارۀ اشخاص حکمی و يا مؤسسات تجارتی و خريد و فروش آنها.

۵- رهنمای معاملات املاك غير منقول تا حدوديكه در معاملات مربوط به خريد و فروش املاك غير منقول ذيدخل

ذیدخل وي.
۶- نور هغه مراجع یا فعالیتونه چې د افغانستان بانک په مقرراتو کې اتکل شویدي.

باشد.
۶- سایر مراجع و یا فعالیت های که در مقررات د افغانستان بانك پیشبینی گردیده است.

دریم فصل
په مالي معاملو کې شفافیت

فصل سوم
شفافیت در معاملات مالی

د مالي مؤسسو له لارې د وجوهو انتقالات او د وجوهو د الکترونیکي انتقالاتو د استوونکي په هکله معلومات

پنځمه ماده:

(۱) له بهر څخه د هېواد دننه ته د پیسو او بهادارو سندونو انتقال یایې عکس چې جمعاً د یو ملیون افغانیو یایې د بهرنیو اسعارو له معادل سره برابر یا ورڅخه زیات وي، د مجازو مالي مؤسسو یا د پیسو د انتقال د مجازو خدمتونو د برابرونکو له لارې صورت مومي.
(۲) مالي او د پیسو د انتقال د خدمتونو برابروونکي مؤسسه مکلفه ده د وجوهو د الکترونیکي انتقالاتو او د انتقالاتو د نورو ډولونو د استوونکي په هکله مؤثق معلومات برابر او وساتي.

(۲) هر گاه جرم مرتکبۀ مندرج فقره (۱) این ماده ناشی از غفلت والدین بوده و موجب ضرر مادی شود، والدین به جبران آن مکلف می گردند.

د سن تثبیت

شپږمه ماده:

(۱) دطفل سن دتحقیق او محاکمې په بهیر کې د هغه د تابعیت د تذکرې پربنسټ تثبیتېږي.

(۲) که چېرې طفل تذکره و نه لري یائي ظاهري حالت د تابعیت په

تثبیت سن

مادۀ ششم:

(۱) سن طفل در جریان تحقیق ومحاکمه به اساس تذکره تابعیت وی تثبیت می‌گردد.

(۲) هر گاه طفل تذکره نداشته باشد یا حالت ظاهری وی با سن

تذکره کې له درج شوي سن سره مطابقت و نه ښيي، په دي هکله د عدلي طب نظريه غوښتل کېږي.
(۳) په هغه مواردو کې چې د سن ټاکل د عدلي طب د ډاکتر يا بل طبيب د نظر پر بنسټ د قضيې د سوابقو او د طفل د ظاهري حالت سره مغاير وي، د سن د بيا ټاکنې موضوع، هغه طبي هيئت ته چې له دري تنو ډاکترانو څخه لږ نه وي، راجع کېږي.
(۴) د طفل دسن ټاکل او تثبټول د جرم د پيښېدو د نېټې په اعتبار صورت مومي.

منـدرج تـذکره تابعيـت عـدم مطابقت را نشان دهد، نظريه طب عدلی در زمينه خواسته ميشود.
(۳) در موارد يکه تعيين سن به اساس نظر داکتر طب عدلی و يا طبيب ديگر با سوابق قضيه و حـالات ظـاهری طفـل مغـاير باشد، موضـوع تعييـن مـجدد سـن بـه هيئت طبـی کـه کمتـر از سـه نفـر داکتـر نباشـد، راجع می‌گردد.
(۴) تعيين و تثبيت سن طفل به اعتبار تاريخ وقوع جرم صورت می‌گيرد.

مجازات
اوومه ماده:
د طفل مجازات حتی د اصلاح او روزنې په منظور په شديد ډول او له سپکاوي سره جواز نه لري.

مجازات
مادۀ هفتم:
مجازات طفل حتی بمنظور اصلاح و تربيت بطور شديد و حقارت آميز جواز ندارد.

د حجز د مودې حد اقل ټاکل
اتمه ماده:
دطفل حجز دهغه داصلاح اوروزنې دحل د وروستنی لارې په توګه ګڼل کېږي. محکمه د حجز د مودې په ټاکلو کې ددې قانون د حکمونو

تعيين حد اقل مدت حجز
مادۀ هشتم:
حجز طفل به عنوان آخرين راه حل اصلاح و تربيت آنها تلقی ميشود. محکمه در تعيين مدت حجز حد اقل مدت ممکنه آن را

مطابق د هغه دشوني (ممکنه) حداقل موده په پام کې نیسي.

مطابق احکام این قانون در نظر می‌گیرد.

دوه یم فصل
داطفالو دجرمونو کشف او تحقیق

فصل دوم
کشف و تحقیق جرایم اطفال

اختصاصي څارنوالي
نهمه ماده:

(۱) د اطفالو د جرمونو کشفول د پولیسو لخوا او څېړنه، تحقیق او تعقیب ئې د اطفالو د اختصاصي څارنوالی لخوا صورت مومي. پدې منظور د اطفالو اختصاصي څارنوالی په مرکز او ولایتونو کې جوړېږي.

(۲) د اطفالو اختصاصي څارنوالی د رئیس او مسلکي او اداري غړو څخه جوړه ده چې د اطفالو د اړونده جرمونو په هکله ددې قانون د حکمونو مطابق اجراآت کوي.

(۳) د اطفالو د اختصاصي څارنوالی مسلکي غړي په اړوند قانون کې ددرج شوو شرایطو دلرلو برسېره داطفالو په مسایلو کې د استعداد، مسلکي پوهې او خاصې تجربې لرونکی هم وي.

ثارنوال اختصاصی
مادۀ نهم:

(۱) کشف جرایم اطفال توسط پولیس و بررسی، تحقیق و تعقیب آن توسط ثارنوالی اختصاصی اطفال صورت میگیرد. بدین منظور ثارنوالی اختصاصی اطفال درمرکز و ولایات ایجاد می‌گردد.

(۲) ثارنوالی اختصاصی اطفال متشکل از رئیس و اعضای مسلکی و اداری میباشد که در مورد جرایم مربوط به اطفال مطابق احکام این قانون اجراآت می نمایند.

(۳) اعضای مسلکی ثارنوالی اختصاصی اطفال برعلاوه داشتن شرایط مندرج قانون مربوط دارای استعداد، آموزش مسلکی و تجربه خاص در مسایل اطفال نیز می‌باشند.

(۴) د اطفالو اختصاصي څارنوال نه شي کولای مستقیماً، د هغو اطفالو پر علیه چې د جرم مرتکب شوی وي، قانوني اقدامات پیل کړي، خو دا چې شخص یا کومه مرجع په دې هکله څارنوال ته لیکلی شکایت وړاندې کړي.

(۴) څارنوال اختصاصی اطفال نمیتواند مستقیماً اقدامات قانونی علیه اطفالیکه مرتکب جرم شده اند، آغاز نماید، مگر اینکه شخص یا مرجعی در این رابطه به څارنوال شکایت تحریری را ارایه نماید.

د نیولو حالات

لسمه ماده:

(۱)د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په هکله د علني شواهدو د موجودیت په صورت کې، پولیس واک لري چې طفل په یوله لاندې حالاتوکې و نیسي.

۱- د طفل د تیښتې د امکان په صورت کې.

۲- د جرم د اسنادو او شواهدو د له منځه تللو د خطر په صورت کې.

۳- د نوي جرم د تکرار د خطر دامکان په صورت کې.

(۲) له اتلس کلنۍ عمر څخه کم شخص ته لاس ترونی(ولچک) نه ور اچول کېږي.خو داچه د هغه د تېښتې د پېښېدو یا ځان یا نورو ته دزیان رسولو امکان موجود وي.

(۳) د اطفالو اختصاصي محکمه

حالات دستگیری

مادۀ دهم:

(۱) درصورت وجود شواهد علنی مبنی بر ارتکاب جرم جنحه یا جنایت، پولیس صلاحیت دارد طفل را در یکی از حالات ذیل دستگیر نماید:

۱- در صورت امکان خطر فرار طفل.

۲- درصورت خطر از بین رفتن اسناد و شواهد جرم.

۳- درصورت امکان خطر تکرار جرم جدید.

(۲) شخص کمتر از هجده سال دستبند (ولچک) زده نمی شوند، مگر اینکه امکان وقوع فرار یا صدمه زدن به خودشان یا دیگران موجود باشد.

(۳) محکمه اختصاصی اطفال

واک لري چې له محاکمې څخه دمخه د توقیف د حکم د صادرولو په وخت کې د طفل د توقیف کولو په عوض کې د حل نورې مناسبې لارې چارې مطالعه کړي.
(۴) تر توقیف لاندې اطفال له لویانو څخه جلا ساتل کېږي.

صلاحیت دارد، حین صدور حکم توقیف قبل از محاکمه، عوض توقیف نمودن طفل راه های حل مناسب دیگری را مطالعه نماید.
(۴) اطفال تحت توقیف جدا از بزرگسالان نگهداری می‌شوند.

د نیولو خبر

یوولسمه ماده:

(۱) پولیس مکلف دي د طفل د نیولو او د هغه د څارنې د ځای په هکله د نیولو له نېټې څخه په څلېرویشت ساعتونو کې د طفل قانوني ممثل او ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسو ته خبر ورکړي. په نومورې موده کې د نه خبر ورکولو په صورت کې پولیس مکلف دی د موضوع لیکلي رپوټ د ځنډ (تاخیر) دلایلو له وړاندې کولو سره اړوندې څارنوالۍ ته روښانه کړي. که چېرې پولیس د دلایلو په وړاندې کولو قادر نه وي، موضوع د عدلي تعقیب وړ ګڼل کېږي.
(۲) قانوني ممثل کولای شي د طفل له نیولو څخه وروسته پرته له

اطلاع دستگیری

مادۀ یازدهم:

(۱) پولیس مکلف است موضوع دستگیری و محل مراقبت طفل را در مدت بیست و چهار ساعت از زمان دستگیری به ممثل قانونی طفل و مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی اطلاع دهد، در صورت عدم اطلاع در مدت مذکور، پولیس مکلف است راپور کتبی موضوع را با ارائه دلایل تأخیر به څارنوالی مربوط توضیح نماید. هرگاه پولیس قادر به ارائه عذر معقول نباشد، موضوع قابل تعقیب عدلی پنداشته می‌شود.
(۲) ممثل قانونی میتواند بلا فاصله بعد از دستگیری طفل،

ځنډه، د ضمانت په قید سره د هغه د ایله کېدو غوښتنه وکړي. پولیس او څارنوال مکلف دي دځلېرویشت ساعتونو په موده کې د طفل د ایله کېدو د غوښتنې په هکله خپل تصمیم و نیسي او اعلام ئي کړي، د تصمیم د نه نیولو په صورت کې، قانوني ممثل کولای شي لوړ (مافوق) څارنوال ته شکایت وکړي.

(۳) څارنوال او قاضي کولای شي، طفل د ضمانت په قید سره له مالي تضمین پرته ایله کړي، خو دا چې د هغه حالت د توقیف غوښتنه وکړي.

(۴) قانوني ممثل کولای شي چې د توقیف شوي طفل ایله کېدل د ضمانت په قیدسره اویائي تمدېدول د تحقیق یامحاکمې په بهیر کې له محکمې څخه غوښتنه وکړي، په هغه صورت کې چې محکمه د طفل زیات توقیفېدل لازم و نه بولي، کولای شي چې له ضمانت څخه پرته دطفل د ایله کولو حکم صادر کړي.

رهائی وی را به قید ضمانت تقاضا نماید. پولیس و څارنوال مکلف است در مدت بیست و چهار ساعت در مورد درخواست رهائی طفل تصمیم خویش را اتخاذ و اعلام نماید. در صورت عدم اتخاذ تصمیم، ممثل قانونی می تواند، به څارنوال ما فوق شکایت نماید.

(۳) څارنوال و قاضی می‌توانند طفل را به قید ضمانت بدون تضمین مالی رها کنند، مگر اینکه حالت وی ایجاب توقیف را نماید.

(۴) ممثل قانونی میتواند رهائی طفل توقیف شده را به قید ضمانت یا تمدید آن را در طول جریان تحقیق یا محاکمه تقاضا نماید. در صورتی که محکمه توقیف بیشتر طفل را لازم نداند، میتواند حکم رهائی طفل را بدون ضمانت صادر نماید.

د ساتلو ځای
دوولسمه ماده:
نیول شوی مظنون طفل په یوه خاص ځای کې په مؤقت ډول تر توقیف لاندې نیول کېږي. د توقیف اداره مکلفه ده د تر توقیف لاندې طفل لپاره د هغه د سن او جنس د غوښتنې د په نظر کې نیولو سره ورته د ټولنیزو، روزنیزو، حرفوي، روحي او روغتیائي خدمتونو ته دلاس رسېدنې زمینه برابره کړي.

محل نگهداری
مادۀ دوازدهم:
طفل مظنون دستگیر شده در یک محل خاص مؤقتاً تحت توقیف قرار می‌گیرد. ادارۀ توقیف مکلف است برای طفل تحت توقیف زمینه دسترسی به خدمات اجتماعی، تعلیمی، حرفه ئی، روحی و صحی را با نظرداشت اقتضای سن و جنس وی مساعد سازد.

د محضر ترتیب
دیارلسمه ماده:
(۱) پولیس مکلف دي د کشف د نېټې څخه د څلېرویشت ساعتونو په موده کې هغه پانې چې د محضر او د مظنون طفل په اړوند د ټولو لازمو معلوماتو لرونکي دي، برابر او د اطفالو اختصاصي څارنوالۍ ته ئي د تحقیق د بشپړولو لپاره راجع کړي.
(۲) که چېرې د محضر او د اړوندو لازمو معلوماتو لرونکي ټولې پانې د څلېرویشت ساعتونو په موده کې بشپړې نه شي، د اطفالو اختصاصي څارنوال واک لري چې

ترتیب محضر
مادۀ سیزدهم:
(۱) پولیس مکلف است از تاریخ کشف در مدت بیست و چهار ساعت، اوراقی را که حاوی محضر و تمام معلومات لازم مربوط به طفل مظنون باشد، ترتیب و به څارنوالی اختصاصی اطفال جهت تکمیل تحقیق رجعت دهد.
(۲) در صورتی‌که اوراق حاوی محضر و تمام معلومات لازم مربوط در مدت بیست و چهار ساعت تکمیل شده نتواند، څارنوال اختصاصی اطفال

د پولیسو د لیکلې غوښتنې وروسته د پاڼو او لازمو معلوماتو د سپارلو موده د اته څلوېښت ساعتونو لپاره تمدیدېږي. همدارنګه څارنوال واک لري چې طفل د هغه قانوني ممثل ته وسپاري.

صلاحیت دارد، بعد از تقاضای کتبی پولیس میعاد تسلیمی اوراق و معلومات لازم را برای مدت چهل وهشت ساعت تمدید نماید. همچنان څارنوال صلاحیت دارد طفل را به ممثل قانونی وی تسلیم نماید.

د تحقیق د بشپړولو موده

څوارلسمه ماده:

(۱) د اطفالو اختصاصي څارنوال مکلف دی، ددوسیې د رسېدو له نېټې څخه وروسته تحقیق د یوې اونۍ په ترڅ کې بشپړ کړي. په هغه صورت کې چې تحقیق په نوموړې موده کې بشپړ نه شي، څارنوال مکلف دی چې له اړوندې محکمې څخه د نورو دریو اونیو لپاره د مودې تمدید بدل و غواړي.

د اطفالو محکمه مکلفه ده دځلېرویشتو ساعتونو په موده کې خپل تصمیم د توقیفولو یا نه توقیفولو په هکله ونیسي.

(۲) طفل یا دهغه قانوني ممثل یا مدافع وکیل کولای شي چې په هر وخت کې د محاکمې څخه دمخه د توقیف د حکم څخه محکمې ته

میعاد اکمال تحقیق

مادۀ چهار دهم:

(۱) څارنوال اختصاصی اطفال مکلف است تحقیق را بعداز مواصلت دوسیه درمدت یک هفته تکمیل نماید. درصورتیکه تحقیق درمدت مذکور تکمیل شده نتواند، څارنوال مکلف است تمدید مدت را برای سه هفته دیگر از محکمۀ مربوط مطالبه نماید.

محکمۀ اطفال مکلف است در مدت بیست و چهار ساعت تصمیم خویش را مبنی بر توقیف یا عدم آن ابلاغ نماید.

(۲) طفل یا ممثل قانونی یا وکیل مدافع وی میتواند در هر زمان از حکم توقیف قبل از محاکمه به محکمه شکایت

شکایت وکړي.

د دعوی دصورت د برابرولو موده
پنځلسمه ماده:
داطفالواختصاصی څارنوال مکلف دی چې د تحقیق له بشپړېدو او ددې قانون په اوولسمه ماده کې ددرج شوو معلوماتو د راټولولو وروسته د یوې اونۍ په موده کې د دعوی صورت برابر او رسماً ئې محکمې ته وړاندې کړي. په هغه صورت کې چې د دعوی د صورت وړاندې کول په نوموړې موده کې ممکنه نه شي، څارنوال کولای شي له اړوندې محکمې څخه د دریو اونیو لپاره د مودې تمدېدل و غواړي، په دې شرط چې طفل تر توقیف لاندې نه وي.

د دوسیې ساتل
شپاړسمه ماده:
د طفل د محاکمې لپاره د الزام د دلیلونو د نه موجودیت په صورت کې، څارنوال دوسیه ساتی او بهیر (جریان) د یوې اونۍ په موده کې، مجنی علیه او حق العبد مدعي ته ابلاغوي. حق العبد مدعي کولای

نماید.

میعاد ترتیب صورت دعوی
مادۀ پانزدهم:
څارنوال اختصاصی اطفال مکلف است، بعداز تکمیل تحقیق و جمع آوری سوابق مندرج مادۀ هفدهم این قانون در مدت یک هفته صورت دعوی را ترتیب و رسماً به محکمه ارایه نماید. درصورتیکه ارایۀ صورت دعوی در مدت متذکره ممکن نگردد، څارنوال می‌تواند از محکمه مربوط برای مدت سه هفته تقاضای تمدید را نماید، مشروط براینکه طفل تحت توقیف قرارنداشته باشد.

حفظ دوسیه
مادۀ شانزدهم:
در صورت عدم موجودیت دلایل الزام جهت محاکمه طفل، څارنوال دوسیه را حفظ و جریان را در مدت یک هفته برای مجنی علیه و مدعی حق العبد ابلاغ می نماید. مدعی حق العبد میتواند

شي دخپل زيان دجبران غوښتنليک اړوندې محکمې ته د دې برشو ورځو په موده کې وړاندې کړي.

در خواست جبران خساره خویش را به محکمه مدنی مربوط طی مدت سی روز تقدیم نماید.

د الزام د دليلونو د برابرولو لپاره معلومات

اووه لسمه ماده:

(۱) د اطفالو اختصاصي څارنوال مکلف دی د اطفالو د اړوندو جرمونو د تحقيق په وخت کې د الزام د دليلونو د برابرولو لپاره لاندې ټکې په نظر کې ونيسي:

۱- سن، د زېږېدنې ورځ، ميا شت او کال.

۲- د روحي سطحي پرمختيا.

۳- شخصيت او لياقت.

۴- د جرم د ارتکاب علتونه او انګېزې.

۵ - د جرم د ارتکاب په وخت کې د ښوونې سطح.

۶- د جرم د ارتکاب په وخت کې د ژوندانه د چاپېريال شرايط.

۷- د جرم شدت او خفت.

۸- جرمي سابقه.

۹- د جرم د راتکاب په وخت کې اوله هغه نه وروسته دسلوک ډول.

۱۰- د جرم ډول، شواهد، وسايل،

معلومات غرض تهیهٔ دلایل الزام

مادهٔ هفدهم:

(۱) څارنوال اختصاصی اطفال مکلف است حین تحقیق جرایم مربوط اطفال نکات ذیل را غرض تهیه دلایل الزام در نظر گیرد:

۱- سن، روز، ماه و سال تولد.

۲- سطح انکشاف روحی.

۳- شخصیت ولیاقت.

۴- علل و انگیزه های ارتکاب جرم.

۵- سطح تعلیمی حین ارتکاب جرم.

۶- شرایط محیط زندگی حین ارتکاب جرم.

۷- خفت وشدت جرم.

۸- سابقه جرمی.

۹- طرز سلوک حین ارتکاب جرم و بعد از آن.

۱۰- نوع، شواهد، وسائل،

قصد، زمان او مکان.
۱۱- زیانمن شخص ته د ور اووښتو زیانونو اندازه.
۱۲- د جرم د شریکانو، عاملینو او محرکینو شته والی.
۱۳- نور هغه حالتونه چې د جزاء په ټاکلو کې اغیزمن و ګڼل شي.
(۲) څارنوال مکلف دی د اطفالو د جرمونو د تحقیق او دهغو دقضیو د تثبیتولو په وخت کې له پولیسو، والدینو، مربي، ښوونکي، اهل خبره و او نورو هغو اشخاصو څخه چې د هغو په هکله خبرتیا لري، معلومات تر لاسه کړي.
(۳) څارنوال مکلف دی د تحقیق جزئیات او سوابق په محرمانه توګه وساتي، یوازې اړونده محاکم او دهغه مدافع وکیل کولای شي جرمي سوابقو ته لاس رسي ولري.

قصد، زمان و مکان جرم.
۱۱- میزان خطرات وارده به شخص متضرر.
۱۲- وجود شرکاء، عاملین و محرکین جرم.
۱۳- سایر حالاتی‌که در تعیین جزاء مؤثر پنداشته شود.
(۲) څارنوال مکلف است حین تحقیق جرایم اطفال و تثبیت قضایای آنها از پولیس، والدین، مربی، معلم، اهل خبره و سائر اشخاصی‌که راجع به آنها اطلاعات دارند، معلومات حاصل نماید.
(۳) څارنوال مکلف است سوابق و جزئیات تحقیق را به صورت محرمانه نگهداری نماید، صرف محاکم مربوط و وکیل مدافع وی می‌توانند به سوابق جرمی دسترسی داشته باشند.

اړونده مراجعو ته د تر اتلسو کلونو څخه زیات د تورن د قضیې راجع کول

اتلسمه ماده:

(۱) که چېرې د اطفالو څارنوال یا محکمې ته د تحقیق یا محاکمې له

ارجاع قضیهٔ متهم بلندتر از هجده سال به مراجع مربوط

مادهٔ هجدهم:

(۱) درصورتی‌که نزد څارنوال یا محکمهٔ اطفال بعداز شروع تحقیق

پیل څخه وروسته ثابته شي چې د تورن سن د جرم د ارتکاب په وخت کې له اتلسو کلونو څخه زیات وو، هغوی مکلف دي قضیه اړوندو مراجعو ته وسپاري.

(۲) که چېرې تورن ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي تصمیم قناعت ونه لري، کولای شي له لوړو مقاماتوڅخه استیناف غوښتونکی شي، لوړمقامات موضوع د شپږمې مادې په (۳) فقره کې درج شوي طبي هیئت ته سپاري او د وروستنۍ فیصلې صادرول ځنډول کېږي. که چېرې تورن تر توقیف لاندې وي، طبي هیئت مکلف دی د یوې اونۍ مودې په ترڅ کې خپل نظر وړاندې کړي.

یا محاکمه ثابت شود که سن متهم حین ارتکاب جرم بیشتر از هجده سال بوده، آنها مکلف اند قضیه را به مراجع مربوط آن محول نماید.

(۲) در صورتی‌که متهم به تصمیم مندرج فقره (۱) این ماده قناعت نداشته باشد، می تواند به مقامات فوقانی استیناف طلب گردد، مقامات فوقانی موضوع را به هیئت طبی مندرج فقره (۳) مادۀ ششم این قانون محول نموده و صدور فیصله نهائی معطل می گردد. هرگاه متهم تحت توقیف قرارداشته باشد، هیئت طبی مکلف است در مدت یک هفته، نظر خویشرا ارائه نماید.

د ساتنې د مؤقتو تدبیرونو نیول

نولسمه ماده:

(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه کولای شي د هغو تورنو اطفالو په هکله چې غیر عادي رفتار لري، د ځارنوال یا د هغه د قانوني ممثل په غوښتنه د ساتنې مؤقت تدبیرونه ونیسي.

(۲) په رواني ناروغیو اخته تورن

اتخاذ تدابیر مؤقت حفاظتی

مادۀ نزدهم:

(۱) محکمه اختصاصی اطفال می‌تواند، درمورد اطفال متهمیکه رفتار غیر عادی دارند، به اساس تقاضای څارنوال یا ممثل قانونی وی تدابیر مؤقت حفاظتی را اتخاذ نماید.

(۲) طفل متهم مصاب به

طفل د درملنې لپاره روانې روغتیائي مؤسسو ته ور پیژندل کېږي، په دې صورت کې په روغتیائي مؤسسه کې دهغه داوسېدو موده د طبي متخصصینو د سپارښتنې د په نظرکې نیولو سره د قاضي لخوا ټاکل کېږي.

امراض روانی، جهت تداوی به مؤسسات صحت روانی معرفی می گردد، درین صورت مدت اقامت وی در مؤسسه صحی از طرف قاضی با نظرداشت توصیه متخصصین طبی تعیین می‌شود.

قانوني ممثل ته د طفل سپارل

شلمه ماده:

(۱) د عقل او پوهې خاوند طفل چې د دولس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی، د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره تر حجز لاندې نه نیول کېږي، ځارنوال هغه د ځارنې لپاره قانوني ممثل یا خپلوانو ته د درجو له په پام کې نیولو او ضمانت اخیستلو سره سپارلی شي.

(۲) هغه طفل چې د دولس کلنۍ سن ئې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی، د جنحې د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره د اړوند ځارنوال په وړاندیز او د واکمنې محکمې له استیذان وروسته د هغه

سپردن طفل به ممثل قانونی

مادۀ بیستم:

(۱) طفل صاحب عقل و درایت که سن دوازده سالگی را تکمیل نکرده باشد، در صورت ارتکاب جرم جنحه یا جنایت جهت تکمیل تحقیق تحت حجز قرار داده نشده، ځارنوال وی را جهت مراقبت به ممثل قانونی یا اقارب با رعایت درجات و اخذ ضمانت سپرده می‌تواند.

(۲) طفلی‌که سن دوازده سالگی را تکمیل و هجده سالگی را تکمیل نکرده باشد، در صورت ارتکاب جرم جنحه جهت تکمیل تحقیق به پیشنهاد ځارنوال مربوط بعد از استیذان محکمه ذیصلاح به ممثل

قانوني ممثل يا خپلوانو ته د درجوله په پام کې نيولو او ضمانت اخيستلوسره سپارل کېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي اطفال، قانوني ممثل يا خپلوان و نه لري، دساتنې لپاره د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو يا نورو ټوونيزو او روزنيزو مؤسسو ته سپارل کېږي.

(۴) هغه طفل چې د دولس کلنۍ سن يې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی، د جنايت د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقيق د بشپړولو لپاره د اړوندې څارنوالۍ په وړاندیز او د واکمنې محکمې په استيذان د حجز لپاره د اصلاح او روزنې مرکزونو ته سپارل کېږي.

(۵) د اطفالو څارنوال مکلف دی، ددې قانون په (۳) فقره کې د درج شوي طفل پر عليه د قانوني تصميم له نيولو دمخه موضوع د اصلاح او روزنې له مرکزونو يا د ټولنيزو خدمتونو له اختصاصي مؤسسو سره شريکه کړي.

(۶) د اطفالو د اصلاح او رزونې مرکزونه او د اړونده ټولنيزو

قانونی یا اقارب شان با رعایت درجات و اخذ ضمانت سپرده می‌شوند.

(۳) هرگاه اطفال مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده، ممثل قانونی یا اقارب نداشته باشند، جهت مراقبت به مراکز اصلاح وتربیت اطفال یا سائر مؤسسات آموزشی و پرورشی تسلیم داده می‌شوند.

(۴) طفلی‌که سن دوازده سالگی را تکمیل و هجده سالگی را تکمیل نکرده باشند، در صورت ارتکاب جرم جنایت جهت تکمیل تحقیق به پیشنهاد څارنوالی مربوط و استیذان محکمهٔ ذیصلاح جهت حجز به مراکز اصلاح و تربیت اطفال سپرده می‌شوند.

(۵) څارنوال اطفال مکلف است قبل از اتخاذ تصمیم قانونی علیه طفل مندرج فقره (۳) این ماده، موضوع را با مراکز اصلاح و تربیت اطفال یا مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی مربوط در میان بگذارد.

(۶) مراکز اصلاح و تربیت اطفال و مؤسسات اختصاصی خدمات

خدمتونو مؤسسې مکلفې دي چې د طفل د ژوندانه د شرایطو، رفتار او سلوک په اړه بشپړ اضافی معلومات له وړاندیزونو سره یو ځای، اړونده څارنوالۍ او محکمې ته وړاندې کړي.

اجتماعی مربوط مکلف اند، معلومات مکمل اضافی را در مورد شرایط زندگی، رفتار وسلوک طفل توأم با پیشنهادات در زمینه به څارنوالی و محکمهٔ مربوط ارائه نمایند.

روغې جوړې ته سپارښتنه او هڅول

یوویشتمه ماده:

(۱) څارنوال کولی شي د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونه او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسې راوبلي ترڅو د طفل قانوني ممثل او زیانمن هغې روغې جوړې ته چې د قانون خلاف نه وي، سپارښتنه وکړي او وئې هڅوي، په دې شرط چې طفل د جنحې یا جنایت د جرم مرتکب شوي نه وي.په نورو مواردو کې څارنوال مکلف دی ددې قانون د څوارلسمې مادې د حکم مطابق، تحقیق بشپړ او دوسیه اړونده محکمې ته احاله کړي.

(۲) په روغې جوړې او د غرامت په ورکړه باندې د طفل د قانوني ممثل او زیانمن د موافقې په

توصیه و تشویق به مصالحه

مادهٔ بیست و یکم:

(۱) څارنوال می‌تواند آمرین مراکز اصلاح و تربیت اطفال و مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی را دعوت نماید تا ممثل قانونی طفل و متضرر را به مصالحه ایکه خلاف قانون نباشد، توصیه و تشویق نماید، مشروط براینکه طفل مرتکب جرم جنحه یا جنایت نگردیده باشد. درسائر موارد څارنوال مکلف است طبق حکم مادهٔ چهارد هم این قانون تحقیق را تکمیل و دوسیه را به محکمهٔ مربوط احاله نماید.

(۲) در صورت موافقت ممثل قانونی طفل و متضرر به مصالحه و پرداخت

صورت کې، څارنوال کولای شي د دوسیې په ساتلو (حفظ کولو) اقدام وکړي.

غرامت، څارنوال می‌تواند به حفظ دوسیه اقدام نماید.

د مدافع وکیل د لرلو حق

دوه ویشتمه ماده:

(۱) طفل د تحقیق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې د مدافع وکیل دلرلو او د ژباړونکي د غوښتنې حق لري. د مدافع وکیل یا ژباړونکي د استخدامولو په هکله د طفل دوالدینو یا د هغه د قانوني ممثل د مالي توان د نه لرلو په صورت کې، د اطفالو اختصاصي محکمه د دولت په لګښت طفل ته مدافع وکیل یا ژباړونکی مؤظف کوي.

(۲) د طفل قانوني ممثل، مدافع وکیل یا ئی ژباړونکی حق لري چې د قانوني اجراآتو په ټولو پړاوونو کې چې د څارنوال یا محکمې لخوا عملي کېږي، ګډون وکړي.

(۳) د تحقیق په وخت کې د طفل د قانوني ممثل نه ګډون، د تحقیق د بهیر خنډ نه ګرځي، خو دا چې څارنوال د هغه حضور حتمي و بولي.

حق داشتن وکیل مدافع

مادۀ بیست و دوم:

(۱) طفل در تمام مراحل تحقیق و محاکمه حق داشتن وکیل مدافع و مطالبه ترجمان را دارد. در صورت عدم توانانی مالی والدین و یا ممثل قانونی طفل مبنی بر استخدام وکیل مدافع یا ترجمان، محکمۀ اختصاصی اطفال، وکیل مدافع یا ترجمان رابه مصرف دولت برای طفل مؤظف می نماید.

(۲) ممثل قانونی، وکیل مدافع یا ترجمان طفل حق دارد از کلیه مراحل اجراآت قانونی ایکه توسط څارنوال یا محکمه عملی می گردد ،آگاه و در آن اشتراک نماید.

(۳) عدم اشتراک ممثل قانونی طفل حین تحقیق، مانع جریان تحقیق نمی گردد، مگر اینکه څارنوال حضور آن را حتمی بداند.

د قانوني ممثل د شکایت څېړل
درویشتمه ماده:
د طفل قانوني ممثل حق لري د تحقیق له بهیر څخه د معلوماتو له لاس ته راوړلو وروسته، لوړ څارنوال ته شکایت وکړي. لوړ څارنوال مکلف دی، شکایت په ښېرنې توګه و څېړي او په هکله ئې تصمیم و نیسي.

د فورموراتولول
څلېریشتمه ماده:
(۱) څارنوال مکلف دی د تورن طفل د نسبتي دوسیې د بشپړولو لپاره، هغه مخصوصې فورمې چې ددې قانون په اووه لسمه ماده کې درج شوي دقیق معلومات ولري، راتولې کړي.
(۲) په هغه صورت کې چې طفل له اتلس کلنۍ څخه دلوړ سن شخص سره په ګډه دجرم مرتکب شوي وي، دهغه پرعلیه قانوني اقدامات په جلا ډول ددې قانون دحکمونو مطابق صورت مومي.

بررسی شکایت ممثل قانونی
مادۀ بیست و سوم:
ممثل قانونی طفل حق دارد بعد از حصول معلومات از جریان تحقیق، به څارنوال فوقانی شکایت نماید. څارنوال فوقانی مکلف است، شکایت را طور عاجل بررسی نموده، در مورد تصمیم مقتضی اتخاذ نماید.

جمع آوری فورم ها
مادۀ بیست و چهارم:
(۱) څارنوال مکلف است غرض تکمیل دوسیۀ نسبتی طفل متهم فورمه های مخصوصی که حاوی معلومات دقیق مندرج مادۀ هفدهم این قانون میباشد، جمع آوری نماید.
(۲) درصورتی که طفل با شخص بالاتر از هجده سال مشترکاً مرتکب جرم شده باشد، اقدامات قانونی علیه وی به صورت مجزا طبق احکام این قانون صورت می گیرد.

د طفل احضارول

پنځه ویشتمه ماده:

(۱) تـورن طفـل د تحقیـق یـا محـاکمې لپـاره د هغـه د قـانوني ممثـل لـه لارې احضارېږي په هغـه صـورت کـې چې قـانوني ممثـل د احضارولو په وخت کې له طفل سره هملاري توب (همراهي) ونه کړي. د محکمې په حکم پنځه سوه افغـانۍ جریمه کېږي.

(۲) کـه چېـري طفـل د اصـلاح او روزنـي پـه مرکزونـو کـې تر توقیـف لاندې وي، د اړتیا په صورت کې د تحقیـق د بـشپړولو یـا محـاکمې لپـاره د هغـوی جلبـول د نومـوړو مرکزونو له لارې صورت مومي.

(۳) د طفل قانوني ممثل، د اطفالو د اصـــلاح او روزنـــې او نـــورو ښـــوونیزو او روزنیـــزو مؤســـسو مـسئولین مکلـف دي، د اړتیـا پـه صـورت کې هغـه طفـل چې د دوی ترځارنې یـا توقیـف لانـدې دی، د تحقیـق یـا محـاکمې د بـشپړولو لپـاره پـه ټاکلي وخـت کـې حاضـر کړي.

احضار طفل

مادۀ بیست و پنجم:

(۱) طفـل مـتهم جهـت تحقیـق یـــا محاکمـــه از طریـــق ممثـــل قـــانونی وی احـــضار مـی‌گـردد. در صـورتی‌کـه ممثـل قـانونی طفـل را حـین احـضار همراهـی نکنـد، بـه حکـم محکمـه مبلـغ پنجـصد افغـــانی جـــریمه می گردد.

(۲) هـر گـاه طفـل درمراکـز اصـلاح وتربیت اطفال تحت توقیف باشـد، در صـورت ضـرورت جهـت اکمـال تحقیق و یـا محاکمـه جلب آنهـا از طریـق مـــراکز مـــذکور صـــورت می‌گیرد.

(۳) ممثل قانونی طفل، مسئولین مراکـز اصـلاح و تربیـت اطفـال یـا ســـائر مؤســـسات آموزشـــی و پرورشـــی مکلـــف انـــد در صـورت ضـرورت طفلیکـه تحـت مراقبـت یـا توقیـف شـان قـرار دارد، جهـت اکـمال تحقیـق یـا محاکمـه در وقـت معینـه حاضـر نمایند.

درېيم فصل
د اطفالو د محاکمې ډول

اختصاصي محکمه
شپږ ویشتمه ماده:
(۱) د اطفالو د جرمونو څېړنه د اطفالو د اختصاصي محکمې لخوا صورت مومي. په دې منظور د ولایتونو په مرکزونو کې د اطفالو اختصاصي ابتدائیه محکمې جوړېږي.
(۲) د اطفالو اختصاصی ابتدائیه محکمه له رئیس، غړو او اداري کارکوونکو څخه جوړه ده.
(۳) داطفالو د اختصاصي محکمې قاضیان د محکمو د تشکیلاتو او واکونو د قانون په حکمونو کې د درج شوو شرایطو د لرلو برسېره د اطفالو دمحاکمې پەاړونده مسایلو پورې د استعداد، مسلکي ښوونې اوخاصې تجربې لرونکي هم وي.

د څېړنې پراوونه
اووه یشتمه ماده:
د عدالت د ښه تأمین په منظور له قانون څخه د سرغړونکو اطفالو اړوندې قضایاوې، په دریو پراوونو

فصل سوم
طرز محاکمۀ اطفال

محکمۀ اختصاصی
مادۀ بیست و ششم:
(۱) رسیدگی به جرایم اطفال توسط محکمۀ اختصاصی اطفال صورت می گیرد. بدین منظور در مراکز ولایات محاکم ابتدائیۀ اختصاصی اطفال ایجاد می گردد.
(۲) محکمۀ ابتدائیه اختصاصی اطفال متشکل از رئیس، اعضاء و کارمندان اداری می‌باشد.
(۳) قضات محکمۀ اختصاصی اطفال بر علاوه داشتن شرایط مندرج در قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم دارای استعداد، آموزش مسلکی و تجربۀ خاص در مسائل مربوط به محاکمۀ اطفال نیز می‌باشند.

مراحل رسیدگی
مادۀ بیست و هفتم:
به منظور تأمین بهتر عدالت، قضایای مربوط به اطفال متخلف از قانون، درسه مرحله (ابتدائیه،

(ابتدائیه، استیناف او فرجام) کې تر رسیدګۍ لاندې نیول کېږي.

استیناف و فرجام) مورد رسیدگی قرار می گیرد.

حوزوي واک
اته ویشتمه ماده:
(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه د اړونده ولایت د حوزې د اطفالو لخوا د ارتکاب شوي جرمونو رسیدګي کوي.
(۲) که چېرې دجرم دارتکاب ځای مشخص نه وي، موضوع دهغه محکمې لخوا چې طفل ئې په حوزه کې مېشت وي رسیدګي کېږي، د طفل داستوګنې د ځای د تثبیتېدو د نه امکان په صورت کې، موضوع د هغه محکمې لخوا چې طفل په هماغه حوزه کې نیول شوی یا توقیف شوی وي، رسیدګي کېږي.

صلاحیت حوزه وی
مادۀ بیست و هشتم:
(۱) محکمۀ اختصاصی اطفال جرایم مرتکبه توسط اطفال حوزۀ ولایت مربوط را رسیدگی می نماید.
(۲) هرگاه محل ارتکاب جرم مشخص نباشد، موضوع توسط محکمه ایکه طفل در آن حوزه اقامت دارد، مورد رسیدگی قرار می‌گیرد. در صورت عدم امکان تثبیت محل اقامت طفل، موضوع توسط محکمه ایکه طفل در آن حوزه دستگیر یا توقیف شده است، بررسی می گردد.

د رسیدګۍ وړ قضیې
نهه ویشتمه ماده:
د اطفالو اختصاصي محکمه ددې قانون د حکمونو مطابق لاندې قضیې چې په وړاندې ئې اقامه کېږي، رسیدګۍ کوي:
۱- د اطفالو جرمونه.
۲- د هغو اطفالو غیر عادي کړه

قضایای قابل رسیدگی
مادۀ بیست و نهم:
محکمۀ اختصاصی اطفال، قضایای ذیل را که مطابق احکام این قانون در پیشگاه آن اقامه میشود، رسیدگی می نماید:
۱- جرایم اطفال.
۲- رفتار غیر عادی اطفالیکه

وړه چې د والدینو یا هغه شخص چې پر نفس ئې ولایت لري او یا د مروجو روزنیزو تدبیرونو په نیولو سره د اصلاح وړ نه وي.
۳- د هغو اطفالو قضیې چې له خطر سره مخامخ وي او ساتنې او ملاتړ ته اړتیاو لري.

توسط والدین یا شخصی‌که بر نفس آنها حق ولایت دارند و یا با اتخاذ تدابیر مروج تربیوی، قابل اصلاح نه باشند.
۳- قضایای مربوط به اطفالیکه در معرض خطر قرار داشته و نیاز مند مواظبت و حمایت باشند.

د حکم د صادرېدو موده
دېرشمه ماده:
(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه دوسیه د ورسېدو له نېټې څخه په دري ورځو کې مطالعه کوي. په هغه صورت کې چې په دوسیه کې نیمګړتیاوې و لیدل شي، هغه د تحقیقاتو د بشپړولو او د نیمګړتیا وو د لیرې کولو لپاره د اطفالو اختصاصي څارنوالۍ ته مستردوي. څارنوال مکلف دی، پرته له ځنډه له موضوع څخه د تورن قانونی ممثل ته خبر ورکړي.
(۲) څارنوال مکلف دی د یوې اونۍ په موده کې د دوسیې نیمګړتیاوې لیرې او دوسیه بیا اړونده محکمې ته وسپاري.
(۳) د اطفالو اختصاصي محکمه مکلفه ده د دوسیې له بیا

میعاد صدور حکم
مادۀ سی ام:
(۱) محکمۀ اختصاصی اطفال دوسیه را از تاریخ مواصلت آن در مدت سه روز مطالعه می‌نماید. در صورتی‌که نواقص در دوسیه ملاحظه گردد، آن را غرض تکمیل تحقیقات و رفع نواقص به څارنوالی اختصاصی اطفال مسترد مینماید. څارنوال مکلف است بلافاصله از موضوع به ممثل قانونی متهم اطلاع دهد.
(۲) څارنوال مکلف است طی مدت یک هفته نواقص را رفع و دوسیه را مجدداً به محکمۀ مربوط احاله نماید.
(۳) محکمۀ اختصاصی اطفال مکلف است بعد از مواصلت

رسېدو وروسته د لسو ورځو په موده کې په دې هکله خپل حکم صادر کړي.

مجدد دوسیه در مدت ده روز حکم خود را در زمینه صادر نماید.

د لااجراء دوسیو د رپوټ ورکول

یودېرشمه ماده:

د اطفالو داختصاصی محکمې قضائی هیئت یا قاضیان مکلف دي، په هرو پنځلسو ورځو کې د لا اجراء دوسیو رپوټ له دلائلو سره ئې یو ځای دمحکمې رئیس ته وړاندی کړي. دمحکمې رئیس مکلف دی پدې هکله ډېر ژر لازم تدبیرونه و نیسي.

ارایهٔ گزارش دوسیه های لا اجراء

مادهٔ سی و یکم:

هیئت قضائی یا قضات محکمهٔ اختصاصی اطفال مکلف اند در هر پانزده روز گزارش دوسیه های لااجرأ را توأم با دلایل آن به رئیس محکمه ارائه نمایند. رئیس محکمه مکلف است هرچه زودتر تدابیر لازم را در زمینه اتخاذ نماید.

د څېړنې محرم والی

دوه دېرشمه ماده:

(۱) د اطفالو د سرغړونو څېړنه په پټه (سري) توګه او د حکم ابلاغ په هر حالت کې په علني توګه صورت مومي.

(۲) د اطفالو د محاکمې د بهیر د سندونوخپرول دشاهدانو د شهادت او د اهل خبره وو د نظر په شمول په ټولنیزو رسنیو کې جواز نلري.

(۳) د طفل د شخصیت په هکله د

محرمیت رسیدگی

مادهٔ سی و دوم:

(۱) رسیدگی به تخلفات قانونی اطفال طور سری و ابلاغ حکم در هر حالت به صورت علنی صورت می‌گیرد.

(۲) نشر اسناد جریان جلسات محاکمهٔ اطفال بشمول شهادت شهود و نظر اهل خبره در رسانه های جمعی جواز ندارد.

(۳) افشای معلومات در

معلوماتو افشاء کول او یا هغه اطلاعات چې د طفل د هویت په کشف کېدو باندې منجر شي، تر هېڅ عنوان لاندې جواز نه لري.
(۴) د محاکمې د غونډې بهیر ثبت او ساتل کېږي.

مورد شخصیت طفل و یا اطلاعاتی‌که منجر به کشف هویت طفل گردد، تحت هیچ عنوان جواز ندارد.
(۴) گزارش جریان جلسهٔ محاکمه ثبت ونگهداری می‌شود.

د فیصلې ابلاغ

دري دېرشمه ماده:

(۱) د اطفالو د اختصاصي محکمې قاضیان د طفل، شاهدانو، قانوني ممثل، ژارنوال، مدافع وکیل، د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسوکارکوونکو او د اهل خبره وو د نظریو له اورېدلو وروسته خپله فیصله د طفل په حضور کې ابلاغوي.
(۲) که چېرې محکمې ته ثابته شي چې د تر توقیف لاندې طفل پر علیه تورونه په ځای (وارد) نه دي، محکمه د هغه په ایله کولو باندې حکم کوي. دغه حکم د مجنی علیه او زیانمن د حق العبدي ادعا خنډ نه ګرځي. ژارنوال کولای شي د دغه حکم پر علیه د استیناف غوښتنه وکړي.
(۳) که چېرې د محاکمې په بهیر

ابلاغ فیصله

مادهٔ سی و سوم:

(۱) قضات محکمهٔ اختصاصی اطفال بعد از استماع اظهارات و استدلال طفل، شاهدان، ممثل قانونی، ژارنوال، وکیل مدافع، کارمندان مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی و نظریات اهل خبره، فیصله خویش را در حضور طفل ابلاغ می‌نماید.
(۲) هرگاه نزد محکمه ثابت گردد که اتهامات وارده علیه طفل تحت توقیف وارد نیست، محکمه به رهائی وی حکم مینماید. این حکم مانع ادعای حق العبدی مجنی علیه و متضرر نمی گردد. ژارنوال می تواند علیه این حکم استیناف خواهی نماید.
(۳) هرگاه موضوعات مورد بحث

کې د بحث وړ موضوع ګڼي طفل روحاً زیانمن کړي، محکمه د طفل په غیاب کې د محاکمې بهیر ته ادامه ورکولی شي، په دې شرط چې د محاکمې لنډ بهیر وروسته هغه ته توضیح کړي.

در جریان محاکمه، طفل را روحاً متضرر سازد، محکمه در غیاب طفل جلسهٔ محاکمه را ادامه داده میتواند، مشروط بر اینکه خلص جریان محاکمه را بعداً برای وی توضیح نماید.

د محاکمې په غونډو کې ګډون

څلور دېرشمه ماده:

(۱) طفل، قانوني ممثل، مدافع وکیل، حقوقي مساعد، شاهدان، قضائي هیئت، مجني علیه او څارنوال د محاکمې په غونډه کې ګډون کولای شي، که چېرې د قانوني ممثل حضور د طفل په مصلحت نه وي یا دمحاکمې دبهیر د اخلال موجب و ګرځي، محکمه کولای شي د محاکمې له غونډې څخه د هغه د ویستلو امر ورکړي.

(۲) محکمه کولای شي د طفل د روزنې او هوسایني په چارو کې مسلکي او اهل خبره وو اشخاصو ته اجازه ورکړي تر څو د محاکمې په غونډه کې ګډون وکړي.

(۳) محکمه نه شي کولای هېڅ شخص د طفل دروحي وضعیت د پرمختیا او د هغه د شخصیت او

اشتراک در جلسات محاکمه

مادهٔ سی و چهارم:

(۱) طفل، ممثل قانونی، وکیل مدافع، مساعد حقوقی، شاهدان، هیئت قضائی، مجنی علیه و څارنوال در جلسهٔ محاکمه شرکت کرده میتوانند. هرگاه حضور ممثل قانونی به مصلحت طفل نبوده یا موجب اخلال جریان محاکمه گردد، محکمه میتواند امر خروج وی را از جلسه محاکمه بدهد.

(۲) محکمه میتواند اشخاص مسلکی و اهل خبره در امور تربیه و رفاه طفل را غرض ریسرچ و مطالعه اجازه دهد تا در جلسه محاکمه شرکت ورزند.

(۳) محکمه نمیتواند هیچ شخص را از ادای شهادت مبنی بر ارائهٔ معلومات راجع

داستوګني د چاپېريال په هکله د معلوماتو د وړاندې کولو په اړه په محکمه کې د شهادت له ورکولو څخه منع کړي.

د تصميم نيول

پنځه دېرشمه ماده:

محکمه واک لري د تورن طفل په هکله د حالاتو د په نظر کې نيولو سره يو له لاندې تصميمونو څخه و نيسي:

۱- د ټولنيزو خدمتونو په تر سره کولو باندې مکلف کول.

۲- د ټولنيزو خدمتونو مؤسسو ته لېږل.

۳- د اخطار يي صادرول.

۴- د محاکمې ځنډول.

۵- د مجازاتو مشروط تعليقول.

۶- په کور کې حجزول.

۷- يو له والدينو يا هغه شخص ته ئې سپارل چې د هغه د سرپرستۍ حق لري.

۸- دتر حجز لاندې نيولو لپاره د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته لېږل.

به انکشاف وضعیت روحی طفل، شخصیت و محیط زیست وی در محکمه مانع شود.

اتخاذ تصمیم

مادۀ سی و پنجم:

محکمه صلاحیت دارد درمورد طفل متهم با نظرداشت حالات یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ نماید:

۱- مکلف نمودن به انجام خدمات اجتماعی.

۲- فرستادن به مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی.

۳- صدور اخطاریه.

۴- تعویق محاکمه.

۵- تعلیق مشروط مجازات.

۶- حجز در منزل.

۷- تسلیم نمودن به یکی از والدین یا شخصی‌که حق سرپرستی وی را دارد.

۸- اعزام به مراکز اصلاح و تربیت اطفال غرض تحت حجز قراردادن.

د حکم صادرولو په وخت کې د معلوماتو په پام کې نیول

شپږمه ماده:

د اطفالو د اختصاصي محکمې قاضیان مکلف دي د حکم د صادرولو په وخت کې ددې قانون په اووه لسمه ماده کې درج شوي ټکي په پام کې ونیسي.

رعایت معلومات حین صدور حکم

مادۀ سی و ششم:

قضات محکمۀ اختصاصی اطفال مکلف اند حین صدور حکم نکات مندرج مادۀ هفدهم این قانون را در نظر گیرند.

د لیکلې ژمنې اخیستل

اووه دېرشمه ماده:

(۱) که چېرې طفل دمحکمې د حکم په اثر، قانوني ممثل ته وسپارل شي، هغه مکلف دی د طفل د سلوک او چلند څخه خارنه وکړي او خارنوال په دې هکله لیکلې ژمنه اخلي.

(۲) که چېرې د طفل قانوني ممثل خپلې دندې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې ژمنې مطابق په صحیح صورت سره تر سره نه کړي، محکمه واک لري چې بل ممثل په مؤقت ډول و ټاکي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي حکمونه د طفل د اتلس کلنۍ سن په بشپړولو سره ساقطېږي.

اخذ تعهد کتبی

مادۀ سی و هفتم:

(۱) در صورتی‌که طفل بالاثر حکم محکمه به ممثل قانونی سپرده شود، وی مکلف است از حسن سلوک ورفتار طفل مراقبت نماید وخارنوال تعهد کتبی را در این زمینه اخذ می نماید.

(۲) هرگاه ممثل قانونی طفل وظایف خود را مطابق تعهد مندرج فقره (۱) این ماده بصورت درست ایفأ نه نماید، محکمه صلاحیت دارد ممثل دیگری را طور مؤقت تعیین نماید.

(۳) احکام مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده با تکمیل سن هجده سالگی طفل ساقط می‌گردد.

رواني روغتيائي مؤسسو ته د طفل ور پېژندل

اته دېرشمه ماده:

که چېرې طفل د قضيې دځېرنې په وخت کې غيرعادي په نظراشي، څارنوالي اومحکمه کولای شي د قرار په صادرولو هغه د تشخيص او درملنې لپاره اړوندو روانې روغتيائي مؤسسو ته وروپېژني.

معرفی طفل به مؤسسات صحت روانی

مادۀ سی و هشتم:

هرگاه طفل حین رسیدگی قضیه غیر عادی به نظر آید، څارنوالی و محکمه می‌توانند با صدور قرار، وی را جهت تشخیص و معالجه به مؤسسات مربوط صحت روانی معرفی نماید.

مجازات

نهه دېرشمه ماده:

(۱) د تورن طفل د جزا د ټاکلو په وخت کې لاندې مراتب په پام کې نيول کېږي:

۱- د هغه طفل مجازات چې د دولس کلنۍ سن ئې بشپړ او د شپاړس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی،د عين ارتکاب شوی جرم د حد اکثر د يو پر دريېمي (۳/۱) له مجازاتو څخه چې له اتلسو کلنو زيات، اشخاصو لپاره د جزاء په قانون کې اټکل شوي دي، زياتېدی نه شي.

۲- د هغه طفل مجازات چې د شپاړس کلنۍ سن ئې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ

مجازات

مادۀ سی و نهم:

(۱) حین تعیین جزای طفل متهم مراتب ذیل مد نظر گرفته می‌شود:

۱- مجازات طفلیکه سن دوازده سالگی را تکمیل و شانزده سالگی را تکمیل نکرده باشد، از یک سوم (۳/۱) حد اکثر مجازات که برای عین جرم ارتکاب شده توسط اشخاص بلند تر از سن هجده سالگی در قانون جزاء پیشبینی گردیده است، بیشتر بوده نمی‌تواند.

۲- مجازات طفلیکه سن شانزده سالگی را تکمیل و هجده سالگی را تکمیل نکرده باشد، از نصف

کړي، د عين جرم د حداکثر د نيمائي (۲/۱) له مجازاتو څخه چې له اتلسو کلنو زيات اشخاصو لپاره د جزاء په قانون کې اټکل شوي دي، زياتېدی نه شي.

۳- طفل د دوام حبس يا اعدام په مجازاتو باندې محکومېدای نه شي.

(۲) هغه موده چې طفل ئې په توقيف کې تېروي، د محکوم بها حجز له مودې څخه کمېږي.

(۲/۱) حد اکثر مجازاتی که برای عین جرم توسط اشخاص بلند تر از سن هجده سالگی در قانون جزاء پیشبینی گردیده است، بیشتر بوده نمی‌تواند.

۳- طفل به جزای حبس دوام یا اعدام محکوم شده نمی‌تواند.

(۲) مدتی را که طفل در توقیف به سر می‌برد از مدت حجز محکوم بها کاسته می‌شود.

تعليقي او تنفيذي حجز

څلوېښتمه ماده:

(۱) که چېرې د طفل د حجز موده له دوه کلونو څخه زياته نه وي، محکمه کولای شي، د محکوم بها حجز د مودې د تېرولو لپاره، هغه د ټولنيزو خدمتونو اختصاصي مؤسسو يوې ته ئې وروپېژني. برسېره پر دې محکمه کولای شي د لاندې قيودو په يوه يا له يوه څخه په زيات هم حکم وکړي:

- په ټاکلي وخت کې استوګنه.
- د ټاکلو کارونو ترسره کول.
- ښوونه او روزنه.
- په خاصو ځايونوکې ګرځېدل را

حجز تعلیقی و تنفیذی

مادۀ چهلم:

(۱) درصورتی‌که مدت حجز طفل از دوسال بیشتر نباشد، محکمه می تواند غرض سپری نمودن مدت حجز محکوم بها، وی را به یکی از مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی معرفی نماید. علاوتاً محکمه می تواند به یکی ویا بیشتر از یکی از قیودات آتی نیز حکم نماید:

- اقامت در اوقات معینه.
- انجام کارهای معینه.
- تعلیم وتربیه.
- گشت و گذار در محلات

ګرځېدل.
- د ټولنې بیا رغونې د پروګرامونو لرونکو مؤسسو په یوه کې دنوم ثبتول.
- عذر غوښتلو ته اړ کول او د زیانمن د زیان جبرانول.
- د طفل سپارل یو له والدینو یا هغه شخص ته چې قانوناً د هغه د سرپرستۍ حق لري، په دې صورت کې محکمه د طفل دساتنې په هکله لازم هدایتونه هم صادروي، دهغو په واسطه دژمنو او وجائبودنه ترسره کولو په صورت کې، محکمه کولای شي، طفل د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسو یوې ته ئې تسلیم کړي.
- د نه اصلاح کېدو په صورت کې، له اصلي جزاء څخه د ډېرو شدیدو مجازاتو د ټاکلو د اخطار صادرول.
(۲) کـه چېرې طفل د داسې جرم مرتکب شوی وي چې مجازات ئې له دوه کلونو حجز مودې څخه زیات او د دریو کلونو څخه لږوي، محکمه کولای شي د هغه په تعلیقی حجز حکم ورکړي، که چېرې طفل د حکم د تنفیذ د تعلیق په موده کې د بل جرم مرتکب و نه

خاص.
- ثبت نام در یکی از مؤسسات دارای پروگرام های احیای مجدد به جامعه.
- وادار ساختن به عذر خواهی و جبران خسارۀ متضرر.
- تسلیم نمودن طفل به یکی از والدین ویا شخصی‌که قانوناً حق سرپرستی وی را دارا باشد، درین صورت محکمه هدایات لازم را مبنی بر مواظبت طفل نیز صادر می نماید، درصورت عدم ایفای تعهدات ووجایب توسط آنها محکمه می تواند طفل را به یکی از مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی تسلیم نماید.
- درصورت اصلاح ناپذیری، صدور اخطار مبنی بر تعیین مجازات شدید تر از جزای اصلی.
(۲) درصورتیکه طفل مرتکب جرمی شده باشد که مجازات آن از دو سال حجز بیشتر و از سه سال کمتر باشد، محکمه می‌تواند به حجز تعلیقی وی حکم نماید. هرگاه طفل در خلال مدت تعلیق تنفیذ حکم مرتکب جرم دیگری نگردد، آثار حکم از

ګرځي، د حکم آثار له منځه ځي او داسې ګڼل کېږي چې اصلاً حکم ندی صادر شوی.

د تعلیق د تنفیذ د حکم لغوه کول د هغې محکمې لخوا صادر ېږي چې د تعلیق دتنفیذ حکم ئې صادر کړی وي. که چېرې طفل دتعلیق د مودې تر پای ته رسېدو دمخه په یوه ډول د تعلیق د حکم شرایط نقض او بیا د جرم مرتکب شي، محکمه کولای شي چې طفل د تعلیقي حجز د مجازاتو په اوږدو کې، د خیریه کارونو د تر سره کولو لپاره دټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو یوې ته ئې وروپېژني.

(۳) محکمه واک لري چې د دعوي له اورېدلو وروسته، د محاکمې بهیر د طفل د شخصیت د زیاتې څېړنې لپاره وروسته کړي، د محاکمې د وروسته والي موده حداکثر د جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې درې کاله او د جنحې په جرم کې یو کال ده. په دې صورت کې طفل د کتنو، درملنې او ملاتړ (حمایت) لپاره د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسو یوې

بین رفته، چنان پنداشته می‌شود که اصلاً حکم صادر نگردیده است.

الغای حکم تعلیق تنفیذ از طرف محکمهٔ صادر می‌گردد که حکم تعلیق تنفیذ را صادر نموده است. هرگاه طفل قبل از ختم میعاد تعلیق به نحوی شرایط حکم تعلیق را نقض ومجدداً مرتکب جرم گردد، محکمه می‌تواند طفل را در طول مدت مجازات حجز تعلیقی، تحت نظارت مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی غرض انجام کارهای خیریه معرفی نماید.

(۳) محکمه صلاحیت دارد بعد از استماع دعوی، جریان محاکمه را غرض بررسی بیشتر شخصیت طفل بتعویق اندازد. حد اکثر مدت تعویق محاکمه در صورت ارتکاب جرم جنایت سه سال و در جرم جنحه یک سال می‌باشد، در این صورت طفل به یکی از مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی غرض مشاهدات، معالجه و حمایت تسلیم

ته ئې تسلیمېږي.
محکمه واک لري چې د جرم د عواقبو د اصلاح او له زیانمن یا مجني علیه سره د مصالحې د هڅولو لپاره، نوراضافي مکلفیتونه هم په خپل حکم کې تصریح کړي. د محاکمې وروسته کول د هغه د شرایطو د بیا نقضولو په صورت کې، باطلېږي.

د تعلیقي حجز موده
یوځلوېښتمه ماده:
(۱) محکمه واک لري چې تنفیذي حکم د هغه طفل په هکله چې د جنحې د جرم مرتکب ګرځېدلی وي، تریو کال او د جنایت په هکله تر دریو کلونو پورې له شرط سره یا له هغه پرته تعلیق کړي.
(۲) د تعلیق حکم د خاصو روزنیزو یا ټولنیزو خدمتونو د پروګرامونو د نشتوالي په صورت کې نه شي صادرېدلی. د تعلیق حکم د محاکمې له پای ته رسېدو دمخه صادرېږي. څارنوال کولای شي د حکم له ابلاغ وروسته د درې ورځو په موده کې، د استیناف غوښتنه وکړي او د طفل قانوني ممثل له

می‌گردد.
محکمه صلاحیت دارد جهت اصلاح عواقب جرم و تشویق به مصالحه با متضرر یا مجنی علیه، مکلفیت های اضافی را نیز در حکم خویش تصریح نماید. تعویق محاکمه در صورت نقض مکرر شرایط آن باطل می‌گردد.

مدت حجز تعلیقی
مادۀ چهل و یکم:
(۱) محکمه صلاحیت دارد حکم تنفیذی را در مورد طفلیکه مرتکب جرم جنحه گردیده، الی مدت یکسال و درمورد جنایت الی مدت سه سال با قید شرط یا بدون آن تعلیق نماید.
(۲) حکم تعلیق در صورت عدم موجودیت پروگرام های تربیوی خاص یا خدمات اجتماعی، صادر شده نمی‌تواند. حکم تعلیق قبل از ختم محاکمه صادر می‌گردد. څارنوال می‌تواند بعد از ابلاغ حکم، در مدت سه روز استیناف خواهی نموده و ممثل قانونی طفل را از

موضوع څخه خبر کړي.

استیناف غوښتنه

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) محکوم علیه طفل، دهغه قانوني ممثل یا څارنوال کولای شي د ابتدائیه محکمی د فیصلې پرعلیه د استیناف غوښتنه وکړي.

(۲) د استیناف غوښتنې واکمنه مرجع، د استیناف محکمې ریاست دی.

د استیناف غوښتنې غوښتنلیک د حکم د صادروونکې محکمې د تحریراتو دفتر یا د استیناف محکمې د تحریراتو دفتر ته د یوویشت ورځو په موده کې تسلیمیږي. دغه موده د لاندې حالاتو په پام کې نیولو سره محاسبه کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې محکمې د فیصلې متن او د هغه دلایل د محاکمې د جلسې په پای او د تورن طفل یا دهغه د مدافع وکیل په حضور کې لوستلی وي.

۲- په هغه صورت کې چې محکمې د حکم د صادرېدو دلایل له حکم سره یوځای نه وي لوستلي موضوع مطلع سازد.

استیناف طلبی

مادۀ چهل و دوم:

(۱) طفل محکوم علیه، ممثل قانونی وی یا څارنوال می‌تواند علیه فیصلۀ محکمۀ ابتدائیه، استیناف طلبی نماید.

(۲) مرجع با صلاحیت استیناف خواهی، ریاست محکمه استیناف می‌باشد.

درخواست استیناف خواهی، به دفتر تحریرات محکمۀ صادر کنندۀ حکم یا به دفتر تحریرات محکمه استیناف مربوط در مدت بیست ویک روز تسلیم داده می‌شود. این مدت با در نظر داشت حالات ذیل محاسبه می‌گردد:

۱- در صورتی‌که محکمه متن فیصله و دلایل آن را در ختم جلسه محاکمه و در حضور طفل متهم و یا وکیل مدافع وی قرائت نموده باشد.

۲- در صورتی‌که محکمه دلایل اصدار حکم را با حکم یکجا قرائت نه نموده و به طفل متهم یا

او تورن طفل یا د هغه مدافع وکیل ته ئې بیا ابلاغ کړي، په دې حالت کې د پیل موده د دوه ہمې ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په عین فیصلې کې له یوه طفل څخه زیات محاکمه شوی وي، د مودې پیل د وروستنې ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کېږي.

(۳) د نه قناعت په صورت کې، طفل، د هغه قانوني ممثل یا څارنوال کولاي شي د صادرېدو له نېټې څخه د یوویشت ورځو په موده کې د اطفالو د اختصاصې محکمې د فیصلې پر علیه د استیناف غوښتنه وکړي او له موضوع څخه مقابل لوري ته خبر ورکړي.

(۴) طفل نه شي کولاي د قانوني ممثل له موافقي پرته د خپلې استیناف غوښتنې له حق څخه تیر شي.

(۵) که چیرې طفل یا د هغه قانوني ممثل د محکمې د صادري شوي فیصلې پرعلیه استیناف غوښتنه وکړي، د لوړې محکمې په فیصله کې درج شوې جزاء د ابتدائیه وکیل مدافع وی مجدداً ابلاغ نماید، در این حالت آغاز میعاد از تاریخ ابلاغیه دوم محاسبه می‌گردد.

۳- در صورتی‌که در عین فیصله بیشتر از یک طفل محاکمه گردیده باشد، آغاز میعاد از تاریخ آخرین ابلاغیه محاسبه میگردد.

(۳) در صورت عدم قناعت، طفل، ممثل قانونی وی و یا څارنوال می تواند در مدت بیست و یک روز از تاریخ صدور، علیهٔ فیصله محکمهٔ اختصاصی اطفال استیناف طلبی نموده و از موضوع جانب مقابل را مطلع سازد.

(۴) طفل نمی تواند بدون موافقت ممثل قانونی از حق استیناف خواهی انصراف ورزد.

(۵) درصورتی‌که طفل یا ممثل قانونی وی علیهٔ فیصلهٔ صادرهٔ محکمهٔ، استیناف خواهی کند، جزای مندرج فیصلهٔ محکمهٔ فوقانی شدیدتر از

محکمې له فیصلې څخه سختېدلی نه شي.
(۶) دنه قناعت په صورت کې طفل، دهغه قانوني ممثل یا څارنوال کولای شي د صادرېدوله نېټې څخه د دېرشو ورځو په موده کې د استیناف د محکمې د فیصلې پرعلیه له سترې محکمې څخه فرجام غوښتنه وکړي.د فرجام غوښتنې غوښتنلیک د حکم صادروونکې محکمې د تحریراتو دفتر یا د سترې محکمې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته تسلیم ورکول کېږي.

فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیه بوده نمی‌تواند.
(۶) در صورت عدم قناعت، طفل، ممثل قانونی وی یا څارنوال، می تواند در مدت سی روز از تاریخ صدور علیهٔ فیصلهٔ محکمهٔ استیناف به ستره محکمه فرجام خواهی نماید. درخواست فرجام خواهی به دفتر تحریرات محکمهٔ استیناف صادر کنندهٔ حکم یا به دفتر تحریرات دیوان مربوط ستره محکمه تسلیم داده می‌شود.

څلورم فصل
د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو او دټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو دندې

فصل چهارم
وظایف مراکز اصلاح وتربیت اطفال و مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی

د رپوټ وړاندې کول

دري څلوېښتمه ماده:
د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکزونه او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسې مکلفې دي چې د دوی د ترحجز لاندې اطفالو د مجازاتو د تطبیق په وخت کې،په

ارایهٔ گزارش

مادهٔ چهل و سوم:
ادارات مراکز اصلاح و تربیت اطفال و مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی مکلف اند، حین تطبیق مجازات اطفال تحت حجز شان، در هر

هـرو دریـو میاشـتوکې او یـا دغوښتنې پـه وخـت کـې اړونـدې څـارنوالۍ او محکمـې تـه رپـوټ وړاندې کړي. د اطفالو اختصاصي څارنـوال او قاضـي لږترلـره پـه میاشت کې یوځل د ترحجز لاندې اطفالو له ځای څخه لیدنه کوي.

سـه مـاه و یـا عندالمطالبـه بـه څـارنوالی و محکمـۀ مربـوط گـزارش ارائـه نماینـد. څارنـوال و قاضـی اختـصاصی اطفـال حـداقل مـاه یکبـار از محـل تحـت حجـز اطـفال دیدن می نماید.

د حکم له تطبیق څخه څارنه څلورڅلوېښتمه ماده:

د ټـولنیزو خـدمتونو اختـصاصي مؤسسی مکلفې دي چې د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د حجز د حکـم او نـورو هغـو لارښـوونو لـه تطبیـق څخـه چـې پـه دې هکلـه د محکمـې لخـوا صـادر شـوي وي، څارنـه وکـړي او د طفـل د اصـلاح کېـدو پـه هکلـه رپـوټ پـه هرودریـو میاشـتو کـې او یـا د قاضـي د دستور مطابق اړوندې محکمې تـه وړاندې کړي.

مراقبت از تطبیق حکم مادۀ چهل و چهارم:

مؤسـسات اختـصاصی خـدمات اجتمـاعی مکلـف انـد از تطبیـق حکـم حجـز در مراکـز اصـلاح و تـرتیب اطفـال و سـایر هدایاتیکـه از طـرف محکمـۀ اختـصاصی اطفـال در زمینـه صـادر گردیـده اسـت، مراقبـت نمـوده وگزارشـی مبنـی بـر اصـلاح پـذیری طفـل را درهـر سـه مـاه یـا طبـق دسـتور قاضـی، بـه محکمـۀ مربـوط ارایـه نمایند.

د اصلاحي پروګرامونو نوې کتنه پنځه څلوېښتمه ماده:

د طفـل قـانوني ممثـل، د اطفـالو د اصلاح او روزنې د مرکز رئیس یا د ټـولنیزو خـدمتونو د اختـصاصي

تجدید نظر پروگرام های اصلاحی مادۀ چهل و پنجم:

ممثـل قـانونی طفـل، رئـیس مرکـز اصـلاح و تربیـت اطـفال یـا رئـیس مؤسـسۀ اختـصاصی خـدمات

مؤسسې رئیس چې طفل ورسره ترحجز لاندې دی، کولای شي هروخت د اطفالو د اختصاصي محکمې څخه پر اصلاحي پروګرامونو یا نورو سپارښت شوو تدبیرونو باندې د نوې کتنې غوښتنه وکړي.

اجتماعی که طفل نزد آنها تحت حجز قرار دارد، می‌توانند هر زمان از محکمه اختصاصی اطفال تقاضای تجدید نظر پروگرام های اصلاحی یا تدابیر توصیه شدهٔ دیگر را نمایند.

په ترحجزلاندې ځایونوکې لیدنه
شپږم څلوېښتمه ماده:
د طفل قانوني ممثل حق لري چې له هغه سره په ترحجز لاندې ځایونو کې لیدنه وکړي، په دې شرط چې د هغه ځایونو مقررات رعایت شي.

ملاقات در محلات تحت حجز
مادهٔ چهل و ششم:
ممثل قانونی طفل حق دارد وی را درمحلات تحت حجز ملاقات نماید، مشروط براینکه مقررات آن محلات رعایت گردد.

پنځم فصل
د غیرعادي چلند او سلوک لرونکو اطفالو سره د چلند ډول

فصل پنجم
طرز برخورد با اطفال دارای روش و سلوک غیر عادی

د حقایقو وړاندې کول
اووه څلوېښتمه ماده:
(۱) که چېرې طفل غیرعادي چلند له ځانه وښیي، د اطفالو اختصاصي څارنوال یا د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسې کولای شي د موضوع حقایق اړوندې محکمې ته وړاندې

ارایهٔ حقایق
مادهٔ چهل و هفتم:
(۱) هرگاه طفل رفتار غیر عادی از خود نشان بدهد، څارنوال اختصاصی اطفال، ممثل قانونی یا مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی می‌توانند حقایق موضوع را به محکمهٔ مربوط ارائه

کړي.
(۲) د اطفالو اختصاصي محکمه ددې مادې د(۱) فقرې د حکم له په پام کې نیولو سره، د طفل د شخصیت په هکله معلومات ددې قانون په اووه لسمه ماده کې ددرج شوو اړوندو معلوماتو په ګډون، بشپړوي او یو له لاندې تصمیمونو څخه نیسي:
۱- د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسې په یوې کې د هغه د تسلیمولو په هکله د هدایت صادرول.
۲- د دولتي روزنیزو یا روغتیائي مؤسسو په یوه کې د هغه د شاملولو په هکله د هدایت صادرول.

نمایند.
(۲) محکمهٔ اختصاصی اطفال با رعایت حکم فقره (۱) این ماده معلومات لازم به شمول معلومات مربوط مندرج مادهٔ هفدهم این قانون را در مورد شخصیت طفل تکمیل نموده ویکی از تصامیم ذیل را اتخاذ می نماید:
۱- صدور هدایت مبنی بر تسلیم نمودن وی در یکی از مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی.
۲- صدور هدایت مبنی بر شامل نمودن وی در یکی از مؤسسات تربیوی یا صحی دولتی.

د محکمې تصمیم
اته څلوېښتمه ماده:
(۱) د اطفالو د اختصاصي محکمې قضائي هیئت ددې قانون د اووه څلوېښتمې مادې په (۲) فقره کې درج شوي تصمیمونه د طفل یا د هغه د قانوني ممثل په حضور کې د څارنوال د نظر له په پام کې نیولو سره په سري جلسې

تصمیم محکمه
مادهٔ چهل و هشتم:
(۱) هیئت قضائی محکمهٔ اختصاصی اطفال تصامیم مندرج فقره (۲) مادهٔ چهل و هفتم این قانون را با حضور داشت طفل یا ممثل قانونی وی بانظرداشت نظر څارنوال در جلسهٔ سری اتخاذ

کې نیسي.
(۲) کـه چېـرې محکمـه د ټـولنیزو خـدمتونو د اختـصاصي مؤسـسو یوې ته د طفل د تسلیمولوپه هکله تصمیم ونیسي، په دې صورت کې د طفل د ښوونې، مسلکي روزنې، استخدام، د بیکارۍ په ساحو کې د بوختیـا او روغتیـایي درملنې د جزئیـاتو او شـرایطو شـرح هـم پـه تصمیم کې په پام کې نیول کېږي.
(۳) د اطفـالو د ټـولنیزو خـدمتونو اختـصاصي مؤسسه مکلفه ده چې د طفـل د سـلوک او چلنـد څارنـه وکـړي او ټولنیز عـادي ژوندانـه تـه دطفل د بیاورتګ په منظور لازمې آسـانتیاوې برابـرې کـړي او پـه دې هکلـه د طفـل لـه کـورنۍ سـره دوامداره تماسونه تأمین کړي او له موضوع څخه اړوندې محکمې ته د طفل د اصلاح کېدو او د سپارښت شـوو دسـتورونو د تطبیـق پـه اړه وخت په وخت رپوټ وړاندې کړي.
(۴) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسه کولای شي، لازمې نظریي او وړاندیزونـه د محکمـې پـه حکـم کې د جزئي تعدیلاتو د راوستلو په هکله چې د طفل په اصلاح کېدو

می‌نماید.
(۲) هرگاه محکمه تصمیم مبنی بر تسلیم نمودن طفل را بـه یکی از مؤسـسات اختـصاصی خـدمات اجتمـاعی اتخـاذ نمایـد، در ایـن صـورت شـرح جزئیـات و شـرایط تعلیم، تربیـه مسلکی، استخدام، مـشغولیت در سـاحات بیکـاری وتداوی صحی طفل نیز در تصمیم مد نظر گرفته می‌شود.
(۳) مؤسسه اختـصاصی خدمات اجتمـاعی مکلـف اسـت سـلوک ورفتـــار طفـــل را مراقبـــت و تـسهیلات لازم را بـــه بمنظـــور برگشت طفـل بـه زنـدگی عـادی اجتماعی فراهم نموده و درزمینه تماس های دوامدار را با فامیل طفـل تـأمین و از موضـوع وقتـاً فوقتـاً گزارشـی مبنـی براصـلاح پـذیری طفـل و تطبیـق دسـاتیر توصیه شده را بـه محکمۀ مربوط ارائه نماید.
(۴) مؤسسه اختـصاصی خـدمات اجتمـاعی مـی‌توانـد نظریـات و پیشنهادات لازم مبنی برتعدیلات جزئـی در حکـم محکمـه کـه در اصـلاح پـذیری و بازگـشت

او ټولنې ته په بیا ورتګ کې اغیزمن واقع شي، محکمې ته وړاندې کړي.

مجدد طفل به جامعه مؤثر واقع گردد، به محکمه ارائه نماید.

د آسانتیا وو برابرول

نهه څلوېښتمه ماده:

(۱) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسه مکلفه ده چې له کورنۍ او چاپېریال سره ئې د طفل د لیدنو کتنو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.

(۲) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسه مکلفه ده چې د طفل په هکله د محکمې د سپارښت شوو دستورونو له تطبیقېدو څخه ځارنه وکړي او په هره میاشت یا د غوښتنې په وخت کې د اطفالو اختصاصي محکمې ته رپوټ وړاندې کړي.

فراهم آوری تسهیلات

مادۀ چهل و نهم:

